

۱۰مه گڼه

# قضاء

## شرعي -قضائي- حقوقي

د افغانستان اسلامي امارت
د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه)

د دعوی د اثبات په وسایلو کې د احنافو خصوصیات

په شریعت کې د قضاء حکمتونه

څلورم کال، لسمه ګڼه (محرم الحرام، صفر المظفر او ربیع الأول) ۱۴۴۷ هـ ق/ ۱۴۰۴ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

شرعي- قضائي - حقوقي
د افغانستان اسلامي امارت د سترې
محکمې درې میاشتنۍ مجله

څلورم کال،
لسمه ګڼه ( محرم الحرام، صفرالمظفر او ربیع الأول ) ۱٤٤۷ هـ ق/ ۱٤۰٤ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه    خپروونکی: د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**کتنپلاوی**

شیخ محمد قاسم «راسخ»
مفتي عبدالرشید «سعید»
مفتي عبدالرحمن«عزیزي»
مولوي حمدالله«محمدي»
حافظ مولوي عبدالولي «محمود»

**مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»**

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان
د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳٦۱_۲۳۰۲۲٦۳
برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com
ویب سایټ: www.supreme court.gov.af

# لړلیک


1 سرمقاله
اداره

3 د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته
مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني

5 امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه)
مفتي محمد «ګل سعید»

19 په شریعت کې د قضاء حکمتونه
مفتي رحمٰن الله «القاسمي»

26 د دعوی د اثبات په وسایلو کې د احنافو خصوصیات
مولوي ذبیح الله «سیلاب»

40 غلا او مسائل یې
مولوي عبدالکریم «الکریمي»

48 د سترې محکمې د ۱۴۴۶ هـ ق کـــال لاسته راوړنې
اداره

# په اسلامي نظام کې قضاء

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلوه والسلام على سيد المرسلين محمد و على آله و اصحابه اجمعين اما بعد:

قال الله تعالى:

«وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ»[1]

ژباړه: نو کله چې د خلکو په منځ کې پرېکړه کوئ، په عدالت سره يې وکړئ.

و قال رسول الله (صلى‌الله عليه وسلم) : «إذا حكم الحاكم فاجتهد ثم أصاب فله أجران، وإذا حكم فاجتهد ثم أخطأ فله أجر»[2]

ژباړه: کله چې حاکم يا قاضي اجتهاد وکړي او پرېکړه وکړي، که چېرته حق ته ورسېد؛ نو د ده لپاره دوه اجرونه دي (يو اجر د دې لپاره چې حق ته ورسېد او يو اجر د ده د اجتهاد لپاره دی) او که يې اجتهاد او حکم وکړ او خطا شو؛ نو د ده لپاره يو اجر دی (د ده د اجتهاد لپاره دی).

دغه راز رسول الله (صلى‌الله عليه وسلم) فرمايي: «لا حسد إلا في اثنين: رجل آتاه الله مالا فسلطه على هلكته في الحق، ورجل آتاه الله حكمة فهو يقضي بها ويعلمها».[3]

ژباړه: حسد نشته مگر په دوو شيانو کې، يو هغه کس ته چې الله (جل‌جلاله) مال ورکړی وي او هغه يې په حق لاره کې مصرف کړي او يو هغه شخص ته چې الله (جل‌جلاله) علم او پوهه ورکړې وي او د خلکو په منځ کې پرېکړې کوي او خلکو ته پوهاوی ورکوي.

قضاء چې ارزښت او مهموالی يې له نوم څخه ښکاري د اسلامي نظام هغه مهمه برخه ده چې د اسلامي قلمرو په داخل کې د ټولو ژونديو موجوداتو په ځانگړې توگه انسانانو حقونه تأمينوي، د دوی ترمنځ عدالت راولي او د اسلامي نظام د قضاء (محاکمو) د مسؤولينو او منسوبينو د اخلاص او صداقت (د اسلامي احکامو په رڼا کې د دوسيو په اړه د پرېکړو صادرولو) په پايله کې په ټولنه کې بشپړ حقوقي، فکري او ټولنيز ثبات او ارامي رامنځته کوي، د مظلوم لاس‌نيوی کوي، د ظالم د ظلم مخه نيسي او په ټوله کې له ظالمانو، زورواکو او نورو هغو کسانو چې ځان ورته تر نورو غوره او معتبر ښکاري؛ څخه د ظلم کولو، زورواکۍ او تکبر جرئت اخلي؛ ځکه د اسلام په تاريخ کې د اسلامي قضاء (محاکمو) مرکزونه (کاري دفترونه) يوازيني هغه ادرسونه دي چې په کې امير او عام وگړي له توپير پرته په مساوي ډول حاضرېږي، يو ډول خبرې يې اورېدل کېږي او د قضاء مسؤولين (قاضيان، مفتيان، محررين او اداري کارکوونکي) ورسره يو شان چلند کوي.

په اسلامي نظام کې د دغه ډول قضاء ښځي ډېر مثالونه شته چې قاضي په کې د مسلمانانو له امير او يو عام وگړي سره نه يوازې يوشان چلند کړی؛ بلکې  شواهدو د نه موجوديت په صورت کې يې په ډېر جرئت د عام وگړي په گټه فيصله صادره کړې ده؛ دلته يې يوازې دوې بېلگې راوړو:

د خلفای راشدينو په زمانه کې شريح (رضي‌الله عنه) ته چې د وخت د قاضي په حيث يې دنده ترسره کوله د اسلام د څلورم خليفه حضرت علي (کرم الله وجهه) دعوی راغله، چې پر

---

۱- النساء سورت ۵۸.

۲- متفق عليه

۳- متفق عليه

یوه یهودي یې د نېزې دعوی درلوده، یهودي منکر و او ویل یې: نېزه زما ده؛ خو دا چې حضرت علي (رضي‌الله عنه) مدعي و او په اسلامي شریعت کې شاهدان په مدعي دي، قاضي شریح (رضي‌الله عنه) حضرت علي (کرم الله وجهه) ته د شاهد وړاندې کولو وویل، هغه وویل: زما شاهد حضرت حسن (رضي‌الله عنه) دی؛ خو د وخت قاضي یې ځکه دغه شاهد رد کړ چې اسلامي قضاء کې د زوی شاهدي د قبول وړ نه ده او حضرت علي (رضي‌الله عنه) بل شاهد نه درلود؛ شریح (رضي‌الله عنه) له قسم ورکولو وروسته د یهودي په حق کې فیصله وکړه؛ یهودي چې کله د اسلام مبارک دین د قاضي عدالت ولید خپل وجدان یې ملامت کړ، د شهادت کلمه یې وویله او د حضرت علي (کرم الله وجهه) په حق یې اقرار وکړ، چې نېزه د همده ده؛ خو دا چې یهودي مسلمان شو نو حضرت علي (کرم الله وجهه) له نېزې سره سره یو آس هم د جهاد لپاره ورکړ.[1]

دغه راز امام سیوطي (رحمه الله) په تاریخ الخلفاء کې یوه واقعه بیان کړې چې نمیرالمدني (رحمه‌الله) حکایت کوي چې ابو جعفر المنصور مدینې منورې ته راغی او محمد بن عمران الطلحي (رحمه‌الله) قاضي و، یو چا په ابو جعفر المنصور دعوه وکړه، نمیرالمدني (رحمه‌الله) وایي، دا چې زه د محکمې محرر وم؛ نو قاضي صاحب راته وویل: ابو جعفرالمنصور ته جلب پاڼه ولیکه او خپله یې ور وړه، ربیع چې د مسلمانانو د خلیفه سکرتر و، جلب پاڼه یې د مسلمانانو له خلیفه سره شریکه کړه او خلکو ته یې وویل: امیرالمؤمنین وایي چې زه قاضي صاحب جلب کړی یم، یوازې ورځمه.

کله چې د قضاء مجلس ته راغی، قاضي په خپل ځای ناست و او له ځایه پورته نشو، د خلکو دعوه یې واورېده او په همدې ناسته کې یې د امیرالمؤمنین ابوجعفر المنصور په خلاف حکم وکړ، کله چې د قضاء ناسته پای ته ورسېده، ابوجعفرالمنصور ورته وویل: [جزاک الله تعالی عن دینک أحسن الجزاء، و قد أمرت لک بعشرة الاف دینار...][2]

دا د اسلامي عدالت او شرعي قضاء دوې کوچنۍ بېلګې وې؛ خو په اصل کې د اسلام له ظهور او قضاء له تأسیس راهیسې د مسلمانو قاضیانو هره پرېکړه د اسلامي قضاء د تاریخ یو زرین باب بلل کېدای شي، اسلام یوازینی دین دی چې له ظهور سره جوخت یې د انساني ټولنې د هر وګړي حقوق خوندي کړل، یوه داسې ټولنه یې جوړه کړه چې هېڅوک په کې پر هېڅ وګړي د ظلم یا د هغه د حق خوړلو جرئت نشي کولای؛ ځکه پوهېږي چې د اسلامي نظام مهم ارګان به یې د منکراتو په صورت کې مجازات کوي.

د قضاء ارزښت او درانه مسؤولیت ته په کتو د اسلامي نظام زعیم او اړوند نور مسؤولین هڅه کوي چې په محاکمو کې داسې کسان په دندو وګماري چې حق حقدار ته د سپارلو په برخه کې له هېڅا وېره او ډار ونه لري، د قضاء برخې مسلکي وي، پاک لمنی (پرهېزګار) وي، زغم ولري (د مدعي او مدعی علیه دوسیه او د دوی خبرې په پوره زغم او حوصله واوري) او له اهل علم (پوهې له خاوندانو) سره مشوره کوونکي وي.

**قدرمنو لوستونکو!** د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست هڅه کړې چې تل په څېر په خپله دې مهمه چاپي خپرونه (د قضاء مجلې ۱۰مه ګڼه) کې چې هرو درېیو میاشتو کې یو ځل چاپېږي؛ پر ځینو مهمو لیکنو او مقالو لکه: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته ۱۰مه برخه، امام اعظم ابوحنیفه (رحمة‌الله علیه)، په شریعت کې د قضاء حکمتونه او د دعوی د اثبات په وسایلو کې د احنافو خصوصیات (ځانګړنې) سربېره د سترې محکمې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د مهمو لاسته راوړنو خلاصه راپور هم ځای پر ځای کړی دی، هیله ده چې مجله له لوستلو وروسته په مناسب ځای کې وساتئ؛ ځکه مجله کې د قرآنکریم مبارک آیاتونه او د اسلام د ستر لارښوود نبي‌کریم (صلی‌الله علیه وسلم) مبارک احادیث موجود دي.

**په درنښت**

۱- حکمة التشریع وفلسفته للشیخ علي أحمدالجرجاوي، [ج۲، ص ۱۰۲]

۲- تاریخ الخلفاء للامام السیوطي [ص ۲٦٦، بتغیر یسیر.]

# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

لسمه برخه

## د راشده خلافـــــــــت په دوره کې قضاء

لیکوال: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم «حقاني»[1]
ژباړن: مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني [2]

**د امیرالمؤمنین عثمان ؓ په دوره کې قضاء:**

پېژندګلوي: ابو عمر، عثمان د عفان، هغه د ابي العاص، هغه د امیه، هغه د عبد شمس او هغه د عبد مناف زوی دی، چې د هجرت د ۲۴ کال په لومړیو کې بیعت ورسره وشو او په ۳۵ هجري کال د ذوالحجې په ۱۲مه نېټه د جمعې په ورځ د ۹۰ کلنو په عمر شهید کړل شو، چې د خلافت ټوله موده یې دوولس ورځې کم ۱۲ کاله وه.

**د عثمان ؓ په دوره کې د قضاء څرنګوالی:**

د عثمان ؓ په دوره کې قضائي سیستم د عمر ؓ په ترتیب روان و؛ ځکه عمر ؓ د الله په توفیق او خپل ځانګړې نبوغت سره وتوانېد چې د اسلامي دولت لپاره قضائي سیستم جوړ کړي، چې معلوم اصول او قوانین یې ورته وټاکل؛ نو امیرالمؤمنین عثمان ؓ هم د قاضیانو په ټاکلو، معاش، قضائي اختصاص، د قاضیانو ځانګړتیاوو، شرایطو، د قضائي احکامو د سرچینو او هغه دلایلو په پېژندنه کې چې قاضي پرې اعتماد کوي، د عمر ؓ له قضائي سیستم څخه استفاده وکړه.

**قاضیانو او والیانو ته د عثمان ؓ لیک:**

عثمان ؓ مسؤولینو ته لیکونه لېږلي، چې په هغوی کې یې مسؤولینو ته د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او له ولس سره د انصاف او حقي پرېکړو ترغیب وو، چې له جملې څخه یې په یوه لیک کې داسې راغلي دي:

اما بعد، الله تعالی دا مخلوقات په حق پیدا کړي دي؛ نو له حق پرته بل څه نه مني، حق ترلاسه او ور رسوئ، همدارنګه د امانت خیال ساتئ، تل وفاء پرې کوئ او اول امانت ماتونکی مه کېږئ؛ ځکه بیا به د راتلونکو ټولو امانت ماتونکو سره شریک وګڼل شئ، همدارنګه د وفاء خیال ساتئ، پر یتیمانو او هغه کسانو چې ترون ورسره شوی ظلم مه کوئ؛ ځکه الله تعالی د ظالمانو دښمن دی.( مجموعة الوثائق السیاسة،ص:۵۲۸)

**د قضاء لپاره کور (محکمه) ځانګړی کول:**

په نبوي همدارنګه د ابوبکر او عمر (رضي‌الله عنهما) په دورو کې د قضاء لپاره ځانګړی ځای نه و؛ ځکه دعوی کمې وې، نو قاضیانو به زیاتره وخت دعوې اورېدل او پرېکړې په مسجد، خپل کور او یا په عامو ځایونو کې کول.

او د عثمان ؓ د خلافت په دوره کې د قضاء لپاره کور ځانګړی شو، تر څو د قضاء لپاره ځای معلوم شي او همدارنګه مسجد له شور، غوغا او بې ګټې خبرو څخه وساتل شي؛ نو عثمان ؓ لومړنی کس دی چې په مدینه منوره کې یې د قضاء لپاره کور ځانګړی کړ، چې بیا دا کار ورځ په ورځ پراخېده؛ خو دا کار ددې معنی نه درلوده چې قاضیان له دې منعه شول چې په مسجد او کور کې به ساده دعوې هم نه اوري؛ مګر اصلي خبره دا ده چې رسمي او اساسي د قضاء مجلس به دغه ځانګړي د قضاء کور (محکمه) کې ترسره کېدلو.

---

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

۲- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس



**په قضائي چارو کې د عثمان ﵁ مشورې:**

عثمان ﵁ به په قضائي چارو کې زیاتې مشورې اخیستې، چې په دې اړه د عمر بن عثمان بن عبدالرحمن بن سعید روایت دی، چې وایي: ماته زما نیکه خبر راکړ، چې ویل یې: ما عثمان بن عفان ﵁ په مسجد کې ولید چې دوه دعوه کوونکي ورته راغلل؛ یوه ته یې وویل: ولاړ شه، علي ﵁ راوله او بل ته یې وویل: ته طلحه بن عبید الله، زبیر او عبدالرحمن (رضي‌الله عنهم) راوله، کله چې هغوی راغلل، کښېناستل، دغه مهال عثمان هغه دوو دعوه کوونکو ته وویل: خبرې وکړئ، بیا یې هغوی ته مخ راوګرځاوه او ورته وویل: ماته مشوره راکړئ؛ که چېرې به هغوی دده د رایي موافق خبره وکړه، ده به پرېکړه لاسلیک کړه او که به یې مخالف نظر ورکړ، بیا به یې څېړنه پکې وکړه.

**د شرعي احکامو په تطبیق کې د عثمان ﵁ سختوالی:**

عثمان ﵁ به پر خپلوانو، بېګانه، ښه او بد سړي ټولو شرعي احکام تطبیقول، په دې اړه حضین بن منذر ابي اساسان وایي: زه عثمان بن عفان ته ورغلم، چې دغه وخت کې ولید ورته راوستل شو، چې د سهار لمونځ یې دوه رکعته کړی و او بیا یې وویل: آیا نور یې هم درته زیات کړم؟ نو دوو کسانو پر ده شاهدي ادا کړه چې یو حمران و، وویل چې ده شراب څښلي دي او هغه دوهم نفر وویل، ما ولیدلو چې قئ یې وکړ؛ نو عثمان ﵁ وویل: چې هغه تر هغه پورې قئ نه دی کړی، تر څو یې چې شراب نه وي څښلي، علي ﵁ ته یې وویل: ولاړ شه او په دُره یې ووهه، علي ﵁ حسن ﵁ ته وویل: ته ولاړ شه او په دُره یې ووهه، څرنګه چې هغه غوسه ښکارېدلو؛ نو حسن ﵁ وویل: څوک چې ددې تودوخې مسؤولیت په غاړه اخلي، هغه به یې مسؤول وي.

بیا یې عبدالله بن جعفر ته وویل: ولاړ شه او په دُره یې ووهه، نو هغه هم په دُورې وهل شروع کړل او علي ﵁ شمېرل، تر هغې چې (۴۰) درو ته ورسېد؛ نو په دغه وخت کې یې وویل: نور بس دي او ویې وویل: نبي کریم ﷺ څلوېښت دُرې وهل کړي، ابو بکر هم په څلوېښتو او عمر بیا اتیا دُرې وهل کړي، چې دا هر یو سنت دي او زما دا څلوېښت خوښ دي.

نو له دې څخه د حق په تطبیق کې د عثمان ﵁ جدیت معلومېږي، چې د الله د رضاء لپاره د هېڅا له ملامتۍ څخه نه ډارېدلو؛ ځکه دغه ولید بن عقبه یې د مور لخوا ورور هم و.

**د عثمان ﵁ ځیرکتیا:**

دده له ځانګړتیاوو څخه یو له حکمت څخه ډکه ځیرکتیا ګڼل کېږي، چې یو نفر عثمان﵁ ته راغی، عثمان﵁ هغه ته وویل: ماته له تاسو څخه یو څوک راځي، چې زنا یې په سترګو کې ښکاري، هغه کس وویل: آیا له پیغمبر ﷺ وروسته هم وحیې شته؟ عثمان وویل: نه؛ بلکې دا رښتینې ځیرکتیا ده.

همدارنګه دده له ځیرکتیا څخه یو بل دا دی: کله چې به د ده د وژلو پلان جوړ شو، نو حتمي به ده یا ځان ژغورلو او یا به یې جګړه ختموله، تر څو د مسلمانانو ترمنځ جګړه ونه غځېږي، نو اخیر یې خپل مرګ خوښ کړ له دې امله چې مسلمانان په جګړه بوخت نه شي.( الطرق الحکمیة،ص:۷۹)

# امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه)

## لومړۍ برخه

لیکنه: مفتي محمد ګل سعید[1]

امام ابو حنیفة النعمان (رحمة الله علیه ) کابلي الاصل، چې په خلکو کې د امام اعظم په نوم سره مشهور دی، د ثابت الخزاز زوی، د زوطی لمسی، د ماه کړوسی، د اهل سنت او جماعت له څلورو امامانو څخه یو ستر امام او د اسلام مشهور تشریعي «حنفي مذهب» مؤسس دی، چې دا مذهب تر اوسه د ده په نامه یادېږي او په دنیا کې تر نیمو زیات مسلمانان په همدې مذهب دي. خراسان ته لا د مسلمانانو د راتلو پنځوس کاله تېر شوي نه وو، چې په کوفه کې ددې هېواد یو کس سترګې نړۍ ته وغړولې او په خلکو یې د فقهې رڼا خپره کړه. دا کس هماغه اصلي خراساني امام اعظم ابوحنیفه نعمان بن ثابت بن زوطی دی، چې د یو زرو څو سوه کالو په اوږدو کې د ځمکې پر مخ د میلیونونو مسلمانانو مذهبي امام دی. د تاریخ په پاڼو کې د کابل بلل شوی دی، چې د اسلام په لومړیو کې یې د کورنۍ مشران کوفې ته تللي وو. ځینې تاریخ پوهان لیکي، چې امام ابوحنیفه د پروان ولایت د خواجه سیاران یا د استرغچ د کلي و، چې کورنۍ یې بیا له کابله کوفې ته تللې ده. مرتضٰی لیکي: «امام اعظم ابوحنیفه نعمان بن ثابت

۱- دیني عالم او لیکوال

کابلي استرغچي کوفي ...».[1]

**لومړنی ژوند او زده کړې:**

د امام اعظم رحمة الله علیه د اصل په باب په ډېرو تاریخي ماخذونو، تذکرو او مناقبو کې راغلي دي، چې نوموړی اصلاً د کابل دی.[2] د امام اعظم (رحمة الله علیه) نیکه «زوطی» (د لومړي حرف په پېښن او د دریم حرف په زور باندې) د کابل د پروان ولایت (پروان هغه وخت بېل ولایت نه و) د خواجه سیاران یا د استرغچ د کلي و، چې له کابله بیا کوفې ته تللی دی؛ خو د ده د تګ په تړاو دوه روایتونه شته، یو دا چې تر اسلام راوړلو وروسته په خپل شوق د اسلام د پېشوایانو د لیدلو لپاره یې کوفې ته چې د اسلامي خدمت مرکز و، هجرت کړی دی او بل دا چې وایي د مسلمانانو له خوا د کابل د فتحې په وخت کې د تیم الله بن ثعلبه د قبیلې د یو چا لاس ته ورغلی او د مریې په توګه یې له ځانه سره بېولی و؛ خو ابوبکر خطیب په خپل کتاب (تاریخ بغداد) کې لیکي چې اسماعیل د حماد زوی او د امام اعظم رحمة الله علیه لمسی و، ویلي یې چې: «زما په خدای قسم دی، چې زموږ کورنۍ ته هېڅ وخت

۱ - حدیقة الاقالیم، ص ۴۰۰.

۲ - امام اعظم رحمة الله علیه په اصل کې د کابل او د هغه د اصل په باب په ډېرو تاریخي ماخذونو، تذکرو او مناقبو کې راغلي دي چې مشهور یې دادي: الخیرات الحسان في مناقب الامام الاعظم ابو حنیفه النعمان، د حجاز د مفتي علامه ابن حجر الهیتمی تالیف، چې په ۹۷۳ هـ کې مړ دی. مناقب الامام ابو حنیفه، د ابو الموید الموفق المکي تالیف چې په ۵۱۸ هـ کې مړ دی. مناقب ابي حنیفه، د ابن البزاز الحنفي الکردي چې په ۸۲۷ هـ کې مړ دی. الدر المنظم في مناقب الامام الاعظم، د نوح افندي چې په ۱۰۷۰ هـ کې مړ دی. د دې کتاب خطي نسخه د مصر د الازهر د کتابتون په ۳۳۸ لمبر کې قید دی. العقود الجماد في مناقب ابي حنیفه نعمان، د صالح دمشقي چې خطي نسخه یې د مصر د الازهر په کتابتون کې شته. وګ: لغتنامه: د دهخدا تالیف ا - ر ۴۳۹ مخ. سکینة الفضلا: ۱۲ مخ.

مریتوب لاره نه ده موندلې، نیکه مې په ۸۰ هـ کال کې زېږېدلی او غور نیکه مې ثابت په کوچنیوالي کې د علي بن ابي طالب (کرم الله وجهه) په حضور مشرف شوی او حضرت علي (کرم الله وجهه) ورته د خیر دعاء کړې ده.

شیخ ابو زهره په خپل کتاب ابوحنیفه کې لیکي: ممکنه ده چې زوطي د ده د سیمې د فتحې په وخت کې بندي شوی وي؛ خو څنګه چې د خپلې سیمې له لویانو څخه و، نو مسلمانانو به د ده سره د یوه بندي رویه نه وي کړې، څو چې له یوې خوا یې د ده عزت او پت پرځای کړی وي او له بلې خوا یې د ده د خپلوانو علاقه او مینه ځانونو ته ور اړولې وي؛ ځکه نو د ده کړوسی حق لري چې د مریتوب له نسبته خپله کورنۍ مبرا وګڼي.

ثابت څلوېښت کلن و چې امام اعظم رحمة الله علیه په ۶۸۰ - ۶۹۹ ز کال کې په کوفه کې وزېږېد او څو چې زلمیتوب ته رسېده، د پلار غوندې د خز(وریښمو) په سوداګرۍ بوخت و؛ خو په زلمیتوب کې یې د علومو زده کړې ته ملا وتړله. ځینې مؤرخین لیکي چې امام اعظم رحمة الله علیه په کوچنیوالي کې ځکه د علومو د زده کړې څخه لیرې پاتې و، چې د ده د کوچنیوالي زمانه یوه خورا له آشوبه ډکه زمانه وه او د حجاج بن یوسف له لاسه چې د خلیفه عبد الملک له خوا د عراق حکمران و، هرې خوا ته د ظلم اور بل او د ستم قیامت جوړ و، په تېره بیا چې د حجاج سفاکي او بې باکي زیاتره د علم او فضل خاوندانو ته متوجه وه، څو چې په ۹۵هـ ق کې حجاج مړ شو او په ۹۶ هـ ق کال کې ولید بن عبدالملک هم له دنیا ولاړ او د هغه پرځای سلیمان بن عبد الملک خلیفه شو، چې د مؤرخینو په قول د بني اُمیه له خورا ښو خلیفه ګانو څخه و او د ده د خلافت په دوره کې درس او تدریس بیا ځلانده رونق پیدا کړ او د خلکو زیاته پاملرنه بیا د علومو او فنونو خوا ته واوښته.

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په (۸۰) هجري کې چې له (۶۹۹) ز کال سره سمون خوري د عراق په پلازمېنه (دارالحکومت)کوفه کې زوکړی و. د امام عالي مقام د نېکمرغې زوکړې په وخت کې عبد الملک بن مروان اموي خلیفه و او حجاج بن یوسف ثقفي د عراق والي و.

امام اعظم رحمة الله علیه د خپل ژوندون دوه پنځوس کلونه د بنو امیه د واکمنۍ په موده کې او پاتې اتلس کلونه یې د عباسیانو د واکمنۍ په دوره کې تېر کړي دي. د حجاج بن یوسف د وفات په موده (۹۵هـ) کال کې امام صاحب پینځلس کلن و.[1] د عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه د خلافت په زمانه کې امام اعظم (رحمة الله علیه) کروړلی زلمی و او پر عراق باندې د اموي ظالمو والیانو یزید بن المهلب، خالد بن عبدالله القسري او نصربن سیار طوفاني حکومتي دورې د امام صاحب رحمة الله علیه د سترګو په وړاندې تېر شوي و او په عراق کې د اموي خلافت د وروستي والي، یزید بن عمرو ابن هبیرة په درې کلن استبدادي حکومت کې په خپله امام صاحب رحمة الله علیه هم د تېري او ظلم نښه ګرځول شوی و.

کوفه په هغه وخت کې د علم او پوهې مرکز و، امام صاحب به تل د فقهاوو او سپېڅلیو حدیثو حلقو ته حاضرېده. د قرآن کریم له حفظ څخه وروسته امام صاحب په کوفه کې له خپل پلار سره د سوداګرۍ په کارو بار بوخت و. له سوداګرۍ سره سره به یې د وخت د پوهانو مجلسونو ته هم سر ور ښکاره کاوه. کله چې د امام عامر الشعبي نظر پرې ولګېده، نو هغه ورته نصیحت وکړ تر څو علم او پوهې ته مخه کړي؛ ځکه امام عامر په امام صاحب رحمة الله علیه کې د نبوغ، ذکاوت، د عقل پوخوالي او د هوښیارۍ نښې له ورایه ولیدې؛ ځکه یې دې ته وهڅاوه تر څو د پوهانو دیني حلقو ته مخه کړي، هماغه و چې امام صاحب د نوموړي عالم خبره سر په سترګو ومنله او خپله د سوداګرۍ کار

---

۱- تاریخ افغانستان بعد از اسلام، دویم جلد، ۷۹۴مخ.

یې پرېښود او د علم ترلاسه کولو په نیت یې سفرونه وکړل. امام صاحب سپېڅلي احادیث روایت کړل، عربي ژبه او ادب یې پوره زده کړل او وروسته له دې یې د کلام علم ترلاسه کړ، تر دې چې په دې علم کې لوړې پوړۍ ته ورسېد او د بې لارو ډلو له سرخېلو سره به یې په عقیدوي مسائلو کې مجادلې او مباحثې کولې، چې تل به پکې بریالی را ووت. څه موده وروسته یې فقهې ته مخه کړه او د حماد بن ابي سلیمان په حلقه کې ور ګډ شو، آن تر دې چې (۱۸) کاله یې ورسره تېر کړل. امام صاحب به هر کال د حج فریضه ترسره کوله، تر دې چې ځینې پوهان وایي چې امام صاحب (۵۵) ځله د حج فریضه ادا کړې وه. د امام صاحب دې سفرونو هغه دې ته اړ کړ چې د بیت الله الحرام او نبوي مسجد له فقهاوو او پوهانو سره وګوري او د هغوی له پوهو څخه برخمن شي، نبوي احادیث ورڅخه تر لاسه کړي، فقهي مسایل ترې وپوښتي او د هغوی له درس او تدریس څخه ګټه پورته کړي. په دې ډله کې چې هغه له چا سره کتلي او د هغوی له پوهې څخه یې ګټه اخیستې، نامتو تابعي عامر الشعبي (۱۰۳هـ - ۷۲۱ز مړ)، حضرت عکرمه مولی ابن عباس (۱۰۵هـ ۷۲۳ ز مړ)، حضرت نافع کابلي مولی ابن عمر (۱۱۷هـ - ۷۲۵ ز مړ) او حضرت زید بن علي زین العابدین (۱۲۲هـ - ۷۴۰ ز مړ) دي. ځینې پوهان د امام صاحب ښوونکي آن تر څلور زرو پورې رسوي.

امام اعظم (رحمة الله علیه) په شپږ کلنۍ کې د قرآن کریم حفظ ته ملا تړلې او د امام عاصم له قرأت سره سم یې له (۸٦) هجري نه تر (۸۸) هجري پورې د دوو کلونو په موده کې قرآن کریم حفظ کړی دی. دغه راز یې علم الصرف، علم النحو او د عربي ادب علم له (۸۸) هجري نه تر (۹۰) هجري پورې د دوه کالو په موده کې زده کړی دی. علم کلام یې له (۹۰) هجري نه تر (۹۴) هجري پورې د څلورو کلونو په موده کې زده کړی، چې په دې وخت کې د امام اعظم (رحمة الله علیه) خپل عمر (۱۴) کاله و. دغه راز یې د باطلو فرقو په مقابل کې د مناظرې علم له (۹۵) هجري نه تر (۹۸) هجري پورې، د دریو کلونو په موده کې چې د امام اعظم (رحمة الله علیه) خپل عمر (۱۷) کاله و، بشپړ کړ. دغه راز یې د احادیثو علم له (۹۹) هجري کال نه تر (۱۰۳) هجري پورې د څلورو کلونو په موده کې حاصل کړی دی، چې په خپله امام اعظم (رحمة الله علیه) (۲۱) کلن و. د فقهې او د شرائعو د علم زده کړه یې له (۱۰۴) هجري نه تر(۱۲۰) هجري پورې د (۱٦) کلونو په موده کې د خپل عمر په (۳۷) کلنۍ کې د امام حماد بن أبي سلیمان (رحمة الله علیه) په مدرسه کې پای ته ورسوله. د کوفې د امام، د حدیثو د حافظ او د هغه وخت د فقهې د ستر استاد، حماد صاحب (رحمة الله علیه) په درس او د هغه په درس ګاه او په شاګردانو کې یې تر ټولو ممتاز او ذهین طالب العلم امام اعظم (رحمة الله علیه) و.

له کلام علم نه وروسته د حدیثو مشهور امام شعبي (رحمة الله علیه) هغه د حدیثو علم ته وهڅاوه او په (۹۳) هجري کې امام اعظم (رحمة الله علیه) په لومړي ځل له خپل پلار سره یو ځای حج ته لاړ او هلته یې د رسول الله ﷺ له صحابي حضرت عبدالله بن الحارث بن الجزء سره ملاقات وشو او له هغه نه یې د رسول الله ﷺ مبارک حدیث چې فرمایلي دي: «من تفقه فی دین الله کفاه الله همه و رزقه من حیث لایحتسب». چا چې د خدای ﷻ په دین کې تفقه او ژوره پوهه ترلاسه کړه، لوی خدای ﷻ د هغه په درد او رنځ کې کافي دی او هغه ته به له داسې ځایه رزق ورکړي، چې ګمان او وهم به یې هم نه وي، واورېده.[1]

**امام صاحب (رحمة الله علیه) تابعي دی:**

امام صاحب له تابعینو څخه و او د خپلې زمانې هر صحابي او تابعي ته یې ځان رسولی دی، لیدل کتل

---

۱ - جامع بیان العلم وفضله، ۱ جلد، ۲۰۳ مخ، ناشر: دار ابن الجوزي السعودیة.

يې ورسره کړې دي او فيض يې ور څخه حاصل کړی دی. سره له دې چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او د صحابه کرامو (رضی الله عنهم) ترمنځ ډېره موده تېره شوې، خو د ده تابعي والی يو مسلم امر، نه انکارېدونکی حقيقت دی. زياتره مؤرخين او د امام اعظم رحمة الله عليه د مناقبو ليکونکي په دې عقيده دي، چې امام اعظم رحمة الله عليه د روايت له مخې تابعي دی؛ خو هغه روايات چې امام اعظم رحمة الله عليه ته منسوب دي، يو شمېر يې د حديثو د علماوو په نظر تر جرحې لاندې نيول شوي؛ خو دا تنقيد د هغه د تابعيتوب مخه نه شي نيولی، د بېلا بېلو مذاهبو علماوو، محدثينو او مؤرخينو لکه علامه بدرالدين عيني حنفي رحمة الله عليه ، علامه ابن الهمام حنفي رحمة الله عليه ، حافظ ولی الدين عراقي رحمة الله عليه ، علامه ابن حجر مکي رحمة الله عليه ، علامه ابن حجر عسقلاني شافعي رحمة الله عليه، علامه سيوطي رحمة الله عليه ، علامه قسطلاني رحمة الله عليه ، علامه ابن کثير رحمة الله عليه ، علامه ملا علي قاري حنفي هروي رحمة الله عليه ، ابو نعيم اصفهاني رحمة الله عليه ، د طبقات ابن سعد کاتب واقدي، امام دارقطني رحمة الله عليه ، ابن عبدالبر رحمة الله عليه ، خطيب بغدادي رحمة الله عليه ، ابن الجوزي رحمة الله عليه ، علامه سمعاني رحمة الله عليه ، عبد الغني مقدسي رحمة الله عليه ، سبط ابن الجوزي رحمة الله عليه ، فضل الله تورپشتي رحمة الله عليه ، امام نووي رحمة الله عليه ، امام يافعي رحمة الله عليه ، امام ذهبي رحمة الله عليه ، زين عراقي رحمة الله عليه ، ابن الوزير رحمة الله عليه او نور مشهور علماء د امام اعظم رحمة الله عليه په اړه د تابعيتوب اتفاق لري او د تابعينو له جملې څخه ګڼي. حافظ ابن کثير رحمة الله عليه زياتوي، چې د څلورو مذاهبو په څلور واړه امامانو کې دغه د شرافت وياړ له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پرته بل هېڅوک هم نه لري او دا د امام اعظم رحمة الله عليه د فوقيت دليل دی. هغه صحابه کرام (رضی الله عنهم) چې بېلا بېلو مؤرخينو او د مناقبو ليکوالانو هغوی سره د امام اعظم رحمة الله عليه د ملاقات پخلی کړی، د هغوی له جملې حضرت انس ابن مالک رضی الله عنه ، حضرت عبدالله ابن ابي أوفی (رضی الله عنه)، حضرت عبدالله بن انس الجهني (رضی الله عنه)، حضرت عبدالله بن حارث بن الجزء (رضی الله عنه)، حضرت جابر بن عبدالله (رضی الله عنه)، حضرت واثلة بن الأسقع (رضی الله عنه)، حضرت معقل بن يسار (رضی الله عنه)، حضرت ابوطفيل عامر بن وائلة (رضی الله عنه)، حضرت عائشة بنت عجرد (رضی الله عنها)، حضرت سهل ابن سعد (رضی الله عنه)، حضرت الثائب بن خلاد بن سويد (رضی الله عنه)، حضرت عبدالله بن سمرة (رضی الله عنه)، حضرت محمود بن الربيع (رضی الله عنه)، حضرت عبدالله بن جعفر (رضی الله عنه) او حضرت ابو امامة (رضی الله عنه) يې ډېر مشهور دي. د يادونې وړ ده چې د پورتنيو شپاړسو تنو صحابه کرامو سره د امام اعظم رحمة الله عليه د ملاقات په هکله ټول مؤرخين په يوه خوله نه دي او په دې اړه يو له بل سره اختلاف لري؛ خو موږ د هغو ټولو صحابه کرامو يادونه وکړه چې د بېلا بېلو علماوو او مؤرخينو له نظره د حضرت امام اعظم رحمة الله عليه او د هغوی ترمنځ ملاقات صورت موندلی او له ځينو نه يې روايات هم کړي دي. په ټولنيزه توګه محدثين د هغو احاديثو شمېره چې امام اعظم رحمة الله عليه په مستقيمه توګه له صحابه کرامو څخه روايت کړي اووه، يا اته ښايي؛ خو مشهور مؤرخ د امام مالک رحمة الله عليه د مذهب پلوی، علامه عبدالرحمن ابن خلدون دا ټول احاديث اووه لس ګڼلي دي.

علامه عبدالحی حبيبي په «تاريخ افغانستان بعد از اسلام» کې ليکلي دي: امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د صحابه کرامو يوه ډله ليدلې؛ ځکه چې امام صاحب رحمة الله عليه په اتيا هجري کې د کوفې په ښار کې

زېږېدلی دی. په دغو ورځو کې عبدالله بن ابی أوفی په کوفه کې حضور درلود او له اتیا هجري نه وروسته وفات شوی دی. همدارنګه په بصره کې حضرت انس رضی الله عنه حضور درلود. ابن سعد په خپل سند سره روایت کړی، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه حضرت انس رضی الله عنه لیدلی دی؛ له همدې امله امام صاحب رحمة الله علیه د هغو روایاتو مطابق چې په طبقات ابن سعد کې راغلي دي، د تابعینو له جملې څخه شمېرل کېږي. دا هغه امتیاز دی چې پرته له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه څخه د دین نورو بزرګانو ته نه دی برابر شوی، لکه: په شام کې امام اوزاعی رحمة الله علیه ، په بصره کې سفیان ثوري رحمة الله علیه ، په کوفه کې خالد زنجی او نور...؛ نو له همدې امله امام صاحب تابعي دی. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د خپل وخت وتلی عالم، ستر شخصیت، ثقه او په اسلامي ټولنه کې مطرح شخص و، چې د اسلامي نړۍ د محدثینو، مشایخو او تقوا دارو علماوو له لوري یې مدح او توثیق شوی دی.[1]

امام دار قطني ویلي دي: «وَأَبُو حَنِيفَةَ رحمة الله عليه لَمْ يسْمَعْ مِنْ أَحَدٍ مِنَ الصَّحَابَةِ إِنَّمَا رَأَى أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ بِعَيْنِه».

ژباړه: امام ابوحنیفه رحمة الله علیه له کوم صحابي څخه حدیث نه دی روایت کړی؛ خو انس بن مالک رضی الله عنه یې په سترګو لیدلی دی.

محمد بن سماعة القاضي وايي: امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ویلي دي: حججت مع أبي، سنة ست وتسعين فرأيت رجلا من أصحاب النبی ﷺ يقال له عبدالله بن جزء الزبيدي.[2]

ژباړه: قاضي محمد بن سماعه روایت کړی، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمایلي دي: ما مې له پلار سره په شپږ نوي کال کې حج وکړ او په هغه کې مې له یو کس، د نبي کریم ﷺ له صحابي سره ملاقات وکړ چې هغه ته عبدالله بن جزء زبیدي ویل کېدل.

علامه حافظ مِزِّی او شمس الدین ذهبي (مړ: ۷۴۸ هـ ) لیکلي دي: النعمان بن ثابت بن زوطا الامام أبوحنيفه فقيه العراق مولى بنى تيم الله بن ثعلبة[3] رأى أنسا و سمع عطاء و نافعا و عكرمة.[4]

**په فقه کې د امام صاحب (رحمة الله علیه) مقام:**

وکیع بن الجراح ویلي دي: په ټولو هغو کسانو کې چې زه ورسره مخ شوی یم، امام اعظم رحمة الله علیه تر ټولو لوی فقیه او غوره لمونځ کوونکی و.[5]

امام شافعي رحمة الله علیه ویلي دي: که څوك غواړي چې په فقه پوه شي، د امام اعظم رحمة الله علیه او د هغه د شاګردانو سره دې ملازم شي؛ ځکه ټول خلک په فقه کې د امام اعظم رحمة الله علیه عیال (تر پالنې لاندې) دي. څوك چې د امام اعظم رحمة الله علیه

---

۱- تاریخ افغانستان بعد از اسلام، دویم ټوک، ۸۰۰ مخ.

۲ - تاریخ بغداد، ج٤، ص٥١، ناشر: دارالغرب الاسلامي بېروت.

۳ - د امام اعظم رحمة الله علیه نیکه د بني تیم الله د کورنۍ له «موالي» څخه و. مؤرخینو په لومړۍ اسلامي دوره کې ټول غیر عرب مسلمانان د موالي په نوم یادول. موالي د عربي ژبې د مولی جمع ده چې څو معناوې لري:

۱- مولی: «هغه چاته ویل کېږي چې د کومې زورورې قبیلې پناه یې اخیستې وي».

۲- مولی: «هغه چاته ویل کېږي چې له بل سره یې د دوستۍ لوظ کړی وي».

۳- مولی: «هغه غلام ته ویل کېږي چې د خپل بادار له خوا آزاد کړل شوی وي».

۴- مولی: «هغه غیر عرب ته ویل کېږي چې د کوم عرب پر لاس یې د اسلام مقدس دین منلی وي».

٤ - الكاشف في معرفة من له رواية في الكتب السنة، ج2، ص322، ناشر: مؤسسة علوم القرآن جده.

٥ - تاریخ بغداد، جـ ١٣، صـ ٣٤٥، دارالكتب العلمية، بيروت.

کتابونه نه ګوري، نه په فقه پوهېدای شي او نه کمال ته رسېدای شي.[۱]

یزید بن هارون ویلي دي: فقه د امام اعظم رحمة الله علیه او د هغه د شاګردانو کار دی، ګواکي هغوی د دغه کار لپاره زېږېدلي دي.[۲]

نضر بن شمیل رحمة الله علیه ویلي دي: خلک له فقهې ویده وو، امام اعظم رحمة الله علیه راویښ کړل، فقه یې ورته خلاصه او بیان کړه.[۳]

عبدالله بن ابي جعفر الرازي ویلي دي: له خپل پلار څخه مې واورېدل چې هغه ویل: په فقه او تقوا کې مې تر امام اعظم رحمة الله علیه بل څوك زیات نه دي لیدلي.[٤]

جریر ویلي دي: کله چې به له اعمش څخه د باریکو مسئلو پوښتنه وشوه، هغه به دغه مسئلې امام اعظم رحمة الله علیه ته لېږلې.[٥]

جعفر بن ربیع ویلي دي: د امام اعظم رحمة الله علیه سره پنځه کاله و اوسېدم، تر ده مې په خاموشۍ کې بل څوك زیات نه دی لیدلی؛ خو کله چې به پوښتنه ورڅخه وشوه، خوله به یې پرانیستله او د بهېدونکي رود غونډې به یې بیان وکړ.[٦]

عبدالله بن مبارك رحمة الله علیه ویلي دي: که یو حدیث معلوم وي او رایې ته اړتیا پیدا شي؛ نو د امام مالك رحمة الله علیه ، سفیان ثوري رحمة الله علیه او امام اعظم رحمة الله علیه رایه ښه ده؛ خو په دوی کې امام اعظم رحمة الله علیه باریك‌بینه او لوی فقیه دی.[۷]

ابو مطیع بلخي رحمة الله علیه ویلي دي: امام اعظم رحمة الله علیه کیسه کوله، چې امیرالمؤمنین ابو جعفر منصور ته ولاړم، هغه راڅخه وپوښتل چې علم دې له چا څخه زده کړی دی؟ ما ورته وویل: له حماد څخه مې علم زده کړی دی، هغه له ابراهیم نخعي رحمة الله علیه څخه، ابراهیم نخعي رحمة الله علیه له حضرت عمر، حضرت علي، حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهم څخه زده کړی و. امیرالمؤمنین راته وویل: واه واه! دا چې له مبارکو او پاکو استادانو دې زده کړی دی، خپل علم ته دې ټینګښت وربخښلی دی.[۸]

**د امام صاحب (رحمة الله علیه) د مذهب اصول:**

د امام صاحب مذهب په کوفه کې را وټوکېد او دده په لاسونو د حنفي مذهب اصول جوړ او ښایسته یې کړل، لکه څرنګه چې په خپله وینا کې وایي: په تحقیق سره زه د الله ﷻ د کتاب څخه مسئلې استنباط کوم، که چېرې په قرآن کې مې پیدا نه کړې، نو بیا مې نبوي احادیث را اخیستي دي؛ که چېرې په هغې کې مې هم پیدا نه کړې، بیا مې له اصحابو څخه را نقل کړې او بیا د دوی له قول څخه بهر د بل چا قول ته نه وځم؛ کله چې خبره ابراهیم، شعبي، حسن، ابن سیرین او سعید بن المسیب ته ورسېده، نو بیا زما خوښه چې کوښښ وکړم، لکه څرنګه چې دوی کوښښ کړی و. دا په رښتیا سره هغه اصول دي چې نور امامان یې هم متابعت کوي، لومړی د څښتن تعالی کتاب، بیا نبوي

۱ - عقود الجمان، صـ ۱۸.

۲ - عقود الجمان، صـ ۱۹۴.

۳ - تاریخ بغداد، جـ ۱۳، ص ۳٤٥، دارالکتب العلمیة، بېروت.

٤ - تاریخ بغداد، جـ۱۳، صـ ۳۳۹، دارالکتب العلمیة، بېروت.

٥ - مناقب ابي حنیفه وصاحبیه، للامام الذهبي، صـ ۲۹، لجنة احیاء المعارف النعمانیة.

٦ - تاریخ بغداد، جـ۱۳، صـ ۳٤۷، لجنة احیاء المعارف النعمانیة.

۷ - مناقب ابي حنیفه وصاحبیه، للامام الذهبي، صـ ۳۱.

۸ - تاریخ بغداد، جـ۱۳، صـ ۳۳٤، دارالکتب العلمیة، بېروت.

احادیثو ته رجوع کوي.

**د حنفي مذهب خپرېدل:**

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب په مختلفو هېوادونو کې خپور شو، چې د نړۍ اویا په سلو کې د همدې مذهب پیروان دي؛ ددې مذهب په خپرولو کې د امام ابو یوسف رحمة الله علیه لوی لاس و؛ ځکه هغه د عباسي خلافت قاضي القضات و، په دې خلافت کې حنفي مذهب رسمي بڼه درلوده. همدارنګه د سلجوقیانو، غزنویانو، عثماني خلافت او داسې نورو حکومتونو لخوا رسمي پېژندل شوی مذهب و. د دې مذهب ډېری پیروان په عراق، مصر، شام، یمن، افغانستان، مرکزي آسیا هېوادونو، هند، پاکستان، چین او ... کې دي. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د څلورو امامانو مشر او د اسلامي امت لومړنی مجتهد بلل کېږي. حنفي مذهب یوائېنی مذهب دی، چې په عثماني دور کې په ټول مسلمه امت شپږ سوه کاله د دې مذهب فیصلې تطبیق شوې دي او همدارنګه مغولیه خلافت کې هم د احنافو رسمي مذهب و؛ نو همدا وجه ده چې دا مذهب نظر درېیو نورو مذاهبو ته زیات پیروان لري. اللجنة الدائمة (عربستان) په دې اړه لیکي: «ومذهب الإمام أبي حنیفة رحمة الله علیه قد یکون أكثر المذاهب انتشاراً بین المسلمین، ولعل من أسباب ذلك تبني الخلفاء العثمانيين لهٰذا المذهب، وقد حكموا البلاد الإسلامية أكثر من ستة قرون، ولا يعنى ذلك أن مذهب أبي حنيفة رحمه الله هو أصح المذاهب أو أن كل ما فيه من اجتهادات فهو صواب».[1]

امام صاحب رحمة الله علیه په دېرشو کلونو کې د اته سوه داسې شاګردانو په روزنه سربېره، چې وروسته هر یو فقهي امام او مجتهد و، په دغو دېرشو کلونو کې د درې اتیا زره دیني مسئلو ځوابونه هم ورکړي وو، چې بیا د امام صاحب په ژوند کې هغه تر بېلا بېلو عنوانونو لاندې مرتب کړای شول او د حنفي فقهې او قانون بنسټ وګرځولی شول. امام اعظم رحمة الله علیه په زرګونو مسئلې تدوین کړې دي، چې په شمېر کې یې اختلاف شته؛ خو تر ټولو کم شمېر یې درې اتیا زره (۸۳۰۰۰) دي، چې اته دېرش زره (۳۸۰۰۰) یې په عباداتو پورې اړه لري او پاتې نورې یې په معاملاتو پورې اړه لري.

**د امام صاحب (رحمة الله علیه) مشهور شاګردان:**

امام اعظم رحمة الله علیه زیات شاګردان درلودل او زرګونو شاګردانو ته یې د فقهې او حدیثو تعلیم ورکړی دی. محمد بن یوسف الصالحي الشافعي د عقود الجمان په (۱۸۳) صفحه کې لیکلي دي: د امام اعظم رحمة الله علیه داسې شاګردان په برخه شول، چې د نورو امامانو نه دي په برخه شوي؛ صالحي الشافعي د خپل کتاب په پنځم باب کې لیکلي دي: د امام اعظم رحمة الله علیه ځینې شاګردان چې له ده څخه یې حدیث او فقه زده کړي وو، د مکې مکرمې، مدینې منورې، دمشق، بصرې او الجزیرې اوسېدونکي وو؛ صالحي الشافعي په خپل کتاب کې د امام اعظم رحمة الله علیه د اته سوه (۸۰۰) شاګردانو نومونه لیکلي دي. ملا علي بن سلطان محمد القاري (ملا علي قاري) رحمة الله علیه په خپل کتاب (مناقب الامام الأعظم) کې د امام اعظم رحمة الله علیه نږدې د پنځه سوه (۵۰۰) تنو شاګردانو نومونه لیکلي دي او ویلي یې دي، چې دا مې د مناقب للکردي څخه په لنډ ډول را اخیستي دي، وروسته یې لیکلي دي چې دا د امام اعظم رحمة الله علیه هغه شاګردان دي، چې شمېر یې اووه سوه دېرشو (۷۳۰) تنو ته رسېږي. دوی د خپل وخت لوی پوهان وو، د دین علم یې له امام اعظم رحمة الله علیه څخه زده کړی و او تر مونږ پورې یې را ورساوه.

**لیکلي آثار:**

په اوس وخت کې د امام اعظم رحمة الله علیه د ټولو کتابو او رسالو لاس ته راوړل یو ستونزمن کار دی. البته

---

۱ محمد صالح المنجد، موقع الاسلام سؤال وجواب.

په پخوانیو کتابونو کې متقدمینو علماوو د امام اعظم رحمة الله علیه پر یو شمېر کتابونو او رسالو حواله ورکړې او د یو شمېر نورو یادونه یې کړې ده. علامه کوثري د بلوغ الأماني په حاشیه کې امام اعظم رحمة الله علیه ته منسوب ټولو تصانیف یاد کړي دي، چې په هغوی کې د فقهې، احادیثو او علم کلام کتابونه په لاندې ډول دي:

الفقه الاکبر: دا کتاب یې په علم کلام کې لیکلی، په دې کتاب کې یې د الله تعالی د صفاتو، تقدیر، خیر او شر من الله څخه بحث کړی دی.

المسند: دا کتاب د نبوي احادیثو په اړه دی، چې امام سیوطي رحمة الله علیه پرې شرحه لیکلې ده او په (التعلیقة المنیفة علی مسند ابي حنیفة) یې نومولې ده. د امام اعظم روایت شوي احادیث بېلا بېلو علماوو د مسند په نوم را ټول کړي او بیا یې کتابي شکل ورکړی دی.

کتاب الآثار: دا کتاب یې له څلوېښت زره احادیثو نه را چن کړی دی.

جامع المسانید

کتاب الرد علی القدریة

الفقه الأبسط

العالم والمتعلم

رسالة الامام الی عثمان البتي (البستي) فی الارجاء

مکاتیب الوصایا

کتاب اختلاف الصحابة

کتاب الجامع

کتاب السیر

کتاب الأوسط

**د امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) فقهي اصول:**

دا حقیقت د هېڅ دلیل محتاج نه دی، چې د اسلام فقهاوو او مجتهدینو د دین د ښوونکو په توګه د مسلمان امت لپاره د قدر وړ خدمتونه کړي دي، دوی د راتلونکو فقهي مسائلو د احکامو معلوملو لپاره علمي بحث او څېړنې کړې او د اجتهاد او استنباط له لارې یې د دې مسئلو احکام ترلاسه کړي دي. د دوی د دې کوښښ او څېړنو ټول اسلامي امت پوروړی او منونکی دی؛ له الله څخه ورته د اجر غوښتونکي دي. دا خبره باید په پام کې ولرو، چې د دې امامانو علمي او فقهي څېړنو ته یو خپلواک مذهب نه، بلکې د قرآن او سنتو تعبیرکوونکو او تشریح کوونکو حیثیت ترلاسه دی. د دې فقهاوو فقهي اختلاف، د امت د یووالي منافي نه دی، بلکې دا د شریعت له محاسنو څخه دی. په دې اړه قاضي ابن العربي رحمة الله علیه داسې وایي: د امامانو فروعي اختلاف د شریعت په ښو کې شامل دی، نو موږ باید د مجتهدینو اجتهادي رایو ته متوازي مذاهبو حیثیت ور نه کړو او نه هم له دې رایو څخه د ډله بندي او عصبیت ذریعه جوړه کړو؛ بلکې د دوی د اختلاف یوازې یو اختلاف وګڼو. د اسلام ټول فقهاء او مجتهدین د درناوي وړ دي او د دوی د احوالو او آثارو یادونه د برکت او نېکمرغۍ سبب ګرځي.

**د امام صاحب (رحمة الله علیه) په هکله د علماوو نظرونه:**

د امام صاحب د علم، تقوا، صبر، اخلاص او د ژوند دا حالت وو، چې له نبي کریم ﷺ نه وروسته چې په کوم سیرت ډېر کتابونه لیکل شوي، هغه د نعمان بن ثابت سیرت دی. نړۍ کې د امام صاحب د مذهب مقلدین نړدې (۷۰) فیصده دي او (۳۰) فیصده نور د ټولو مذاهبو مقلدین دي. دا رنګه امام ابوحنیفه رحمة الله علیه هغه شخص و، چې (۵۲) یا (۵۵) ځلې یې مکې معظمې او مدینې منورې ته سفر وکړ؛ چا ورته وویل چې دا تاسو ولې دومره حجونه کوئ؟ هغه ورته وفرمایل: زما موخه یوازې د حج ادا کول یا ترسره کول نه دي؛ بلکې زه غواړم د مکې معظمې او مدینې منورې له علماوو او له نورو ځایونو څخه راتلونکو علماوو سره ناسته ولاړه او خبرې اترې وکړم، ترڅو ماته د رسول الله ﷺ ټول احادیث او مسائل ورسیږي. یعنې داسې مسئله

نه وي پاتې، چې زه پرې فتوا ورکړم او هغه مسئله بیا بل ځای بل ډول وي. د امام صاحب د نبوغ مثالونه خو ډېر دي او داسې یو ځوک چې له څلور زره علماوو او مشایخو نه یې درسونه ویلي، دا لا څه چې امام صاحب له پنځوسو بل روایت کې له دوه ویشتو بل روایت کې له اتو صحابه کرامو سره کتنه شوې او دا اخري قول د ټولو په نزد اتفاقي او قوي قول دی. د هغه څلور زره استادان د خیرالقرون زمانې (تابعین وو). دارنګه د هغه استادانو کې تبع تابعین هم وو. نو یو چا چې له څلور زره تابعینو څخه زده کړې ترلاسه کړې وي، د هغه د علم، تقوا، اخلاص، عقیدې، عبادت او نورو به څه حال وي؟

«امام اعظم ویکیپېډیا: ص/۹٦» کې لیکي: چې ابوحنیفه رحمة الله علیه له شپېتو استادانو څخه نېغ په نېغه په مکه معظمه کې احادیث زده کړي دي. امام اعظم صاحب به کوفه د فقهې د علم پلازمېنه ګڼله. نوموړي په حدیثو او تفسیر علم کې په خپل وخت او زمان کې سیال نه لره او تر اوسه هم سیال نه لري. امام صاحب رحمة الله علیه ته د وخت جیدو او سترو فقهاوو، مفسرینو او محدثینو ډول ډول نومونه کارول، چا به ورته رئیس الفقهاء ویل، چا به ورته فقیه الأمة ویل، چا به ورته د اسلامي فقهې بنسټ کېښودونکی ویل. امام شافعي رحمة الله علیه به ویل: الناس في الفقه عیال علی أبي حنیفة. یعنې: خلك په فقه کې د ابوحنیفه رحمة الله علیه ځیره خواره دي.

امام ذهبي رحمة الله علیه تذکرة الحفاظ لیکلي دي او په هغه کې یې له صحابه کرامو را نیولې بیا تر خپله وخته پورې د حدیثو د حافظانو یادونه کړې ده؛ د هغوی د هغه کتاب اصول دا دي چې هغه حفاظ الحدیث لیکي، چې کثیر الحدیث، حافظ الحدیث او ورسره فقیه هم وي. هغوی هلته د امام جعفرصادق توثیق د ډېرو محدثینو له لوري کړی دی، خو تر ټولو لومړی یې د هغه توثیق د امام اعظم رحمة الله علیه له لوري لیکلی دی او په خپله امام اعظم رحمة الله علیه یې هم د حفاظو، محدثینو او فقهاوو په جمله کې راوړی دی. (د یادونې وړ ده چې د امام ذهبي په تذکرة الحفاظ کې د امام اعظم رحمة الله علیه تذکره الحاقي ده)؛ له دې څخه څرګنده ده چې د اهل فن او محدثینو له نظره نه تنها دا چې امام اعظم رحمة الله علیه د محدثینو له ډلې ګڼل کیږي؛ بلکې د کثیر الحدیث او فقیه في الحدیث ویاړ او افتخار هم لري.

امام حماد بن ابي سلیمان (مړ هـ ق ۱۲۰) د امام صاحب رحمة الله علیه په اړه وایي: «هَذَا مَعَ فِقْهِهِ يُحْيِي اللَّيْلَ وَيَقُومُهُ». ابن عبد البر په الانتقاء[1] کې لیکي: امام ابو حنیفه رحمة الله علیه به په فقه برسېره ټوله شپه پر عبادت تېروله.

امام مسعر بن کدام (مړ۱۵۳هـ ق) د امام صاحب په اړه ویلي دي: «رَحِمَ اللهُ أَبَاحَنِيفَةَ إِنْ كَانَ لَفَقِيهًا عَالِمًا».[2] یعنې: الله دې پر ابوحنیفه رحمة الله علیه باندې رحم وکړي! په رښتیا چې فقیه او برجسته عالم و.

امام عبدالله بن نمیر رحمة الله علیه (مړ ۱۹۹هـ ق) فرمایلي دي: «سَمِعْتُ الاعمش (مړ ۱۴۷هـ ق) يَقُول وَسُئِلَ عَن مسئلة فَقَالَ إِنَّمَايُحْسِنُ الْجَوَابَ فِي هَذَا وَمِثْلُهُ النُّعْمَانُ بْنُ ثَابِتٍ الْخَزَّازُ أَرَاهُ بُورِكَ لَهُ فِي عِلْمِهِ».[3] ژباړه: له اعمش څخه مې واورېدل چې د یوې مسئلې په اړه ترې وپوښتل شول، ویې فرمایل: داسې مسائلو ته ابوحنیفه کولی شي ښه ځواب ورکړي! زما په آند الله پاک یې په علم کې برکت اچولی دی.

امام شبابه بن سوار (مړ ۲۰۴ هـ ق) ویلي دي: «كَانَ شُعْبَةُ (مړ ۱٦۰هـ ق) حَسَنَ الرَّأْيِ فِي أَبِي حَنِيفَةَ؛ وَقِيلَ لَهُ مَاتَ أَبُو حَنِيفَةَ! فَقَالَ شُعْبَةُ لَقَدْ ذَهَبَ مَعَهُ فِقْهُ

۱ - الانتقاء، ۱۲۵، دارالکتب العلمیة بیروت.

۲ - مخکینی حواله.

۳ - الانتقاء، ص ۱۲٦.

الْكُوفَةِ تَفَضَّلَ اللهُ عَلَيْنَا وَعَلَيهِ بِرَحْمَتِهِ».[1]

ژباړه: د شعبه بن الحجاج رايه د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه  په اړه ښه وه. يوه ورځ ده ته يې خبر ورکړ چې امام ابو حنيفه رحمة الله عليه  وفات شوی دی. ده وويل: د کوفې فقه هم له ده سره لاړه! الله پاک دې پر موږ او ده باندې رحمت وکړي.

امام يحيى بن معين رحمة الله عليه  (مړ ۲۳۳هـ ق) د امام صاحب په اړه وايي: «هُوَ ثِقَةٌ مَا سَمِعْتُ أَحَدًا ضَعَّفَهُ هَذَا شُعْبَةُ بْنُ الْحَجَّاجِ يَكْتُبُ إِلَيْهِ أَنْ يحدث ويأمره وَشعْبَة شُعْبَة».[2] ابو حنيفه ثقة دی؛ اوريدلي مې دي چې کوم کس دی پر قوي دلايلو تضعيف کړي. شعبه بن الحجاج به هم ده ته ليک استولو چې ده ته حديث ووايي؛ موږ ټول پوهېږو چې شعبه څه رنګه محدث او د رجالو عالم دی.

امام حسن بن صالح رحمة الله عليه  فرمايلي دي: «كَانَ النُّعْمَانُ بْنُ ثَابِتٍ فَهْمًا عَالِمًا مُتَثَبِّتًا فِي عِلْمِهِ إِذَا صَحَّ عِنْدَهُ الْخَبَرُ عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ لَمْ يَعْدُهُ إِلَى غَيْرِهِ».[3] ابو حنيفه د فهم او علم والا شخص و، چې په علم کې يې قوي او ژور فهم و؛ کله به چې د رسول الله ﷺ حديث ورته ورسېدلو نور به يې د چا خبرو ته غوږ نه نيوه.

امام علی بن المديني يې په اړه فرمايلي: «هُوَ ثِقَةٌ لابَأْسَ بِهِ».[4] ابو حنيفه ثقه و، کوم اشکال په ده کې نه شته.  دا رنګه امام حسين بن الواقد رحمة الله عليه (مړ ۱۵۹هـ ق) فرمايلي دي: « نوَقَعَتْ مسئلة بمَرْوَ فَلَمْ أَجِدْ أَحَدًا يَعْرِفُهَا فَجِئْتُ إِلَى الْعِرَاقِ فَسَأَلْتُ عَنْهَا سُفْيَانَ الثَّوْرِيَّ (مړ ۱۶۱هـ ق) فَقَالَ لِي يَاحُسَيْنُ لَا أَعْرِفُهَا بَعْدَ أَنْ أَطْرَقَ سَاعَةً فَقُلْتُ لَهُ أَنْتَ تَقُولُ لَاأَعْرِفُهَا وَأَنْتَ إِمَامٌ فَقَالَ أَقُولُ كَمَا قَالَ ابْنُ عمر سُئِلَ عَن شَئٍ لَمْ يَدْرِهِ فَقَالَ لَاأَدْرِي قَالَ فَأَتَيْتُ أَبَاحَنِيفَةَ فَسَأَلْتُهُ عَنْهَا فَأَفْتَانِي فِيهَا فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِسُفْيَانَ فَقَالَ كَيْفَ قَالَ لَكَ فِيهَا قُلْتُ قَالَ فِيهَا كَذَا وَكَذَا فَسَكَتَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ يَاحُسَيْنُ هُوَ عَلَى مَا قَالَ لَكَ أَبُوحَنِيفَةَ».[5]

ژباړه: په مروه کې يوه مسئله رامنځته شوه؛ څوک مې ونه موندل چې پر ځواب يې پوه شي؛ ځکه خو عراق ته لاړم له حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه  څخه مې (د مسئلې) په اړه وپوښتل، له لږ ځنډ وروسته يې راته وويل چې پر ځواب يې نه پوهېږم. ما ورته وويل: چې ته خو د مسلمانانو امام يې څنګه نه پوهېږې؟ حضرت سفيان رحمة الله عليه  وويل: زه هم د ابن عمر غوندې کوم! کله به چې د يوې مسئلې په اړه ترې سوال وشو، چې په ځواب به يې نه پوهېدو، وبه يې ويل چې نه پوهېږم؛ ځکه  ابو حنيفه رحمة الله عليه  ته لاړم، هغه راته فتوا راکړه او زه بيا د سفيان خوا ته لاړم، هغه راته وويل چې ابو حنيفه څنګه فتوا درکړه؟ کله مې چې ځواب ورته ولوست، له لږ سوچ وروسته يې راته وويل: همداسې ده لکه څرنګه چې ابو حنيفه فتوا درکړې.

امام سفيان بن عيينه رحمة الله عليه  فرمايلي دي: «كَانَ أَبُوحَنِيفَةَ لَهُ مُرُوءَةٌ وَكَثْرَةُ صَلَاةٍ؛[6] وهو أَوَّلُ مَنْ أَقْعَدَنِي لِلْحَدِيثِ بِالْكُوفَةِ أَبُو حَنِيفَةَ أَقْعَدَنِي فِي الْجَامِعِ وَقَالَ هَذَاأَقْعَدَ النَّاسَ بِحَدِيثِ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ».[7] ابو حنيفه يو ځوانمرده او لمونځ کوونکی شخص دی. دی لومړنی کس و، چې په کوفه کې يې راته د حديثو جلسه

---

۱ - ابن عبدالبر، الانتقاء، ص۱۷۲.

۲ - الانتقاء، ۱۲۷، دارالکتب العلمية بېروت.

۳ - الانتقاء، ۱۲۸، دارالکتب العلمية بېروت.

٤ - الجواهر، ج۱، ص۲۹.

۵ - الانتقاء، ۱۲۷، دارالکتب العلمية بېروت.

٦ - الانتقاء، ۱۳۰، دارالکتب العلمية بېروت.

۷ - الانتقاء، ۱۲۸، دارالکتب العلمية بېروت.

جوړه کړه او ويې ويل: اې (خلکو!) دا کس د عمر بن دينار د احاديثو په نسبت تر ټولو ډېر عالم کس دی.

امام يحيى بن سعيد القطان مړ (۱۹۸هـ ق) فرمايلي دي: «لَا نَكْذِبُ اللهَ كم من شئ حسن قَالَه أَبُوحنيفَة وَرُبمَا استحسنا الشئ مِنْ رَأْيِه فَأَخَذْنَا بِهِ قَالَ يَحْيَى بْنُ مَعِين وَكَانَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ يَذْهَبُ فِي الْفَتْوَى مَذْهَبَ الْكُوفِيِّينَ».[1] يعنې: په الله باندې دروغ نه تړو! ابو حنيفه څومره ښکلې خبرې او فتواګانې وکړې، زموږ هم خوښې شوې او منلې مو دي او يحيى بن معين هم ويلي: چې يحيى بن سعيد قطان پر فتوا کې د کوفيانو په مذهب و.

امام عبدالله بن المبارک رحمة الله عليه (مړ ۱۸۱هـ ق) فرمايلي دي: «كَانَ أَبُوحَنِيفَةَ قَدِيمًا أَدْرَكَ الشَّعْبِيَّ وَالنَّخَعِيَّ وَغَيْرَهُمَا مِنَ الأَكَابِرِ وَكَانَ بَصِيرًا بِالرَّأْيِ يُسَلَّمُ لَهُ فِيهِ وَلكنه كَانَ تهيما فى الحَدِيث؛ ويذكر عن أَبى حنيفَة كل خير ويزكيه ويقرضه ويثنى عَلَيْهِ؛ وَقد طعن رجل فى مَجْلسه (ابن المبارک) فى أَبِي حَنِيفَةَ فَقَالَ لَهُ اسْكُتْ وَاللهِ لَوْ رَأَيْتَ أَبَاحَنِيفَةَ لَرَأَيْتَ عَقْلا وَنُبْلا».[2]

ژباړه: امام ابو حنيفه د مخکينيو علماوو څخه و، چې امام شعبي، نخعي او... يې ليدلي دي، د اجتهاد په اړه ډېر پوه و، چې خورا کافي او وافي ورتيا يې لرله؛ خو د احاديثو په اړه پر ده تهمت شوی (چې ټول يې تهمت و، نه واقعيت).

همدا رنګه عبدالله بن المبارک ټولې ښېګڼې د امام ابو حنيفه په اړه ويلې؛ يوه ورځ چا د امام ابو حنيفه په اړه څه طعنه وارده کړه، ده ورته وويل: غلی شه! که ابو حنيفه (رحمة الله عليه) دې ليدلی وی، هغه مهال به دې ويل چې دی څومره عاقل او قدرمن شخصيت دی.

امام علي بن الجعد رحمة الله عليه (مړ ۲۳۰) روايت کړی دی: «كُنَّا عِنْدَ زُهَيْرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ (مړ ۱۷۲هـ ق) فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ زُهَيْرٌ مِنْ أَيْنَ جِئْتَ فَقَالَ مِنْ عِنْدِ أَبِي حَنِيفَةَ فَقَالَ زُهَيْرٌ إِنَّ ذَهَابَكَ إِلَى أَبِي حَنِيفَةَ يَوْمًا وَاحِدًا أَنْفَعُ لَكَ مِنْ مَجِيئِكَ إِلَيَّ شَهْرًا».[3] يوه ورځ د زهير بن معاويه (رحمة الله عليه) سره وو، چې يو څوک يې خوا ته راغلل او زهير ورته وويل: له کوم ځايه راغلې؟ هغه ورته وويل: له ابو حنيفه نه! زهير ورته وويل: يوه ورځ چې له ابو حنيفه سره يې له ما سره د يوې مياشتې له اوسېدلو غوره ده.

امام يحيى بن معين (مړ ۲۳۳هـ ق) فرمايلي: «مَا رَأَيْتُ مِثْلَ وَكِيعِ بن الجراح (مړ ۱۹۶هـ ق) وَكَانَ يُفْتى برأى ابى حنيفَة».[4] ما له وکيع بن الجراح رحمة الله عليه څخه ستر شخصيت نه دی ليدلی! له دې سره سره ده د امام ابو حنيفه پر فتوا باندې فتوا ورکوله.

امام عبدالله بن المبارک (مړ ۱۸۱هـ ق) يې په هکله فرمايي: «رَأَيْتُ أَبَاحَنِيفَةَ كُلَّ يَوم يزِيد نباهة وَيزِيد خيرا». يعنې: ابوحنيفه رحمة الله عليه مې وليد چې هره ورځ يې په شان او خير کې زياتوالی کېده. «وينطق بِالصَّوَابِ وَيَصْطَفِيهِ إِذَا مَا قَالَ أَهلُ الجَورِ جَورًا». او کله چې ظالمان باطلې او ناروا خبرې وکړي، ده حق خبره کړې او په سمه توګه حق خبرې ټولوي. «يُقَايِسُ مَن يُقَايِسُهُ بِلُبٍّ وَمَنذَا تَجعَلُونَ لَهُ نَظِيرًا». دی قياس کوي، څوک کولی شي د ده په څېر قياس وکړي؟ او څوک له ده سره سيال ګرځولی شي؟ «كَفَانَا فَقْدُ حَمَّادٍ وَكَانَتْ مُصِيبَتُنَا بِهِ أَمْرًا كَبِيرًا». د حماد له وفات نه وروسته ابو حنيفه د هغه ځای موږ ته ډک کړ. خو د ده وفات ستر مصيبت و. «رَأَيتُ أَبَاحَنِيفَةَ حِينَ يُؤتَى وَيُطلَبُ عِلمُهُ بَحرًا

---

۱ - الانتقاء، ۱۳۲، دارالكتب العلمية ببروت.

۲ - الانتقاء، ۱۳۳، دارالكتب العلمية ببروت.

۳ - الانتقاء، ۱۳٤، دارالكتب العلمية ببروت.

٤ - الانتقاء، ۱۳٦، دارالكتب العلمية ببروت.

غَزِيرًا».[1] ابو حنيفه مې وليد، کله چې ده ته سوال او فتوا وروړل کېدله، علم يې لکه د سمندر دومره و.
امام عيسى بن يونس (مړ ۲٦۴هـ ق ) ويلي دي: «لا تتكلمن في أَبِي حَنِيفَةَ بِسُوءٍ وَلا تُصَدِّقَنَّ أَحَدًا يسئ الْقَوْلَ فِيهِ فَإِنِّي وَاللهِ مَا رَأَيْتُ أَفْضَلَ مِنْهُ وَلا أَوْرَعَ مِنْهُ وَلا أَفْقَهَ مِنْهُ».[2] يعنې: د امام ابو حنيفه په اړه بدې خبرې مه کوئ او په اړه يې پر هېڅ بدې خبرې باور مه کوئ؛ په الله قسم چې ما له ده څخه افضل فقيه او تقوا لرونکی نه دی ليدلی. امام ابن عبد البر يې په اړه ويلي دي: «قد اثنى عَلَيْهِ قوم كثير لفهمه ويقظته وَحُسْنِ قِيَاسِهِ وَوَرَعِهِ وَمُجَانَبَتِهِ السَّلاطِينِ».[3] (يوې سترې ډلې د مخکينيو علماوو څخه يې د فهم، ځيرکی، د ښو قياسونو، تقوا او دسلاطينو څخه دلرې والي په دليل سره مدحه کړې ده).
سفيان بن عيينه رحمة الله عليه فرمايي: «ما مقلت عيني مثلَ أبى حنيفة».[4] زما سترګو د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په څېر شخصيت نه دی ليدلی.
د جرحې او تعديل امام حضرت يحيى بن سعيد القطان رحمة الله عليه فرمايي: «انه واللهِ من أعلم هذه الأمة بما جآء عن الله و رسوله».[5] يعنې: قسم په الله ابوحنيفه رحمة الله عليه دانشمند ترين کس د دې امت دی، د هغه څه په نسبت چې له الله او رسول څخه يې راوړي دي.
د امام بخاري رحمة الله عليه استاد يحيى بن معين رحمة الله عليه فرمايي: «عدلٌ، ثقةٌ، ما ظنّك بمن عدّله ابن المبارك و وكيعٌ». يعنې: امام ابو حنيفه رحمة الله عليه عادل او د اعتماد وړ دی. ستا ګمان د هغه چا په اړه څه دی، چې عبدالله بن مبارک او وکيع بن الجراح رحمة الله عليه هغه تعديل او توثيق کړې دي؟
حافظ محمد بن يوسف شافعی رحمة الله عليه په خپل کتاب عقود الجمان کې ليکلي دي: «كان ابوحنيفه رحمة الله عليه من كبار حفاظ الحديث وأعيانهم».[6] يعنې: امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د حديثو له سترو حفاظو او غوره علماوو څخه و.
حافظ ابن عبد البر مالکي رحمة الله عليه (مړ۴٦۳ هـ ق) ليکلي دي: «روى حماد بن زيدٍ عن أبى حنيفه رحمة الله عليه أحاديث كثيرةً».[7] يعنې: حماد بن زيد له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه څخه ډېر زيات احاديث روايت کړي دي.
علامه ذهبي رحمة الله عليه د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه معرفي داسې کوي: «أبو حنيفه الامام الأعظم فقيه العراق، وكان اماما ورعا، عاملا، متعبدا كبير الشان».[8] يعنې: ابو حنيفه رحمة الله عليه امام اعظم، د عراق فقيه، پرهېزګاره او دانشمند، عامل په علم، عبادت ګزاره او د لوړ منزلت درلودونکی شخص دی.
د اسلامي نړۍ ستر مؤرخ ابن خلدون فرمايي: «انّه من كبار المجتهدين فى علم الحديث».[9] يعنې امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د مجتهدينو له مشرانو څخه په

---

١ - الانتقاء، ١٣٣، دارالکتب العلمية بېروت.
٢ - منهاج المحدثين في القرن الأول الهجري وحتى عصرنا الحاضر، ٢٢٩، الهيئة المصرية العامة للكتاب.
٣ - الانتقاء، ١٢١، دارالکتب العلمية بېروت.
٤ - مسند أبي حنيفة رواية أبي نعيم، 21، مكتبة الكوثر الرياض.
٥ - سلسلة مصابيح الهدى ، محمد حسان، ج١٥، ص ١٤.
٦ - شرح مسند أبي حنيفة، ج المقدمة، ص ٤، دارالکتب العلمية بېروت.
٧ - الانتقاء، ١٣٠، دارالکتب العلمية بېروت.
٨ - تذكرة الحفاظ للذهبي، ج 1، ص127.
٩ - تاريخ ابن خلدون، ج١، ص٥٦٢، دارالفكر بېروت.

علم د حديث کې دی.
امير المحدثين علي بن مديني رحمة الله عليه فرمايي: «هو ثقةٌ لابأس به». يعنې امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د اعتماد وړ دی (روايت) يې کوم مشکل نه لري. همدا رنګه امام شافعي رحمة الله عليه ليکي چې له امام مالک څخه پوښتنه وشوه، چې ايا تا امام ابو حنيفه رحمة الله عليه ليدلی دی؟ هغه وفرمايل: هو! ليدلی مې دی، هغه داسې شخص و. که يې تا ته د دې ستنې د سرو زرو د ثابتولو دليلونه وړاندې کړې وای، نو هغه به خامخا په خپل حجت کې کامیابه شوی وای (دا پايه به يې ثابته کړې وای چې د سرو زرو ده).
ستر مؤرخ شيخ محمد بن يوسف صالحي په خپل مقبول او جامع کتاب «عقودالجمان فی مناقب الامام الاعظم أبی حنيفة النعمان» کې د امام اعظم رحمة الله عليه مقام او منزلت په لاندې ډول سره ليکي: «إعلم رحمك الله أنّ الإمام أباحنيفة رحمة الله عليه مِن كِبار حفّاظ الحديث وقد تقدّم أنّه أخذ عن أربعة آلاف شيخ من التابعين وغيرهم و ذكره الحافظ الناقد ابوعبدالله الذهبي في كتابه الممتع طبقات الحفّاظ من المحدثين منهم ولقد أصاب وأجاد، ولولاكثرة إعتنائه بالحديث ماتهيأ له إستنباط مسائل الفقه فإنّه أوّل من استنبطه من الأدلّة ».
پوه شه! الله دې پرتا رحم وکړي، پرته له شکه امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د احاديثو د سترو حفاظو څخه ګڼل کېږي، په پورته مخونو کې بيان شوي چې ده له تابعينو، شيوخو او نورو څخه علم حاصل کړی دی.
علامه ابن خلکان رحمة الله عليه په وفيات الأعيان کې ليکي: «أبوحنيفة النعمان بن ثابت بن زوطى بن ماه الفقيه الكوفي، مولى تيم الله ابن ثعلبة، وهو من رهط حمزة الزيات؛ كان خزازاً يبيع الخز، وجده زوطى من أهل كابل[1]، وقيل بابل، وقيل من أهل الأنبار، وقيل من أهل نسا، وقيل من أهل ترمذ، وهو الذي مسه الرق فأعتق، وولد ثابت على الإسلام. وقال إسماعيل بن حماد بن أبي حنيفة: أنا إسماعيل بن حماد بن النعمان بن ثابت بن النعمان بن المرزبان، من أبناء فارس من الأحرار، والله ما وقع علينا رق قط. ولد جدي سنة ثمانين، و ذهب ثابت إلى علي بن أبي طالب رضى الله عنه، وهو صغير، فدعا له بالبركة فيه وفي ذريته، ونحن نرجو أن يكون الله تعالى قداستجاب ذلك لعلي فينا، والنعمان بن المرزبان أبو ثابت هو الذي أهدى لعلي بن أبي طالب رضى الله عنه ، الفالوذج في المهرجان النيروز».[2]
امام اعظم رحمة الله عليه د وربښمو رختونو تجارت کاوه او په کوفه کې يې د سوداګرۍ مرکز و؛ خو د کار ځانګې يې په بېلا بېلو ښارونو کې موجودې وې. د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خلافت کې د هغه په امر د کوفې ښار ودان کړل شو او په زرګونو صحابه کرامو هلته خپل کورونه اباد کړل. په هغوی کې يو هم حضرت عمرو بن حريث رضی الله عنه کوفې ته راغی او هلته يې يو سرای د جومات ترڅنګ جوړ کړ او دا سرای ډېر لوی او مشهور و. په دغه سرای (مارکېټ) کې د امام اعظم رحمة الله عليه دوکان او د وربښمو اوبدلو کارخانه وه. خطيب بغدادي په تاريخ بغداد کې ليکي: چې د وربښمو رختونو سوداګرو او د دوی دوکانونه د عمرو بن حريث په سرای کې مشهور او معروف وو. داسې ښکاري لکه دار عمرو بن حريث چې ټول د وربښمو رختونو د اوبدلو او خرڅولو لپاره ځانګړی و. امام يافعي رحمة الله عليه د امام اعظم رحمة الله عليه د کارخانې او وربښمو اوبدلو يادونه کوي او ليکي چې «له دار كبير لعمل الخز و عنده مناع الخز»، هغوی د وربښمو رختونو لوی سرای

---

١ - په نزهة المشتاق في اختراق الآفاق (١/ ١٩٥) کې دي: وكابل من مدن الهند المجاورة لبلاد طخارستان وهي مدينة جليلة المقدار حسنة البنية وبجبالها عود جيد وبها النارجيل والإهليلج الكابلي.
٢ - وفيات الأعيان، ٥/ ٤٠٥.

لري او له هغوی سره ورېښم ابدوونکي کارګر کار کوي.
ابن خشنام رحمة الله علیه د ورېښمو په رخت او د هغوی د اقسامو په پېژندلو کې د امام اعظم رحمة الله علیه د پوهې او مهارت په اړه لیکي چې «کان خزازا و کان فی بیعه و شرائه یستقصي و یدق النظر فیه». امام صاحب رحمة الله علیه د ورېښمو رختونو سوداګر و، د ورېښمو په رانیولو او خرڅولو کې یې د وخت د غوښتنو په نظر کې نیولو سره دقیق نظر لاره. او کله چې به په کوفه کې کوم چا د یوه ښه یا خاص رخت په اړه پوښتنه کوله، نو خلکو به هغه د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه دوکان ته ورلېږه.

داسې معلومېږي چې د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په دې عمده فروشي کې د اوس وخت د سترو مارکېټونو په څېر د هر شي قاطع قیمت معلوم و او پر چنو وهلو یې وخت نه ضایع کاوه. د دې کار لپاره هغوی خالص خپله ګټه په نظر کې نه لرله، بلکې هغوی تر خپل ځان د خلکو ډېر مراعات کاوه.

امام صاحب رحمة الله علیه د خپلې سرمایې زیاته برخه علماوو ته په تحفو کې او د عامه خلکو په ښېګنو کې مصروفوله.

سفیان بن عیینه رحمة الله علیه وایي چې ابو حنیفه رحمة الله علیه به ډېر خیراتونه کول. څومره ګټه چې به هغه ته په لاس ورتلله، هغه به یې پر خلکو مصروفوله. ماته یې دومره ډېرې تحفې رالېږلې، چې زه به د هغوی ډېروالي ته په حیرت کې شوم. ما د هغو دوستانو ته د دې شکایت وکړ نو هغوی راته وویل، که تاسو هغه تحفې لیدلې وای کومې چې هغه سعید بن ابي عروبة ته ورلېږلې، نو بیا به مو څه ویل. امام ابو حنیفه رحمة الله علیه هېڅوک داسې نه دي پرېښي چې نېکي یې نه وي ورسره کړې.

ویل کېږي چې امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د بغداد او کوفې ترمنځ یو شرکت لره، چې د هغه له لارې به یې په یوه ځانګړې سرمایه باندې کاروبار کاوه او د هغه تجارت ګټه او منافع به یې د کوفې پر علماوو، محدثینو او فقهاوو وېشل، تر څو هغوی خپل ضرورتونه ورباندې پوره کړي او د نورو له احتیاجه وتلي وي. لنډه دا چې امام صاحب رحمة الله علیه د ډېرو عالي اخلاقو او لوړو صفاتو خاوند و. د هغه مناقب، صفات، شمایل، کرامات او همدارنګه د هغوی سیاسي ژوند، له عام وګړو سره چلند، له علماوو او عامه خلکو سره د ده ښېګنې او د ده عقلي، منطقي دلایل او بصیرت او په کاروبار (تجارت) کې د ده تعامل بیانول له دې نه زیات دي، چې په دې څو پاڼوکې راوړل شي. موږ دلته مشت نمونه یې خروار ذکر کړل، د زیاتو معلوماتو لپاره هغه کتابونه وګورئ چې د امام صاحب رحمة الله علیه په ژوندلیک او سوانحو لیکل شوي دي، چې هغه کتابونه له شمېره زیات دي او د دې سوانحو په پای کې د یو څو کتابونو نومونه راوړل شوي دي.

د سیرت او سوانحو کتابونو لیکلي دي، چې کله به امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ته کومه مسئله سخته شوه، خپلو ملګرو ته به یې وویل: دا زما د کومې ګناه له امله راته سخته شوه، نو د «استغفر الله» په ویلو به یې پیل وکړ او کله به لمانځه ته پورته شو، نو مسئله به حل شوه او ده به وویل: لکه چې ګناه مې الله تعالی راته وبخښله.

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د دې عمل په هکله چې د وخت لوی عارف او زاهد حضرت فضیل بن عیاض رحمة الله علیه خبر شو، نو ډېر زیات یې وژړل او ویې ویل: ددې سړي ګناهونه ډېر کم دي.[1]

**نور بیا...**

---

۱ طبقات الحنفیة لـ علي القاري، ۲/۴۸۷ د رسالة المسترشدین په حواله.

# په شریعت کې د قضاء حکمتونه




لیکوال: مفتي رحمٰن الله «القاسمي»[1]

**سرلیک:**

الحمد لله الذي أمر بالعدل والإحسان، ونهى عن الفحشاء والمنكر، أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله -صلى الله عليه وسلم- وعلى آله واصحابه اجمعين. اما بعد: د شریعت له امورو څخه یو اهم ترین امر هغه په اسلام کې په شرعي طریقې سره د قضاء چارې پر مخ وړل دي، د انسانانو په منځ کې په حقه /عدل سره فیصله کول یو بهترین عمل او د اهمو عباداتو څخه شمېرل کېږي؛ ځکه چې د قضاء د لارې د انسانانو ترمنځ منازعات/ شخړې ختمېږي، د ظالم مخنیوی او د مظلوم سره مرسته کېږي او په احسنه توګه به د شریعت ټول احکام جاري او تطبیق شي، خو البته د احکاماتو په تطبیق کې عدل /انصاف کول ضروري دی، ځکه الله (جل جلاله) بار بار په عدل کولو امر کړی. لکه الله تعالی فرمايي: وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ) همدارنګه: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ) همداراز: (فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ) د همدې آیاتونو څخه څرګنده شوه کله چې یو څوک د خلکو په منځ کې حکم / فیصله کوي؛ نو په عدل /انصاف سره دې وکړي. څرنګه چې د شریعت موافق فیصله /قضاء کول یو درووند بار دی؛ نو باید د قضاء حکمتونه روښانه کړلای شي، تر څو خلک د قضاء اهمیت باندې پوه شي، په همدې اساس یو څو حکمتونه ستاسو درانه حضور ته وړاندې کوم.

**د قضاء حکمتونه**

قضاء د الله تعالی له لورې یو ستر مسؤولیت دی، البته د مسؤولیت سربېره په شریعت کې یې ډېر حکمتونه

١- د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ ابتدائیه محکمې قضائي محرر

هم ذکر شوي، چې یو څو بېلګې یې په لاندې ډول دي:

**لومړی حکمت: رفع التهارجِ، (قتل/ وژنه، له منځه وړل)**

په انساني ټولنه کې شخړې په غیر اختیاري توګه راتلونکې دي، آن تر دې چې کله وژنې ته هم ورسېږي، دا او دې په څېر شخړو او وژنو مخنیوي لپاره الله (جل جلاله) آسماني اصول/ قرآن عظیم شان نازل کړی، محدثینو او فقهاء کرامو یې تشریحات کړي، په همدې اساس د قضاء له حکمتونو څخه یو حکمت رفع التهارج دی.

تهارج: قتل/ وژنې ته ویل کېږي، لکه امام بخاري (رحمه الله تعالی) د ابو هریره (رضي الله عنه) په روایت یو حدیث نقل کړی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: په اخره زمانه کې به هرج زیات شي، صحابه کرامو وپوښتل ای د الله (جل جلاله) پیغمبره ( صلی الله علیه وسلم)! وما الهَرج؟ هرج څه ته وایي؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ځواب کې وویل: قتل/ وژنې ته وایي.)[1] نو د وخت حاکم/ قاضي لپاره دا اړینه ده چې نوموړی حکمت د خپل ځان لپاره یو مسؤولیت وګڼي، له دې امله چې په انساني/ بشري ټولنه کې د شخړو، قتل/ وژنو مخنیوی وشي.[2]

**دویم حکمت: ردّ النَّوائِب (د نازلیدونکو ستونزو/ حوادثو مخنیوی)**

رد په معنی د ځواب / منعې سره.[3] (۱) او نوائب د نائبة جمع ده او نائبة نازلیدونکو ستونزو/ مصیبتونو ته ویل کېږي.[4]

کله نا کله انسان له سختو ستونزو سره مخامخ کېږي، چې ځینې ستونزې فردي/شخصي وي، لکه: ناروغي او غم او بیا ځینې ستونزې ټولنې سره تړل شوي وي، لکه: په هېواد کې الهي پېښې/ حوادث، یا داسې ستونزې چې له امله یې د هېواد ټولو وګړو ته زیان رسېږي، لکه: په هېواد کې مالي کمښت، د صنعت / کاروبار نشتوالی، نا امني، بې عدالتي او نورې ستونزې، چې د نوموړو اشیاوو مخنیوی/ منعه یې ډېره اړینه ده.

په داسې حالاتو کې حاکم لره لازم او ضروري دی، چې د ستونزو د رامنځته کېدو په وخت کې حللارې پیدا او د راتلونکو حوادثو/ مصیبتونو لپاره نوی پلان طرحه کړي، تر څو د هېواد وګړي د ډاډ په صورت کې خپلې وجیبې تر سره کړي.

او د قاضي مسؤولیت دادی چې د خلکو / مدعي او مدعی علیه سره په هر حالت کې د عدل/ انصاف او د هېواد ټول حالت/ اړخونه وسنجوي او رد النوائب مفهوم دې په خپلو قضائي چارو کې ځای پر ځای کړي، فیصلو په اصدار کې د عدل/ انصاف او د حکمت

---

۱- الهَرْجُ: الاِخْتِلَاطُ، وشدَّة الْقَتْلِ وَكَثْرَتُهُ، لسان العرب جـ ٢ صـ ٣٨٩.. وفى حديث: أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ، ... وَيَكْثُرُ الهَرْجُ» قَالُوا: وَمَا الهَرْجُ؟ قَالَ: «القَتْلُ القَتْلُ». صحيح البخاري جـ ٨ صـ ١٤.

٢- وَأَمَّا حِكْمَتُهُ) فَرَفْعُ التَّهَارُجِ، تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكام : جـ ١ صـ ١٢.

٣- ردا وترددا ... مَنعه . المعجم الوسيط جـ ١ صـ ٣٣٧.

٤- النَّوائِبُ: جَمْعُ نائبةٍ، وَهِيَ مَا يَنُوبُ الإِنسانَ أَي يَنْزِلُ بِهِ مِنَ المُهِمَّات والحَوادِث. والنَّائِبَةُ المُصيبةُ، لسان العرب جـ ١ صـ ٧٧٤.

عملي څخه کار واخلي؛ ترڅو چې د هېواد وګړي د قضاء او عدالت په برخه کې هيڅ کوم تشويش ونه کړي.[1]

يادونه: د مسلم شريف په شرح کې علامه نووي (رحمه الله تعالى) او شاعر لبيد بن ربيعة العامري په خپل دېوان کې ذکر کړی، چې نومړی توری (النوائب) په خير او شر دواړو کې کارول کېږي.[2]

**درېيم حکمت قمْعُ الظَّالِم (ظالم ذليله کول)**

**قمع:** ذلت / رټلو ته ويل کېږي.[3]

**ظالم:** د حد څخه تېري کوونکي ته ويل کېږي.[4]

په همدې بناء د ځمکې پر مخ ډول ډول مخلوقات ژوند تېروي، ځينې ظالمان او ځينې مظلوم / کمزوري وي، له دې کبله چې د ظالم مخنيوی او د مظلوم دفاع وکولای شي؛ نو الله (جل جلاله) د قضاء پرېکړو احکامات نازل کړي دي او فقهاء کرامو د ښه روښانتيا لپاره ځينې حکمتونه ذکر کړي، يو له هغې حکمتونو څخه دادی؛ چې د ځمکې له سر څخه ظالم / فسادګر او زورواکان ذليل کړلای شي.[5] (۳) د مظلومو/ کمزورو انسانانو دفاع او مرسته وکولای شي، دا چې اسلامي نظام د عدل/ انصاف يوه مرجع ده؛ نو د قضاء مسؤولينو لپاره لازمه ده چې ظالم له ظلمونو څخه مهار او مظلوم يې له شر څخه په امن کړي.

**د ظالم او زورواکو د مخنيوي سببونه**

۱- پر ځمکه د الله (جل جلاله) حکمونه پلي کېدل؛

۲- په فيصلوا پرېکړو کې عدالت او انصاف کول؛

۳- د قضائي چارو په حل او فصل کولو کې د ځنډ او خنډ مخه نيول؛

۴- او د اداري فساد /رشوت او نورو ناوړو اعمالو مخنيوی کېدل.

**د ظالم او زورواکو د مخنيوي ګټې**

۱ـ د هېوادوالو مالونه او نفسونه په امن کې پاتې کېدل؛

۲- د هېوادوالو حياء او عزت خوندي کېدل؛

۳- د هېوادوالو حريت/ آزادي خوندي کېدل؛

۴- او ځانګړې ګټه داده چې ټول هېوادوال خپل ديني او دنياوي مسؤوليتونه په ډاډمنه فضاء کې تر سره کولای شي.[6]

نچوړ د خبرې دا شو چې ظالم /زورواک پېژندل او مخنيوی يې مهم ده، همدارنګه مظلوم پېژندل او مرسته ورسره کول ضروري ده.

---

۱- (وَأَمَّا حِكْمَتُهُ) ... وَرَدُّ النَّوَائِبِ، تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكام : جـ ۱ صـ ۱۲.

۲- قال النووي في شرحه على صحيح مسلم: جـ ۲ صـ ۲۰۲. النَّائِبَةَ قَدْ تَكُونُ فِي الْخَيْرِ وَقَدْ تَكُونُ فِي الشَّرِّ. وقال لبيد بن ربيعة العامري في ديوانه: صـ ۳٤۹. (نوائبُ مِنْ خَيرٍ وشرٍّ كِلَيهِمَا ** فلا الخَيرُ ممدُودٌ ولا الشرُّ لازبُ).

۳- قمع: القَمْعُ: مَصْدَرُ قَمَعَ الرجلَ يَقْمَعُه قَمْعاً وأَقْمَعَه فانْقَمَعَ قَهَرَه وذَلَّلَه فذَلَّ. والقَمْعُ: الذُّلُّ. لسان العرب صـ ۸ جـ ۲۹٤.

٤- «رَجُلٌ ظالِمٌ» : الْجائِرُ، الطَّاغِي، مَنْ يَظْلِمُ النَّاسَ بِلا حَقٍّ. تَجاوَزَ الْحَدَّ مَعَهُ، تَعَدَّى عَلَيْهِ، ظَلَمَهُ معجم المغني: صـ: ۱۷٤٥۷.

٥- (وَأَمَّا حِكْمَتُهُ) ... وَقَمْعُ الظَّالِمِ، تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكام : جـ ۱ صـ ۱۲.

٦- وللضرب على أيدي العابثين وأهل الفساد، كي يسود النظام في المجتمع، فيأمن كل فرد على نفسه وماله، وعلى عرضه وحريته، فتنهض البلدان ويتحقق العمران ويتفرغ الناس لما يصلح دينهم، ودنياهم فإن الظلم من شيم النفوس، ولو أنصف الناس استراح قضاتهم ولم يحتج إليهم. النظام القضائي صـ ٥.

**څلورم حکمت: نصرُ المَظْلومِ (د مظلوم سره مرسته کول)**

ټولو انسانانو لپاره اړینه ده چې د مظلوم سره مرسته وکړي، په ځانګړې توګه هغه مسؤولین چې د قضاء/ پرېکړې واک او اختیار لري، ځکه چې انس (رضي الله عنه) له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه روایت نقل کړی فرمایي: «خپل ورور سره ظالم او که مظلوم وي مرسته وکړئ، یو کس پوښتنه وکړه د مظلوم سره مرسته کول څرګنده ده؛ د ظالم سره څرنګه مرسته وکړو؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ځواب کې وویل: ظالم د ظلم څخه منع کول د هغه سره مرسته کول دي.[1]

همدارنګه براء بن عازب (رضی الله عنه) فرمایي: موږ ته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په اوو شیانو امر او له اوو (۷) شیانو څخه منع کړي یو، د آوامرو له جملې څخه یو داده چې مظلوم سره مرسته کول دي. د همدې امله علامه بدر الدین العیني الحنفي (رحمه الله تعالی) لیکلي دي چې مظلوم سره مرسته فرض کفایي ده؛ ځکه چې د یو کس مسؤولیت ادا کولو سره د نورو اشخاصو غاړه خلاصیږي، بیا یې زیاته کړې چې نوموړی مسؤولیت لومړی د واکمنانو /حاکمانو دی، د دوی په نشتون کې د منعې مسؤولیت هغه چاته راجع کېږي چې (من له قدرة) طاقت او قدرت ولري.

**پنځم حکمت: قَطْع الْخُصُومَات (جنجالونه/ شخړې له منځه وړل)**

په انساني/ بشري ټولنه کې خامخا یو بل سره ستونزې، کشمکش او تاوتریخوالی رامنځته کېږي، چې له امله یې په ولس/هېواد کې ناامني او ستونزې راڅرګندیږي، دا چې د انسانانو ترمنځ شخړې/جنګونه رامنځته نه شي؛ نو د قضاء حکمتونو څخه یو حکمت هغه رامنځته شوې شخړې او جنګونه له منځه وړل دي.[2]

فلهذا د خصوماتو /جنګ او جنجالونو د حل او فصل کولو لپاره فقهاوو درې لارې /طریقې په ګوته کړې چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

۱ـ جانبینو ترمنځ صلحه /جوړجاړی کول؛

۲- محکمې /قضاء د لارې شرعي فیصله صادرېدل؛

۳- او د خصمینو څخه یو شخص د خپل حق /برخې څخه تنازل کول یا له خپل حق څخه تېرېدل په داسې طریقې سره چې د نوموړي ته کما حقه حق ور نه کړل شي؛ خو البته قناعت پرې وکړي.

له دې پورته چارو پرته نورې چارې /طریقې د جنګ او جنجالونو حل نه؛ بلکې فساد بلل کېږي.[3]

نچوړ د خبرې دا شو چې قاضي/ حاکم لره اړینه ده چې دغه پورته مواردو کې خصمین چې په کوم شي

۱- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا» فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنْصُرُهُ إِذَا كَانَ مَظْلُومًا، أَفَرَأَيْتَ إِذَا كَانَ ظَالِمًا كَيْفَ أَنْصُرُهُ؟ قَالَ: «تَحْجُزُهُ، أَوْ تَمْنَعُهُ، مِنَ الظُّلْمِ فَإِنَّ ذَلِكَ نَصْرُهُ» صحيح البخاري: جـ ۹ صـ ۲۲.

۲- (وَأَمَّا حِكْمَتُهُ) ... وَقَطْعُ الْخُصُومَاتِ، تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكام : جـ ۱ صـ ۱۲.

۳- «فَالْأَقْسَام أَرْبَعَة: إمَّا فَصْل بِصُلْح. فَهَذَا هُوَ الْغَايَةُ لِأَنَّهُ حَصَّلَ الْمَقَاصِدَ ... وَإِمَّا فَصْلٌ بِحُكْم. فَقَدْ حَصَلَ مَعَهُ وُصُولُ الْحَقِّ وَقَطْعُ الْخُصُومَةِ وَلَمْ يَحْصُلْ مَعَهُ صَلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ ... وَإِمَّا صُلْحٌ عَلَى تَرْكِ بَعْضِ مَا يَدَّعِي أَنَّهُ حَقٌّ. فَهَذَا أَيْضًا قَدْ حَصَّلَ مَقْصُود الصُّلْحِ وَقَطَع النِّزَاعِ؛ وَلَمْ يَحْصُلْ مَقْصُودُ وُصُولِ الْحُقُوقِ؛ لَكِنْ مَا يَقُومُ مَقَامَهُ مِنْ التَّرْكِ ... وَأَمَّا لَا فَصل وَلَا صُلْح فَهَذَا لَا يَصْلُحُ يَحْصُلُ بِهِ مَفْسَدَةُ تَرْكِ الْقَضَاءِ.» مجموع الفتاوى لابن تيمية: ۳۵ صـ ۳۵۶.

کې خوښ او رضاء وو، مشکل دې حل او فصل کړي؛ البته صلحه دواړو جانبینو ته غوره او بهتره ده، نو حاکم / قاضي به لومړی کوښښ د صلحې وکړي، د خلاف په صورت کې به شرعي فیصله صادره کړي.[1]

**شپږم حکمت: الامر بالمعروف والنهي عن المنکر (په نېکیو امر او له بدیو څخه منعه کول)**

پرته له شکه امر بالمعروف او نهې عن المنکر د دین اقامه کولو لپاره یو ستر رکن دی.

له دې امله چې د دین/ اسلام نشر وشي، نوموړې مقدسې دندې ته رب (جل جلاله) یو لک څلورویشت زره کم یا زیات پیغمبران (صلوات الله علیهم) رالېږلي دي.

دا چې په اسلامي نظام کې امر بالمعروف او نهې عن المنکر یو ستر رکن دی، په اړه یې الله تعالی داسې فرمايي:

که موږ مسلمانانو (مهاجرینو) ته په ځمکه باندې سلطنت /حاکمیت ور وسپارو، دوی به لمونځونه قایم، د زکات ورکړه، په نېکیو امر او له بدیو به خلک منع کوي.[2]

همدارنګه امام ترمذي (رحمه الله تعالی) د جریر بن عبد الله (رضي الله عنه) په روایت حدیث نقل کړی، راوي فرمايي چې، موږ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره د لمانځه په اقامه کولو، زکات په ورکړې او هر مسلمان ته په نصیحت کولو سره بیعت کړی.[3]

فلهذا له آیات مبارکه او له حدیث شریف څخه راڅرګنده شوه چې یو چاته نصیحت /امر په نېکیو او له بدیو څخه منع لوی اهمیت او ارزښت لري؛ نو له همدې امله د قضاء په منصب باندې ناستو مسؤولینو ته اړینه ده چې نورو خلکو ته عموماً او جانبینو / مدعي او مدعی علیه ته خصوصاً نوموړي حکمت /امر بالمعروف او نهې عن المنکر ته پوره پاملرنې سره په احسنه توګه عملي کړي، چې تر څو که کوم جانب د یو چا ناحقه زورولو /زیاتي اراده کړې وي/ کوي، هغه د نوموړي حکمت په عملي کولو سره منع کړي، چې ترڅو خپله ناحقه دعوه پرېږدي او خلک یې له شر څخه په امن کې شي.[4]

**امر بالمعروف او نهې عن المنکر د نه تر سره کولو نقصانات**

محترمو مسؤولینو!

دا چې امر بالمعروف او نهې عن المنکر د اسلام نشر او اشاعت تر څنګ د ټولنې اصلاح لپاره اهم ترین امر دی؛ په نه ترسره کولو کې لاندې نقصاناتو رامنځته کېدو لامل به شي:

۱ـ د الله (جل جلاله) عمومي عذاب ښکاره کېدل.

لکه الله تعالی فرمايي: «ځان وساتئ تاسې له هغې فتنې (فساد) څخه چې نه رسیږي عذاب /عقوبت

---

۱- ومن تلك التشريعات التى تقض بها المنازعات: ۱- الصلح... ۲- القضاء... ۳- التحكيم... التحكيم في ضوء أحكام الشريعة الاسلاميه. صـ8 .

۲- «الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ». [الحج: الايه ٤١].

۳- «عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: «بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ» [سنن الترمذي جـ ٤ صـ ٣٢٤].

٤- (وَأَمَّا حِكْمَتُهُ) ... وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنْ الْمُنْكَرِ. [تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكام : جـ ١ صــ ١٢].

يوازې له تاسو څخه هغو کسانو ته چې ظلم يې کړی وي ... (عذاب به عمومي وي) پوه شئ چې د الله تعالی عذاب سخت دی.[1]

علامه ثناء الله المظهري (رحمه الله تعالی) په تفسير مظهري کې د دې آيت په تشريح کې ليکلي: چې د فتنې څخه مراد امر بالمعروف او نهې عن المنکر نه کول دي.[2]

مسند احمد د سيف بن أبي سليمان په روايت حديث نقل کړی، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايي: «چې الله تعالی د يو چا په ځانګړې ګناه باندې عام عذاب نه نازلوي، البته په هغه وخت کې چې د يو چا په مخې کې منکر او ناروا عمل تر سره شي او هغه يې په منع قادر وي او منع يې نه کړي.[3]

همدارنګه سنن ترمذي د ابو بکر الصديق (رضی الله تعالی عنه) په روايت حديث نقل کړی، چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايي: که خلکو يو ظالم وليد چې ظلم /زياتی يې کولو او منع /لاس نيوی يې ونه کړ؛ نږدې ده چې د نوموړي ظلم له امله پر ټولو باندې عذاب نازل شي.[4]

نچوړ د خبرې دا شو چې په عموم کې هر مسلمان خصوصاً مسؤولين او اخص الخصوص حاکم/ قاضي دې د نوموړي حکمت عملي کولو ته ډېره پاملرنه وکړي؛ ترڅو هغه عملونه چې د شريعت خلاف وي لکه: د ظلم، فساد او نورو بدکاريو /منکراتو پر وړاندې اصولي اقدامات وکړي، تر څو ټولنه اصلاح، د بې ځايه دعوو او جنجالونو مخه ونيول شي.

**اووم حکمت: إِظْهار الْحَقّ اي اقامته (حق/ عدل او انصاف قايمول)**

دا يو واضحه/ روښانه خبره ده چې الله (جل جلاله) چې څومره پيغمبران (صلواة الله عليهم) او آسماني کتابونه رانازل کړي، ډېرې موخې لري چې يوه د موخو څخه يې د ځمکې پر مخ د حق اظهار او عدل/ انصاف قايمول دي.[5]

لکه الله (جل جلاله) فرمايي: قسم دی خامخا په

---

۱- {وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ}. [الأنفال: الايه ۲۵].

۲- «واختلفوا في ذلك الفتنة ما هي؟ فقال: قوم هي ترك الأمر بالمعروف والنهى عن المنكر» التفسير المظهري: جـ ٤ صـ٤٧. تفسير القرطبي: جـ٧ صـ ٣٩٢. و روح البيان: ٣ صـ ٣٣٣. و تفسير المنار: جـ٤ صـ ٣٠. و زهرة التفاسير: جـ٦ صـ ٣١٠٠.

۳- عَنْ سَيْفِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ قَالَ: سَمِعْتُ عَدِيَّ بْنَ عَدِيٍّ الْكِنْدِيَّ يَقُولُ: حَدَّثَنِي مَوْلًى لَنَا، أَنَّهُ سَمِعَ جَدِّي يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ حَتَّى يَرَوُا الْمُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانِيهِمْ وَهُمْ قَادِرُونَ عَلَى أَنْ يُنْكِرُوهُ، فَلَا يُنْكِرُونَهُ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَذَّبَ اللَّهُ تَعَالَى الْخَاصَّةَ وَالْعَامَّةَ». مسند أحمد: جـ ۲۹ صـ ۲۵۸. و الزهد والرقائق لابن المبارك : جـ ۱ صـ ٤٧٦. و مسند ابن أبي شيبة : جـ ۲ صـ ۸٦. و کتاب الفتن لمروزي: صـ ۷٦۵.

٤- عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ -رضی الله تعالی عنهما- أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ» سنن الترمذي: جـ ٤ صـ ٤٦٧. و مسند أحمد: جـ ۱ صـ ۲۲۱. و مسند أبي يعلى الموصلي: جـ ۱ صـ ۱۱۸.

۵- اعْلَمْ أَنَّ (الْقَضَاءَ بِالْحَقِّ مِنْ أَقْوَى الْفَرَائِضِ ... إِظْهَارَ الْحَقِّ، الاختيار لتعليل المختار. جـ۲ صـ ۸۲.الْقَضَاءُ مِنَ الْوِلَايَاتِ الْعَامَّةِ، وَالْغَرَضُ مِنْهُ إِقَامَةُ الْعَدْلِ ... الموسوعة الفقهية الکويتية جـ ۲صـ ۳۸۲

تحقیق سره استولي وو موږ خپل استازي (پیغمبران) په څرګندو دلایلو /براهینو سره او نازل کړي وو موږ له دوی سره کتاب (د وخت موافق) او تله د (عدل) دي لپاره چې خلک په خپلو معاملاتو /پلورلو او پیرودلو کې په عدل/ انصاف سره قایم شي.[1]

موږ له دوی سره هغه آسماني کتابونه نازل کړي وو، چې د بشر نېکمرغی او د سعادت ضامن وو، همداراز هغه قانون او قواعد مو هم نازل کړي وو، چې د خلکو ترمنځ به وربانديې حکمونه او فیصلې کیدلې.

له همدې کبله الله (جل جلاله) موږ ته په قران کریم کې بار بار د عدل او انصاف امر فرمايي لکه: یقیناً الله تعالی امر کوي چې تاسو عدل (برابروالی) کوئ.[2]

همداراز په بل ځای کې فرمايي: کله چې تاسو د خلکو ترمنځ فیصله کوئ، نو تاسو فیصله وکړئ په عدل او انصاف سره.[3] (۷)

مطلب د پورته آیاتونو څخه را څرګنده شوه چې کله هم یو چاته د قضاء / فیصلو واک مسؤولیت وسپارل شي، هغه دي عدل او انصاف څخه کار واخلي.

**د شریعت په رڼا کې عادل امام / حاکم فضیلت**

په احادیثو کې د عادل امام /حاکم ډېر فضیلتونه ذکر شوي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- صحیح مسلم د عبد الله بْن عَمْرو (رضی الله تعالی عنهما) په روایت د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه حدیث نقل کړی فرمايي: هغه کسان چې په خپل، خپلوانو او ماتحتو مامورینو باندې خپل مسؤولیت/ فیصلې په عدل او انصاف سره تر سره کوي، هغوی به د قیامت په ورځ د الله (جل جلاله) په ښي اړخ روښانه منبرونو او تختونو باندې ناست وي.[4]

۲- صحیح بخاري د ابو هریره (رضي الله تعالی عنه) په روایت د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه حدیث نقل کړی فرمايي: د قیامت په ورځ به اووه (۷) کسان د الله (جل جلاله) د داسې سیوري لاندې وي، چې نور سیوری به نه وي، یو له هغه اوو کسانو څخه هغه امام /حاکم چې عادل او انصاف دار وي.[5]

مطلب: د احادیثو مبارکوو څخه راڅرګنده شوه چې هغه حاکم/قاضي چې خپل مسؤولیت په عدل انصاف سره ترسره کوي، دوی ته به الله (جل جلاله) یو ځانګړی مقام او مرتبه ورکوي، هغه دا چې د الله (جل جلاله) په ښې اړخ د رحمت او تر سیورې لاندې به وي.

**نور بیا...**

---

۱- {لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ}. [الحديد: ۲۵].

۲- {إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ} [النحل: ۹۰].

۳- {وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ} [النساء: ۵۸]

٤- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، ... قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ، عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ، وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ، الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا» صحيح مسلم جـ ٣ صـ ١٤٥٨.

٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: إِمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللَّهِ، الخ صحيح البخاري جـ ٨ صـ ١٦٣.



# د دعوی د اثبات په وسایلو کې د احنافو خصوصیات (ځانګړنې)

ترتیب کوونکی: مولوي ذبیح الله سیلاب[1]

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فهو المهتدي، ومن يضلل فلن تجد له ولياً مرشداً.

أما بعد!

کله چې مدعي خپله دعوی قاضي ته وړاندې کړي نو قاضي د دعوی په اړه له صحت او توضیحاتو وروسته د مدعی علیه څخه د مدعي د دعوی په اړه پوښتنه کوي، که چېرې مدعی علیه د مدعي د دعوی په اړه اقرار وکړي نو قاضي په همدې اقرار سره مدعی علیه ملزم کوي او د مدعي حق پرې ثابتېږي او حکم پرې صادرېږي، که چېرې مدعی علیه د مدعي له دعوی څخه انکار وکړي؛ نو قاضي له مدعی څخه د خپلې ادعا د ثبوت لپاره مثبته بینه غواړي او که چېرې مدعي له مثبت بینې څخه عاجز شي؛ نو قاضي د مدعي په غوښتنه مدعی علیه ته قسم راجع کوي، مدعي علیه به یا قسم کوي چې په دې سره د مدعي دعوی رد کېږي او یا به هم له قسم څخه نکول کوي چې په دې سره د مدعی په دعوی باندې اقرار کوونکی ګڼل کېږي او ملزم کېږي، دا چې د دعوی د اثبات د وسایلو په اړه او د هغې د صحت او عدم صحت لپاره معیار د فقهاوو تر منځ اختلافي دی؛ نو د اختلافي وسایلو او دلایلو په اړه داسې بحث او پلټنه کوو چې له نورو مذاهبو څخه احناف په کې ځانګړي دي.

**۱ـ د اقرار په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

**د اقرار تعریف:**

اقرار چې د فعل الثلاثي (قرّ) څخه دی په لغت کې په څو معناوو سره استعمالېږي، چې له جملې یې د اعتراف په معنی هم راځي:

۱ـ اقرار د اعتراف په معنی سره دی، لکه چې ویل کېږي: په حق یې اقرار وکړ، یعني اعتراف یې ورباندې وکړ؛ ځکه چې اقرار ضد د انکار دی.[۲]

په اصطلاح کې د اقرار تعریف:

هو اخبار عن ثبوت الحق للغير على نفسه.

یعنې پر خپل ځان د بل چا د حق په ثابتوالي خبر ورکول دي.[۳]

اقرار د حکم له ډېرو قوي اسبابو څخه ګڼل کېږي چې د

---

۱- د میدان وردګ ولایت د ښاري محکمې د مدني دیوان محرر.

۲- وأَقَرَّ بالحق: اعترف به الصحاح تاج اللغة (۲/۷۹۰)

۳- تبيين الحقائق( ۵/۲) تکملة فتح القدير (۲۷۹/۶).

اسلامي امارت د عدلي محاکمو اداري اصولنامه یې هم په ۱۳۹ ماده کې په اړه داسې صراحت لري: شهادت وروسته له اقراره خورا پیاوړی قطعي دلیل بلل کېږي...

دا چې په یاده ماده کې شهادت له اقرار څخه وروسته قطعي دلیل ښودل شوی؛ نو ښکاره ده چې اقرار په پیاوړتیا او قطعي والي کې له شهادت او نورو هغو اسبابو یا وسایلو څخه چې له شهادت څخه وروسته دي، پیاوړی او قطعي دلیل ګڼل کېږي.

اقرار د ټولو مذاهبو ترمنځ په اتفاقي ډول د حکم سبب ګڼل کېږي؛ خو د اقرار د رکن په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی، چې احناف له نورو مذاهبو او علماوو څخه په کې ځانګړي دي:

**لومړی رأیه:** د اقرار د رکن په اړه د احنافو رأیه دا ده چې د اقرار رکن هماغه لفظ دی چې په اقرار کوونکي باندې د بل د حق د ثبوت په اړه خبراوی ورکوي، دا خبراوی به یا صریحاً وي یا به دلالتاً وي، لکه دا چې یو شخص ووایي: لفلان علي ألف درهم، (د فلاني شخص په ما باندې زر درهم دي) چې دې ته صریح اقرار ویل کېږي او یا دا چې د دې خبرې (لي علیک ألف درهم، زما په تا باندې زر درهم دي) په ځواب کې ووایي: قد قضیتها چې هغه مې درته ادا کړي دي؛ ځکه چې ادا د مخکني وجوب تقاضا کوي چې دې ته دفع صحیحه هم ویل کېږي او دا ځواب په وجوب باندې دلالت کوي.

همدارنګه د ګونګي کس د فهم وړ اشارې چې په اقرار باندې دلالت کوي، یا کتابت او لیکنه ده، چې په اقراراتو باندې د ثبوت په وخت کې دلالت کوي.[1]

**دویمه رأیه:** جمهور علماء بیا د اقرار ارکان څلور ګڼي چې عبارت دي له:

مقر،

مقرله،

مقربه،

او صیغه یا قائم مقام د صیغې، لکه: کتابت، اشاره او یا هغه سکوت چې په ځای د ثبوت د حق کې وي.[2]

**۲ـ د شهادت په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

شهادت د مدعی به او د حق د اثبات د وسایلو لپاره له اقرار څخه وروسته تر ټولو قوي وسیله او دلیل دی، لکه څنګه چې د اقرار په اړه د اداري اصولنامې په ۱۳۹مه ماده کې واضح شول؛ حتی ځینې فقهاوو ویلي چې شهادت تر ټولو ډېر تأکید کوونکی حجت دی چې په حدودو، قصاص، فروجو او مالونو کې په هغه باندې د عمل په اړه هېڅ اختلاف نشته.[3]

**د شهادت تعریف:**

شهادت د شَهِدَ نه مشتق شوی دی چې جمعه یې شهاداتٌ راځي او جوهري ویلي چې شهادت قاطع خبر ته ویل کېږي، د شهادت لفظ په لغت کې په څو معناوو راغلی دی چې له جملې یې ځینې دا دي:

۱ـ شهادت د المعاینه چې د لیدو په معنی سره دی راغلی؛ لکه چې ویل کېږي شهدت الشئَ (یو شی مې ولید).

۲ـ شهادت د الحضور چې د شتون او موندلو په معنی سره راغلی دی، لکه د الله (جَلَّ) په دې قول کې: فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَلیَصُمهُ.[4]

---

۱- بدائع الصنائع (۲۰۷/۷-۲۰۸)، تبیین الحقائق (۷/۵-۱۱) الجوهرة النیرة (۲۵۲/۱- ۲۵۴).

۲- تبصرة الحکام (۵۱/۲) حاشیة العدوي (۳۷۲/۲) الحاوي الکبیر(۹/۷).

۳- روضة القضاء و طریق النجاة (۱۹۶/۱).

٤- -[سورة البقرة، ۵۸۱ آیت]

۳- شهادت د العلم چې د پوهې په معنی سره راغلی دی، لکه د الله (ﷻ) په دې قول کې: شَهِدَ اللهُ أَنَّهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ [۱]

۴- شهادت د الحلف چې د قسم په معنی سره راغلی دی، لکه د الله (ﷻ) په دې قول کې: اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُولُ الله. [۲]

**په اصطلاح کې د شهادت تعریف:**

د شهادت د اصطلاحي تعریف په اړه هم له فقهاوو څخه مختلف الفاظ رانقل شوي چې له جملې یې ابن الهمام داسې تعریف کړی دی: إِخْبَارُ صِدْقٍ لِإِثْبَاتِ حَقٍّ بِلَفْظِ الشَّهَادَةِ فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ. [۳]

یعنې د شهادت په لفظ سره د قضاء په مجلس کې د حق د اثبات لپاره په رښتیا خبر ورکول دي. همدارنګه د اداري اصولنامې ۱۳۹مه ماده کې داسې تعریف شوی دی: شهادت وروسته له اقراره خورا پیاوړی قطعي دلیل بلل کېږي او هغه د حق اخبار دی د (اشهد) په لفظ سره او په هغه کې د شهادت شرعي شرایط په نظر کې نیول کېږي.

دغه راز د مجلة الاحکام په ۱۶۸۴مه ماده کې شهادت داسې تعریف شوی دی: الشَّهَادَةُ هِيَ الإِخْبَارُ بِلَفْظِ الشَّهَادَةِ.

یعنې شهادت عبارت دی، چې یو څوک له یوې موضوع څخه د شهادت په لفظ سره خبر ورکړي، په دې معنی چې د حاکم په حضور او د دعوی د طرفینو په مخ کې ووایي: شهادت ورکوم د حق د اثبات د هغه کس لپاره چې د بل په ذمه یې لري.

**د شهادت د ارکانو په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

**لومړی رأیه:** د احنافو په نزد شهادت لکه اقرار یو رکن لري چې هغه لفظ د أشهد دی؛ ځکه چې د أشهد لفظ معنی د مشاهدې، قسم او اخبار له حال څخه ده چې دې ټولو ته شاملېږي، لکه داسې چې ووایي: أقسم بالله لقد اطلعت على ذلك وأنا أخبر به.

او دا معناوې په نورو الفاظو کې نشته، حتی تر دې که چېرې دا ورسره اضافه کړي چې شهادت وایم په هغه طریقه چې زه پرې عالم یم؛ نو د شك له امله یې شهادت باطلېږي. [٤]

**دویمه رأیه:** د جمهورو علماوو له نظره د شهادت ارکان پنځه دي:

۱- شاهد؛

۲- مشهود له؛

۳- مشهود علیه؛

۴- مشهود به؛

۵- او صیغه. [٥]

**د شهادت د شرطونو په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

احناف لکه څرنګه چې په ارکانو د شهادت کې له نورو علماوو څخه ځانته‌والی لري همدارنګه په ځینو شرطونو کې یې هم له نورو علماوو څخه ځانته‌والی لري:

**اسلام:**

**لومړی رأیه:** احناف د شاهد لپاره اسلام شرط نه ګڼي، د احنافو په نزد باندې شهادت د ذمي پر ذمي باندې

---

۱- -[سورة آل عمران، ۱۸ آیت]

۲- - [سورة المنافقون، ۱ آیت]

القاموس المحیط (۳۰۵/۱) مختار الصحاح (صـ ۳۴۹) المصباح المنیر (۴۴۳/۱) تهذیب اللغة (۴۷/٦).

۳- - فتح القدیر (۳٦۴/۷).

٤- حاشیة ابن عابدین (۴٦۲/۵) تبیین الحقائق (۲۰۷/۴) بدائع الصنائع (۲٦٦/٦).

٥- مغني ابن قدامه (۴۲٦/۴).

هم قبلېږي؛ البته که شهادت په مسلمان باندې و، بیا په اتفاق د علماوو سره په شاهد کې اسلام د شهادت لپاره شرط دی. [1]

**دویمه رأیه:** د مالکیه، شافعیه او حنابله په نزد بیا د شهادت لپاره اسلام شرط دی؛ نو د دوی په نزد باندې شهادت د ذمي پر ذمي باندې نه قبلېږي، دا چې اسلام په شاهد کې شرط دی؛ نو بناءً د دوی په نزد د کافر شهادت په هېڅ حالت کې نه په کافر او نه په مسلمان باندې قبلېږي. [2]

**عدالت:**

په دې اړه ټول مذاهب متفق دي چې د شهادت د ادا کولو او قبولیت لپاره عدالت شرط دی؛ اما د عدالت او تزکیې په اړه یې ترمنځ اختلاف موجود دی، چې که چېرې د شاهد حال پټ وي قاضي د هغه عدالت او فسق ونه پېژني او مشهود علیه په هغه باندې عیب ولګوي؛ نو د هغه د عدالت پېژندنې لاره څه ده؟

**لومړۍ رأیه:** د امام ابوحنیفه (رحمه‌الله) په نزد د مستور الحال مسلمان شهادت د هغې د عدالت په اړه د بحث له اړتیا پرته د قبول وړ دی؛ ځکه د مسلمان حالت ظاهراً عدالت دی، له همدې جهته عمر بن الخطاب (رضي‌الله عنه) فرمایلي دي: مسلمانان د مسلمانانو پر وړاندې عادل دي؛ نو په همدې اساس تر هغه پورې چې خصم یې عدالت عیبي نه کړي او شهادت تر حدودو او قصاص پورې اړه ونه لري د مستور الحال شهادت قبلېږي، هر چېرې چې حدود او قصاص دي په هغه کې د شاهد په ظاهري عدالت بسنه نه کېږي؛ ځکه دا چارې احتیاط ته اړتیا لري او په شبهه سره دفعه کېږي؛ نو په دغه حالت کې د هغه د عدالت په اړه بحث او پلټنه لازمي ګڼل کېږي چې دې پلټنې ته د شاهدانو تزکیه وایي. [3]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه، حنابله او د امام ابوحنیفه شاګردان (امام ابو یوسف او امام محمد) (رحمهم الله تعالی) مذهب دا دی چې د مستور الحال شاهد تزکیه واجب ده، تر څو یې عدالت او فسق معلوم شي، که یې شهادت تر قصاص او حدودو پورې اړه لري او یا هم تر نورو شیانو پورې، که یې خصم په شهادت کې عیب لګولي وي یا نه. [4]

د اسلامي امارت د محاکمو لایحې د (۱۱۹مې) مادې په اساس هم د شاهدانو علني او سري تزکیه د کوم حالت له استثناء پرته لازمي ګڼل شوې ده، چې داسې صراحت لري: باید د شهودو سري او علني تزکیه وشي او د تزکیې ذکر یې په فیصله کې وشي.

دغه راز د حقوقي اصولنامې د (۱۳۷مې) مادې په اساس د ملزمو شهودو نه تزکیه د فیصلې د نقض موجب ګڼل شوې ده چې داسې صراحت لري: که د ملزمو شهودو تزکیه نه وي شوې د تمیز د غور وړ او د ارجاع موجب دی.

علماء کرام په دې اړه هم اختلاف لري چې آیا د شاهدانو عدالت حق الله دی او که حق العبد دی؟

لومړۍ رأیه: د امام ابوحنیفه (رحمه‌الله تعالی) په نزد د شاهد عدالت د خصم حق دی، له همدې امله په ظاهري عدالت د شاهد باندې بسنه کېږي؛ تر څو چې خصم کوم طعن نه وي وړاندې لګولی، له همدې امله که چېرې کوم فاسق شهادت ادا کړي او قاضي یې په

---

۱- الهدایة في شرح بدایة المبتدي (۱۲۳/۳)، بدائع الصنائع (۲۸۰/٦)، الاختیار لتعلیل المختار (۱٤۹/۲) المحیط البرهاني (۹٦/۸).

۲- الحاوي الکبیر (٦۲/۱۷-٦۳)، مغني المحتاج (۳۳۹/٦) المهذب (٤۳۷/۳).

۳- المبسوط للسرخسي(۱۱۳/۱٦)، البنایة شرح الهدایة (۱۱۲/۹).

٤- (بدایة المجتهد(۲٤٥/٤) حاشیة قلیوبي و عمیرة (۳۱۹/٤) المغني (۳۱۹/۱۰)، الهدایة (۱٥۷/۳).

اړه داسې ګمان ولري چې صادق دی؛ نو دا جایز دي چې په شهادت یې حکم وشي.[1]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه، حنابله او صاحبین (رحمهما الله تعالی) په دې اند دي چې عدالت د شهودو له حق الله څخه دی چې له همدې امله په دې کې تنازل او تساهل نه دی جایز، د فاسق سړي شهادت هم نه قبلېږي او تزکیه یې هم د عدالت پېژندنې لپاره د خصم له غوښتنې پرته شرط ده.[2]

**قذف:**

کله چې یو شاهد محدود په حد د قذف سره وي، د علماوو په اتفاق سره یې له توبې کولو مخکې شهادت نه قبلېږي؛ خو دا چې شاهد وروسته د قذف له حد څخه توبه وباسي؛ نو آیا شهادت یې قبلېږي او کنه په دې هم د علماوو ترمنځ اختلاف دی:

**لومړی رأیه:** په دې اړه د احنافو رأیه دا ده چې د هغه شاهد شهادت هېڅ وخت نه قبلېږي چې هغه د قذف له وجې په حد شوی وي؛ اګر که توبه هم وباسي، خو په دې شرط چې اتیا دُرې به پوره وهل شوی وي او که چېرې د قذف له وجې نه اویا درې وهل شوی و، بیا یې شهادت قبلېږي.[3]

**دویمه رأیه:** د مالکیه، شافعیه او حنابله‌وو (رحمهما الله تعالی) په نزد بیا د هغه چا شهادت چې د قذف له وجې په حد شوی وي وروسته له توبې ایستلو څخه یې شهادت قبلېږي.[4]

**لیدنه:** د شاهد لپاره شرط ده چې لیدونکی وي، که چېرې څه ونهویني او یا هم ړوند وي په دې اړه د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی، چې آیا شهادت یې قبلېږي او کنه؟

**لومړی رأیه:** د امام ابوحنیفه او امام محمد (رحمهما الله تعالی) په نزد یې شهادت نه قبلېږي، د طرفینو (رحمهماالله تعالی) په نزد باندې د شاهد لپاره د شهادت د تحمل، د شهادت ادا کولو او حکم پر مهال لیدنه شرط ده، چې په دې کې امام شافعي (رحمه‌الله تعالی) هم له احنافو سره ملګری دی.

**دویمه رأیه:** د احنافو له جملې امام ابو یوسف (رحمه‌الله تعالی) لیدنه بیا صرف د تحمل پر مهال شرط ګڼي د شهادت د ادا لپاره یې شرط نه ګڼي.[5]

**درېیمه رأیه:** مالکیه، حنابله او له شوافعو څخه المزني بیا د ړانده شهادت په اقوالو کې جایز ګڼي او په افعالو کې یې جایز نه ګڼي.[6]

**وینا:**

دا چې د شاهد لپاره وینا شرط ده او کنه؟ په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی:

**لومړی رأیه:** د احنافو په نزد د ګونګي شهادت نه قبلېږي.[7]

**دویمه رأیه:** د امام مالک او امام شافعي (رحمهما

---

١- تبیین الحقائق (٢١٠/٤)، المبسوط للسرخسي (٨٨/١٦) الهدایة (١١٨/٣).

٢- تبصرة الحکام (٣٠٠/١) الحاوي الکبیر (١٨٢/١٦)، المغني (٥٩/١٠)، المبسوط للسرخسي (٨٨/١٦)، تبیین الحقائق (٢١٠/٤) الهدایة (١١٨/٣).

٣- العنایة (١٤٨/٧) بدائع الصنائع (٢٧١/٦) الغرة المنیفة (صـ ١٦١)، المبسوط للسرخسي (١٢٢/١٦) تبیین الحقائق (٢١٩/٤) تحفة الفقهاء(٣٦٢/٣).

٤- بدایة المجتهد(٢٢٦/٤) الحاوي الکبیر(٢٤/٧١)، المغني (١٧٨/١٠).

٥- بدائع الصنائع(٢٦٦/٦-٢٦٨) تحفة الفقهاء (٣٦٢/٣) العنایة شرح الهدایة (٣٩٧/٧)، الجوهرة النیرة علی مختصر القدوري(٢٢٩/٢).

٦- حاشیة الدسوقي علی الشرح الکبیر (١٦٧/٤)، المغني (١٧٠/١٠-١٧١) المهذب (٤٥٦/٣).

٧- فتح القدیر(٣٩٩/٧)، بدائع الصنائع (٢٦٨/٦) المبسوط للسرخسي(١٣٠/١٦) دررالحکام (٣٥٦/٤) مجلة الاحکام (١٧٨٦) الفتاوی

الله تعالی) په نزد باندې د ګونګي شهادت هغه وخت قبول دی چې د اشارې دلالت یې مفهوم ولري. [1]

**په یوازېتوب سره د ښځو د شهادت په اړه د احنافو ځانته والی:**

په دې کې شک نشته چې په یوازېتوب سره د ښځو شهادت چې نارینه ورسره نه وي په هغو مواردو کې د قبول وړ دی چې نارینه په هغې باندې نشي خبرېدلای لکه: هغه عیوب چې پټ او خلقي وي او په ښځو پورې تړاو لري (ولادت، بکارت او... ) اما په دې اړه د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی چې د رضاعت په مورد کې د ښځو شهادت په یوازېتوب سره بدون د نارینه وو له شتون څخه قبلېږي او کنه؟

**لومړی رأیه:** د احنافو په نزد باندې د رضاعت په اړه د ښځو شهادت په یوازېتوب سره نه صحیح کېږي؛ بلکې د رضاعت ثبوت د احنافو په نزد باندې د دوو نارینه وو او یا یوه نارینه او دوو ښځو په شهادت سره کېږي. [2]

**دویمه رأیه:** د مالکیه، شافعیه او حنابله په نزد باندې د رضاعت د ثبوت په اړه د ښځو شهادت په یوازېتوب سره بدون له نارینه څخه هم قبلېږي. [3]

**د ماشوم د ژړا اړوند تنها د ښځو د شهادت په اړه د احنافو ځانته والی:**

د ماشوم له ژړا څخه مقصد هغه ژړا ده چې د نوي پیدا شوي ماشوم په ژوند باندې دلالت کوي.

**لومړی رأیه:** احناف په دې اړه متفق دي چې په یوازېتوب سره د ښځو شهادت د ماشوم په ژړا باندې د جنازې د لمانځه په حق کې قبلېږي؛ خو په دې اړه یې ترمنځ اختلاف دی چې د میراث په اړه د ښځو شهادت په یوازېتوب سره قبلېږي او کنه؟ د امام ابو حنیفه (رحمه‌الله تعالی) په نزد باندې د ماشوم د ژړا په اړه چې میراث وربانديې ثابتېږي د دوو نارینه وو او یا یوه نارینه او دوو ښځو شهادت ضروري دی، په دې معنی چې په دې اړه یوازې د ښځو شهادت کفایت نه کوي، د امام ابو یوسف او امام محمد (رحمهما الله تعالی) په نزد باندې بیا په دې اړه د یوې حرې، مسلمانې او عادلې ښځې شهادت کفایت کوي. [4]

**دویمه رأیه:** د مالکیه، شافعیه او حنابله په نزد بیا د ماشوم د ژړا په اړه د ښځو شهادت په یوازېتوب سره هم د جنازې د لمانځه لپاره او هم د میراث د ثبوت لپاره کفایت کوي. [5]

دا چې د مذاهبو ترمنځ یوازې د ښځو شهادت منل په هغو مواردو کې چې نارینه نشي پرې خبرېدلای اتفاقي خبره ده؛ خو په دې اړه یې هم اختلاف کړی چې په هغو عیبو کې چې تر ښځو پورې اړوند دي د شاهدو ښځو شمېر به څو وي؟

**لومړی رأیه:** د احنافو په نزد د یوې ښځې شهادت کفایت کوي چې په دې اړه حنابله هم له احنافو سره

---

الهندیة (۴۶۴/۳).

۱- المحلی (۴۳۳/۹) المغني لابن قدامه (۱۸۹/۹- ۱۹۰).

۲- الاختیار لتعلیل المختار(۱۴۱/۲) العنایة (۴۶۱/۳-۴۶۲)، الجوهرة النیرة (۳۰/۲) اللباب في شرح الکتاب(۳۶/۳).

۳- بدایة المجتهد(۲۴۸/۴)، الحاوي الکبیر(۲۰/۱۷)، المغني (۱۳۷/۱۰).

٤- المبسوط للسرخسي(۱۴۴/۱۶) تبیین الحقائق (۲۰۹/۴) الاختیار لتعلیل المختار(۱۴۱/۲) العنایة (۳۷۵/۷) المحیط البرهاني (۳۱۰/۸) معین الحکام (صـ ۹۶).

۵- حاشیة العدوي علی شرح کفایة الطالب الرباني(۳۴۴/۲) جواهر العقود و معین القضاة و الموقعین و الشهود (۳۱۵/۲) المغني (۱۳۷/۱۰) المبدع(۳۳۶/۸).

موافق دي. [1]

**دویمه رأیه:** مالکیه وایي چې په دې ډول شهادتونو کې باید د شاهدو ښځو شمېر (دوه) وي.[2]

**درېیمه رأیه:** امام شافعي (رحمه‌الله تعالی) وایي چې د شاهدو ښځو شمېر باید (څلور) وي.[3]

**یو شاهد او د مدعي د قسم په اړه د احنافو ځانتوالی:**

دا چې مدعي د خپلې ادعا د ثبوت لپاره محکمې ته دوه شاهدان د قاضي مجلس ته وړاندې کوي؛ خو کله داسې وي چې مدعي د دوو شاهدانو له حاضرولو عاجز کېږي؛ په دې صورت کې آیا جایز ده چې قاضي مدعی ته د یوه شاهد تر شهادت وروسته قسم متوجه کړي او د مدعی بها په اړه وروسته د مدعي له قسم څخه حکم ورته صادر کړي، په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی:

**لومړی رأیه:** د احنافو (رحمهم الله تعالی) رأیه په دې اړه دا ده چې قضاء په یوه شاهد او قسم د مدعي سره غیر مشروع او جایز نه دی، چې په دې رأیه کې ځینې مالکیه علماء کرام او اباضیه، همدارنګه امام اوزاعي (رحمه الله)، امام شعبي (رحمه الله)، امام نخعي (رحمه الله) هم ورسره همنظره دي.[4]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه، حنابله، زیدیه او ظاهریه په دې اند دي چې د یو تن په شاهدۍ او د مدعي په قسم سره قضاء کول جایز دي.[5]

**د درواغو شهادت په اړه د احنافو ځانتهوالی:**

د درواغو شاهدي ادا کول د کبیره ګناهونو له ډلې ده او الله (جل‌جلاله) هغه د بت‌پرستۍ له منعې سره یو ځای ذکر کړې ده او ګڼ شمېر احادیث هم د درواغو شاهدۍ د بدوالي او له هغې څخه د منعې په اړه راغلي دي؛ خو که چېرې څا په درواغو باندې شهادت ادا کړه او قاضي په همدې شهادت باندې حکم وکړ؛ نو آیا نوموړی حکم ظاهراً او باطناً نافذ دئ؟ او آیا د دغه کسانو جزا او عقوبت څه دئ؟ آیا تعزیر به په وهلو سره ورکول کېږي او که یې مشهورول کفایت کوي؟ په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی:

**لومړی رأیه:** د امام ابوحنیفه (رحمه‌الله تعالی) په نزد او د امام ابو یوسف (رحمه‌الله تعالی) د لومړی رایې په اساس که چېرې قاضي په عقد او یا فسخ او یا هم طلاق کې حکم د هغو شاهدانو په شهادت سره وکړي چې په درواغو یې ادا کړی دی ظاهراً او باطناً یې قضاء نافذه ده.[6]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه، حنابله او له احنافو څخه امام محمد په نزد او د امام ابو یوسف د دویمې رایې په اساس که چېرې قاضي په عقد یا فسخ او یا هم طلاق کې د هغه شاهد په شهادت حکم صادر کړ چې شهادت یې په درواغو ویلی دی؛ نو قضاء یې ظاهراً نافذه ده او باطناً نه نافذېږي.[7]

---

۱- بدائع الصنائع (۲۸۷/٦)، المغني (۱۵۵/۹).

۲- تبصرة الحکام(۲۳۵/۲).

۳- مغني المحتاج(۴۴۲/۴) المجموع(۱۳۲/۲).

٤- بدائع الصنائع (۲۲۵/٦)، الفصول في الأصول(۲۷۹/۲) القوانین الفقهیة (صـ۳۰۱)، تبصرة الحکام (۲٦۸/۱)، المغني (۱۵۲/۹).

٥- الحاوي(۱۰۷/۱۲)، مغني المحتاج (۴۴۳/۴) الاقناع (۳۴۹/۴) تبصرة الحکام (۲۱۲/۱) مواهب الجلیل(۱۸/٦) المغني (۱۵۰/۹) الطروق الحکمیة (صـ ۳۰۱) شرائع الاسلام (۲۱۵/۲).

٦- المبسوط للسرخسي (۱۸۰/۱٦) بدائع الصنائع (۱۵/۷) الغرة المنیفة (صـ ۱۸۲) الجوهرة النیرة (۲۳۸/۲) تبیین الحقائق (۱۱٦/۲).

۷- الفروق(۴-۴۱/۴۲) تحفة المحتاج (۱۴۵/۱۰)، الحاوي الکبیر (۱۱/۱۷) المغني (۵۳/۱۰) المبسوط للسرخسي(۱۸۰/۱٦) بدائع

**په درواغو د شهادت ادا کوونکي شاهد د تعزیر په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

همدارنګه علماء په دې اړه هم اختلاف لري چې که چېرې یو څوک د درواغو شهادت ادا کړي او په دې اقرار وکړي چې شهادت یې په درواغو ویلی او یا هم هغه څوک د ده په شهادت کې چې مشهود علیه واقع شوی دی او له امله محکوم علیه ګرځېدلی دا وربانديي ثابته کړي چې د شاهد شهادت په درواغو دی؛ نو د شاهد جزا په دې مورد کې څه ده؟

**لومړی رأیه:** د امام ابوحنیفه (رحمه‌الله تعالی) په نزد باندې یې جزا د خلکو ترمنځ د دغه کس مشهورول دي، په داسې ډول سره چې که چېرې درواغجن شاهد د بازار اوسېدونکی وي؛ نو په بازار کې یې دې په اړه غبر وکړي او که چېرې د کلي اوسېدونکی وي د کلي په مسجد کې یې دې په اړه غبر وکړي او غبر کوونکی دې ووایي: دغه د درواغو شاهدي ورکوونکی دی له دې ځان ساتنه وکړئ.[1]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه، حنابله او له احنافو څخه صاحبین (رحمهم الله تعالی) بیا په دې اند دي چې درواغجن شاهد ته باید د تشهیر سره په وهلو هم تعزیر ورکړل شي؛ خو دې وهلو په اندازه کې یې په خپلو کې اختلاف دی:

**لومړی رأیه:** د مالکیه، شافعیه، امام محمد او امام ابو یوسف د لومړی رایې په بنسټ یې باید درواغجن شاهد تر څلوېښتو دُرو زیات ونه وهل شي.

**دویمه رأیه:** د امام ابو یوسف (رحمه‌الله تعالی) د دویمې رأیې په اساس درواغجن شاهد باید پنځه اویا دُرې ووهل شي.

**درېیمه رأیه:** حنابله بیا په دې اند دي چې د وهلو اندازه باید لس دُرې وي او تر لس باید زیات نه شي، د جمهورو په نزد باندې تشهیر بیا دا دی چې درواغجن شاهد باید په مجالسو باندې وګرځول شي او خلک په دې وپوهول شي چې دا درواغجن شاهد دی له دې ځانونه وساتئ.[2]

**د درواغجن شاهد د شهادت د قبلېدو په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

دا چې د درواغجن شاهد شهادت وروسته له توبې قبلېږي او کنه په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف دی:

**لومړی رأیه:** امام ابو حنیفه (رحمه‌الله) وایي چې که چېرې معروف په عدالت سره و؛ نو وروسته له توبې بدون له دې چې مده وربانديې تېره شوي او کنه شهادت یې قبلېږي، چې په دې رأیه کې حنابله او شوافع هم ورسره متفق دي؛ خو په دومره توپیر چې شوافع او حنابله د توبې د اثر د معلوموالي لپاره د وخت تېرېدنه شرط ګڼي.[3]

**دویمه رأیه:** مالکیه او له احنافو څخه امام ابو یوسف (رحمه‌الله تعالی) بیا په دې اند دي چې د هغه کس چې معروف په عدالت سره وي، چې کله هم په درواغو باندې شهادت ادا کړي نو بیا یې تر ابده پورې شهادت نه قبلېږي؛ خو که چېرې معروف په عدالت سره نه وي؛

---

الصنائع (۱۵/۷) الغرة المنیفة (صـ ۱۸۲).

۱- بدائع الصنائع (۲۸۹/۶) المبسوط للسرخسي (۱۴۵/۱۶)، الهدایة (۱۳۱/۳)، مجمع الأنهر (۳۰۵/۳) النتف في الفتاوی (۸۰۳/۲-۸۰۴).

۲- مختصر خلیل (۱۵۲/۷) الحاوي الکبیر (۳۱۹/۱۶-۳۲۰) المغني (۲۳۱/۱۰-۲۳۲) المحیط البرهاني (۴۵۷/۸) المبسوط للسرخسي (۱۴۵/۱۶) بدائع الصنائع (۲۸۹/۶) الهدایة (۱۳۱/۳) النتف في الفتاوی (۸۰۳/۲).

۳- قره عین الأخیار لتکملة رد المحتار (۵۴۵/۷) رد المحتار (۴۷۴/۵)، البحرالرائق (۹۵/۷) المحیط البرهاني (۴۵۸/۸) المغني (۲۶۲/۹)، الفتاوی الهندیة (۴۶۸/۳).

نو وروسته له توبه کولو څخه يې شهادت قبلېږي.[1]

**۳ـ د يمين (قسم) په اړه د احنافو ځانتهوالی:**

که چېرې مدعي د مدعی علیه د اقرار یا شهادت او نورو دلایلو په واسطه خپله دعوی ثابته کړي؛ نو قاضي د هغه په ګټه حکم صادروي خو که چېرې مدعي د دعوی له اثبات څخه عاجز شي نو قاضي ورته وايي چې کولای شي مدعی علیه ته قسم ورکړې؛ ځکه قسم ورکول د مدعي حق دی، که چېرې مدعي د مدعی علیه د قسم غوښتنه وکړه نو قاضي له مدعی علیه څخه غواړي چې قسم یاد کړي که چېرې مدعی علیه قسم یاد کړي؛ نو قاضي د مدعي دعوی ردوي او محاکمه پای ته رسوي، په همدې اساس قسم د دعوی د اثبات د وسایلو له جملې څخه ګڼل کېږي.

**د يمين تعريف:**

يمين مفرد مؤنث لفظ دی چې جمعه يې ايمن او ايمان راځي او په لغت کې په ګڼ شمېر معناوو راغلی چې له جملې يې ځينې دا دي:

۱ـ يمين د قوت په معنی سره دی، لکه الله تعالی (جل جلاله) چې فرمايلي دي: لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ.[2]

۲ـ يمين د لاس په معنی سره دی، لکه الله تعالی (جل جلاله) چې فرمايلي دي: فَرَاغَ عَلَيۡهِمۡ ضَرۡبَۢا بِٱلۡيَمِينِ.[3]

۳ـ يمين د حلف، قسم او لوړې په معنی سره دی او حلف او قسم ته ځکه يمين وايي چې د جاهليت په وخت کې چې کله عربانو لوړه سره کوله؛ نو هر يوه به خپل ښی لاس د بل په ښي لاس کې کېښودلو، لکه څرنګه چې ښی لاس تر کيڼ لاس قوي دی همداراز حالف هم په حلف او لوړې سره ځان قوي کوي.[4]

**په اصطلاح کې د يمين تعريف:**

يمين په اصطلاح کې داسې تعريف شوی دی: هو عقد قوي بها عزم الحالف على الفعل أو الترک. يعنې هغه مضبوط تړون دی چې قسم کوونکی يې د يو فعل د کولو او يا نه کولو لپاره ترسره کوي.[5]

او يا هم قسم عبارت دی له: ما يوجه الى المدعى عليه أو المدعي و تکون الحلف بالله أو بصفة من صفاته.

يعنې يمين يا لوړه هغه څه دي چې مدعی علیه يا مدعي ته متوجه کېږي او د الله تعالی په نوم يا صفت د صفاتو نه يې لوړه کول دي.[6]

دا چې يمين (قسم) د ټولو مذاهبو ترمنځ په اتفاقي ډول باندې د اثبات له وسايلو څخه يوه وسيله ګڼل کېږي او په دې هم ټول متفق دي چې مدعی علیه ته قسم ورکول کېږي؛ خو په دې اړه د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی چې که چېرې مدعی علیه له قسم څخه انکار وکړي آيا مدعي ته قسم ورکول کېږي او که محاکمه پای مومي او قاضي حکم صادره وي؟ او همدارنګه د قسم د سختوالي په اړه هم يو له بل سره اختلاف لري:

**مدعي ته د قسم متوجه کول په هغه وخت کې چې مدعی علیه له قسم څخه نکول وکړي:**

**لومړۍ رأيه:** د حنفيه او حنابله په نزد باندې وروسته له انکار د مدعی علیه له قسم څخه مدعي ته قسم نه متوجه کېږي؛ بلکې د مدعی علیه په انکار (نکول) له

---

۱- المحيط البرهاني (۴۵۸/۸)، قره عين الأخيار لتکملة رد المحتار (۵۴۵/۷) فتاوى قاضيخان (۲۷۷/۲)الفتاوى الهندية (۴۶۸/۳).

۲- [سورة الحاقة، ۴۵ آيت]

۳- [سورة الصفات، ۹۳].

٤- لسان العرب (۴۶۳/۱۳) المصباح المنير(۹۳۸/۲).

۵- تبيين الحقائق(۱۰۷/۳) الجوهرة النيرة (۱۹۱/۲) البحر الرائق(۳۰۰/۴) العناية (۵۹/۵).

٦- السياسة القضائية (صـ ۳۲).

قسم څخه محاکمه پای مومي.[1]

همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت اداري اصولنامه هم په ۱۶۱ ماده کې په دې اړه داسې صراحت لري: د مدعی علیه د سوګند په صورت کې قاضي د فعلي جګړې په ترک حکم کوي او که پر مدعی علیه د قسم متوجه کولو د تکرار په صورت کې مدعی علیه نکول وکړي، نو هغه د مدعی علیه اقرار بولي او د مدعی علیه په الزام حکم صادروي.

**دویمه رأیه:** مالکیه او شافعیه بیا په دې اند دي چې وروسته له نکول د مدعی علیه څخه مدعي ته قسم متوجه کېږي او د همدې یمین او قسم په ترسره کولو او د مدعی علیه په نکول سره به حکم ورته صادرېږي.[2]

دا چې احناف له نورو مذاهبو او علماوو سره د قسم په سختوالي کې هم اختلاف لري او د قسم سختوالی بیا په دري ډوله کېږي:

الف: لفظ،

ب: مکان،

ج: او زمان،

**د قسم سختوالی په لفظ سره:**

په لفظ سره د قسم د سختوالي څخه مراد د یمین ټینګار دی په زیادت د ځینې اسماوو او صفاتو د الله (جل‌جلاله) سره، هغه داسې چې قاضي قسم کوونکي ته ووايي: والله الذي لا اله هو، یعنې سختوالی په اسم او یا صفت باندې ورته وکړي په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی:

**لومړی رأیه:** د حنفیه او حنابله په نزد باندې د قسم تغلیظ یا سختوالی په لفظ سره جایز دی؛ خو قاضي په دې اړه واک لري چې قسم کوونکي ته د قسم په الفاظو کې سختوالی راولي او یا یې نه راولي.[3]

**دویمه رأیه:** د مالکیه په نزد باندې په قسم کې په لفظ سره سختوالی واجب دی حتماً به په دې الفاظو قسم کوونکي ته قسم ورکول کېږي بـ (الله الذي لا اله الا هو) بدون دې وصف څخه به په قسم باندې اکتفاء نه کېږي.[4]

**درېیمه رأیه:** شافعیه او د حنابله په یوه رأیه کې بیا په دې اند دي چې سختوالی په مطلق ډول باندې مستحب دی که یې خصم طلب کړی وي او یا نه.[5]

**د قسم سختوالی په مصحف سره:**

مراد له سختوالي د قسم په مصحف سره دا دی چې د قسم کوونکي مخته قرآنکریم کېښودل شي په داسې ډول سره چې د قسم یا لوړې کولو په وخت کې لاس ورباندې کیږدي او یا یې هم بغل ته کېښودل شي، تر څو په دروغو له قسم کولو څخه ډډه وکړي په دې اړه هم علماء اختلاف لري:

**لومړی رأیه:** د احنافو له جملې امام ابو یوسف (رحمه‌الله تعالی) په نزد باندې د قسم سختوالی په مصحف باندې مشروع او جایز دی.[6]

**دویمه رأیه:** شافعیه په دې اند دي چې په مصحف سره د قسم سختوالی مستحب دی.[7]

**درېیمه رأیه:** حنابله او ځینې مالکیه په دې اند دي

---

۱- المبسوط للسرخسي (۱۱۷/۱۶) الهداية (۱۵۵/۳)، المغني (۲۳۵/۹)

۲- أدب القاضي لابن أبو الدم (صـ ۲۲۳) تبصرة الحكام (۱۵۴/۱) المغني (۲۳۵/۹) الطروق الحكمية (صـ ۱۱۹).

۳- المبسوط للسرخسي( ۱۱۸/۱٦) بدائع الصنائع (۲۲۷/٦) الهداية (۱۵۸/۳)، الانصاف (۱۲۰/۱۲) كشاف القناع (٤۵۰/٦).

٤- مواهب الجليل (٦/۲۱٦- ۲۱۷).

۵- مغني المحتاج (٤۱۷/٦) الانصاف (۱۲۰/۱۲)

٦- تكملة حاشية ابن عابدين (٦۷/۸)

۷- الشرح الكبير(۲۲۸/٤)

چې په مصحف سره د قسم سختوالی غیر مشروع دی.[۱]

**د قسم سختوالی په زمان او مکان سره:**

په زمان او مکان سره د قسم سختوالي څخه مراد دادی چې قسم کوونکی په یوه خاص وخت کې چې خاص عظمت او لوی‌والی ولري قسم ورکړل شي او یا هم په یوه خاص ځای کې چې د خاص عظمت او لویوالي څخه برخمن وي قسم ورکړل شي، په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی:

**لومړی رأیه:** د احنافو او د حنابله‌وو یوه رأیه داده چې د قسم سختوالی (تغلیظ) په زمان او مکان سره غیر جایز دی.[۲]

**دویمه رأیه:** د مالکیه، شافعیه او یو روایت له حنابله څخه دا دی چې په قسم کې سختوالی (تغلیظ) په زمان او مکان سره جایز دی، اما مالکیه د قسم سختوالی په زمان سره صرف په دوو ځایونو کې جایز بولي، یو د قسامت او بل د لعان په دعوی کې چې وروسته د مازدیگر له لمانځه به قسم کوي.[۳]

په کفارو باندې د قسم سختوالی په زمان او مکان سره:

**لومړی رأیه:** د احنافو په نزد باندې لکه څنګه چې په مسلمانانو په قسم کې په زمان او مکان سره سختوالی او تغلیظ نه دی جایز، همدارنګه په کفارو باندې هم په زمان او مکان سره تغلیظ نه دی جایز.[۴]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه او حنابله په دې اند دي؛ څرنګه چې په زمان او مکان سره په مسلمانانو باندې سختوالی د قسم کېدلای شي، په همدې ډول په کفارو باندې هم کېدلای شي.[۵]

**۴ـ له قسم څخه د نکول په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

نکول هم د محکمې د حکم سبب او د اثبات د وسایلو له ډلې څخه یو سبب دی، کله چې د مدعي په غوښتنه د قاضي له لوري مدعی علیه ته قسم متوجه شي او مدعی علیه له قسم څخه انکار وکړي او قسم ادا نه کړي؛ نو قاضي د مدعی علیه د نکول او انکار له امله د مدعی علیه په الزام حکم صادروي.

**د نکول تعریف:**

نکول په لغت کې له قسم کولو څخه امتناع او انکار ته ویل کېږي.

په اصطلاح کې د نکول تعریف: نکول په اصطلاح کې عبارت دی له: امتناع من وجبت علیه أو له یمین منها.[۶]

کله چې د مدعي په غوښتنه د قاضي له لوري مدعی علیه ته قسم متوجه شي او مدعی علیه له قسم کولو څخه نکول وکړي آیا په همدې نکول باندې قاضي حکم صادروي او که به مدعي ته قسم متوجه کوي؛ په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی:

**لومړی رأیه :** حنفیه او حنابله په مشهوره رأیه په دې اند دي چې په همدې نکول سره مدعی علیه محکوم

---

۱- المغني (۲۱۳/۱۰)

۲- بدائع الصنائع (۲۱۸/٦) المبسوط للسرخسي (۱۱۹/۱٦) تبيين الحقائق (۳۰۴/۴) الهداية (۱۵۹/۳).

۳- البهجة في شرح التحفة (۲۴۰/۱( الحاوي الكبير(۱۰۸/۱۷) كشاف القناع (۴۵۰/٦) مواهب الجليل (۲۲۰/٦) تبصرة الحكام (۲۱۹/۱-۲۲۰)

٤- بدائع الصنائع (۲۲۸/٦) الاختار لتعليل المختار (۱۱۴/۲) البحرالرائق (۲۱۳/۷) الهداية (۱۵۸/۳)

۵- تبصرة الحكام (۲۱۷/۱)، الحاوي الكبير (۱۱۵/۱۷-۱۱۷)، المغني (۲۰۴/۱۰)

٦- شرح حدود ابن عرفة (صـ ۳۷۲).

علیه ګڼل کېږي.[1]

همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت اداري اصولنامه هم په ۱۶۱مه ماده کې په دې اړه داسې صراحت لري: د مدعی علیه د سوګند په صورت کې قاضي د فعلي جګړې په ترک حکم کوي او که پر مدعی علیه د قسم متوجه کولو د تکرار په صورت کې مدعی علیه نکول وکړي؛ نو هغه د مدعی علیه اقرار بولي او د مدعی علیه په الزام حکم صادرېږي.

اما که چېرې قسم کوونکی له تغلیظ (سختوالي) د قسم څخه نکول وکړي د حنفیه او حنابله او ځینو شافعیه په نزد باندې نکول نه ګڼل کېږي.[2]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه او په یو روایت کې امام احمد بن حنبل په دې اند دي چې په مجرد نکول سره قاضي نشي کولای د مدعي په ګټه حکم صادر کړي؛ بلکې مدعي ته قسم متوجه کېږي.[3]

اما که چېرې قسم کوونکی له تغلیظ (سختوالي) د قسم څخه نکول وکړي؛ خو چې تغلیظ (سختوالی) د قسم په الفاظو سره وي د مالکیه او د ځینو شافعیه په اند باندې نکول ګڼل کېږي.[4]

**۵ـ د قسامت په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

**د قسامت تعریف:**

قسامة د قسم قسیماً څخه مصدر دی، یعنې د یوې ډلې قسم خوړل.[5]

په اصطلاح کې د قسامت تعریف: قسامت عبارت له هغو قسمونو څخه دی چې د منطقې او یا د کور خلک یې د داسې وژل شوي کس د قاتل د پیدا کېدو له کبله کوي چې په وجود یې د وژلو اثر موجود وي، چې هر یو د دوی داسې ووایې چې نه مې وژلی او نه یې قاتل پېژنم.[6]

علماء کرام په دې اړه تر خپل منځ د نظر اختلاف لري، چې په قسامت کې قسم د مدعی علیهم له جملې څخه پنځوسو کسانو ته قسمونه ورکول کېږي او که مدعیون به پنځوس قسمونه کوي؟

**لومړی رأیه:** احناف (رحمهم‌الله تعالی) په دې اند دي چې د مدعی علیهم له جملې څخه به پنځوسو کسانو ته قسمونه ورکوي هغه چې مدعیانو د قسم لپاره غوره کړي وي، چې داسې قسم ورکړي: بالله ما قتلناه ولا علمنا له قاتلاً، کله چې هم داسې قسم یاد کړي؛ نو د محلې د خلکو په عاقله باندې دیت واجبېږي.[7]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه او حنابله په دې اند دي چې په قسامت کې قسم په مدعیانو باندې دی، یعنې د مقتول اولیاء به پنځوس قسمونه کوي، کله یې چې قسم وکړ؛ نو د دیت مستحق ګڼل کېږي، که چېرې مدعیانو قسم ونه کړ؛ نو مدعی علیه ته به پنځوس

---

۱- المبسوط للسرخسي (۳۴/۱۷) بدائع الصنائع (۲۳۰/۶).

۲- تبیین الحقایق (۳۰۲/۴) حاشیة ابن عابدین (۵۶۶/۵).

۳- الاشباه و النظائر للسبکي (صـ ۱۲۲) بدایة المجتهد (۵۰۸/۲) المحلی (۲۳۵/۹).

٤- شرح الخرشي (۲۳۷/۷) مغني المحتاج (۴۲۴/۶).

٥- لسان العرب(۴۸۱/۱۲)، الصحاح تاج اللغة (۲۰۱۰/۵)

٦- مجمع الانهر (۲۷۷/۲) البحر الرائق (۴۴۶/۸) العنایة (۳۷۲/۱۰)

٧- مجمع الأنهر (۶۷۸/۲)، بدائع الصنائع (۲۸۶/۷) درر الحکام (۱۲۰/۲) شرح مشکل الآثار (۵۱۳/۱۱)

قسمونه ورکول کېږي، که چېرې یې قسم وکړ؛ نو بري کېږي.[۱]

همدارنگه احناف له نورو مذاهبو څخه په دې اړه هم ځانته دي چې که چېرې په هغه وژل شوي چې قاتل یې نه وي معلوم د وژلو کوم اثر او نښانه لکه: زخم، زندي او یا د وهلو اثر موجود و؛ نو قسامت جاري کېږي او که چېرې کوم اثر وربانديې نه وو موجود بیا قسامت نه جاري کېږي.[۲]

مالکیه، شافعیه او حنابله په دې اند دي چې د قسامت د جاري کېدلو لپاره د مړي موجودیت په داسې محله کې چې د خلکو د استوګنې ځای وي کفایت کوي.[۳]

**٦ـ د تحالف په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

**د تحالف تعریف:**

تحالف په لغت کې د حلف ثلاثي فعل څخه دی، یو له بل څخه د قسم غوښتنې ته ویل کېږي.[٤]

**په اصطلاح کې د تحالف تعریف:**

د هر یو د خصمینو قسم کولو ته ویل کېږي، مثلاً: کله هم بائع او مشتري د مبیعې او ثمنو په اندازه، وصف او جنس کې یا یو له دې څخه اختلاف وکړي، که چېرې یو له دوی څخه شاهدان اقامه کړي؛ نو حکم یې په ګټه صادرېږي او که چېرې دواړه شاهدان اقامه کړي؛ نو د هغه کس په ګټه حکم کېږي چې زیادت ثابتوي او که چېرې دواړه ورڅخه عاجز شي؛ نو دوی ته ویل کېږي چې که چېرې دواړه یو د بل په دعوی باندې راضي وي او یا په فسخه د بیعې باندې راضي وي؛ نو بیعه تمامېږي او یا فسخ کېږي؛ خو که چېرې راضي نه وي نو قاضي به دواړو ته د یو او بل په دعوی باندې قسم ورکړي؛ خو د علماوو ترمنځ په دې اړه اختلاف موجود دی چې قاضي به د کوم یوه په قسم باندې شروع کوي د بایع او که د مشتري؟

**لومړی رأیه:** حنفیه او شافعیه په دې اند دي چې د مشتري په قسم باندې به شروع وکړي.[٥]

**دویمه رأیه:** مالکیه او شافعیه په مشهور قول، حنابله او له احنافو څخه امام ابو یوسف په دې اند دي چې د بایع په قسم باندې به شروع کوي.[٦]

**۷ـ د قرینې په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

د قرینې د تعریف او اقسامو په اړه د ۱۴۴۵هـ ق چې له ۱۴۰۲هـ ش کال سره برابر دی، کال د قضاء مجلې په دریيمه او څلورمه ګڼه کې تفصيلي بحث شوی دی چې له بیا تکرار څخه دلته ډډه کوو.

**۸ـ د قیافې په اړه د احنافو ځانته‌والی:**

علماء کرام په دې اړه اختلاف لري چې قیافه د نسب پېژندې لپاره کافي ده او که نه؟

**لومړی رأیه:** د احنافو په نزد په قیافه سره د نسب معلومول جایز نه دي؛ یعنې په دې باندې عمل کول چې قیافه د نسب د ثبوت لپاره کافي وګڼل شي غیر

---

۱- الکافي (۱۱۱۸/۲) الحاوي الکبیر (۴/۱۳)، المغني (۴۹۸/۸)

۲- المبسوط للسرخسي(۱۱۵/۲۶) مجمع الأنهر (۶۷۷/۲) حاشية ابن عابدين (۶۲۶/۶)

۳- بداية المجتهد(۲۱۴/۴) الحاوي الکبیر (۴/۱۳) المغني (۴۱۹/۸)

٤- لسان العرب(۵۳/۹) مصباح المنیر(۱۴۶/۱)

٥- بدائع الصنائع (۲۵۹/۶)، تبيين الحقائق (۳۰۵/۴) معین الحکام (صـ ۱۰۲) مغني المحتاج (۵۱۰/۲)

٦- تبصرة الحکام (۳۷۵/۱)، الحاوي الکبیر (۳۰۰/۵)، المغني (۱۴۴/۴- ۱۴۵) بدائع الصنائع (۲۵۹/۶) العناية (۲۰۹/۸).

جایز دي.[1]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه او حنابله په دې اند دي چې په قیافې سره نسب ثابتېدلای شي او عمل کول د دې لپاره پرې جایز دي چې نسب وربانديې ثابت شي.[2]

**۸ـ د قرعې (پچه اچونه) په اړه د احنافو ځانتهوالی:**

**د قرعې تعریف:**

قرعه په لغت کې له فعل ثلاثي د قرعې څخه ده چې د سهم په معنی بانديې راځي.

په اصطلاح کې د قرعې تعریف: قرعه په اصطلاح کې د سهم او نصیب له هغه تعیین څخه عبارت ده چې د دوو اشخاصو د مساوي او برابرو حقوقو د تقسیم او تعیین لپاره اچول کېږي.[3]

دا چې قرعه د اثبات له وسایلو څخه ده او کنه؟ په دې اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی.

**لومړۍ رأیه:** احناف په دې اند دي چې قرعه (پچه اچونه) په قضاء کې په وخت د تعارض د بیناتو او یا نشتوالي د بیناتو کې غیر جایز عمل دی او په قضاء کې عمل کول وربانديې جایز نه دي.[4]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه او حنابله بیا په دې اند دي چې قرعه (پچه اچونه) په قضاء کې یو مشروع عمل دی او په وخت د تعارض د بیناتو او نشتوالي د بیناتو کې عمل وربانديې کېدای شي.[5]

**۹ـ د شاهدانو د تعارض په اړه د احنافو ځانتهوالی:**

د بیناتو تعارض عبارت دی د مدعی او مدعی علیه د بیناتو له پوره تعادل او مساوات څخه، چې احناف په دې اړه د نورو علماوو څخه ځانته دي چې کله د بینهوو ترمنځ تعارض راشي؛ نو اول به ترجیح ته رجوع کېږي او که جمعهوالي ته؟

**لومړۍ رأیه:** احناف په دې اند دي چې کله هم په دعوی کې د بینه ترمنځ تعارض راشي؛ نو قاضي به اول ترجیح ته ورګرځي، که چېرې ترجیح ناشوني شوه؛ نو د دواړو ترمنځ به جمعهوالي په وخت د امکان د جمعوالي کې کېږي او که د دواړو ترمنځ جمعهوالي ممکن نه وو؛ نو بیا د دواړو بینه ساقطېږي.[6]

**دویمه رأیه:** مالکیه، شافعیه او حنابله بیا په دې اند دي چې کله په دعوی کې د بینه ترمنځ تعارض او ټکر راشي؛ نو قاضي به اول جمعهوالي ته ورګرځي که چېرې جمعهوالي ممکن نه و؛ نو بیا به ترجیح د یو پر بل کوي.[7]

---

۱- المبسوط للسرخسي (۷۰/۱۷)، المعتصر من المختصر من مشکل الآثار (۴۷/۴۶/۲)

۲- تبصرة الحکام (۱۰۵/۲)، الحاوي الکبیر (۳۹۶/۱۱) المغني (۱۲۷/٦-۱۳۸)

۳- قواعد الفقه( صـ ۴۲۷).

٤- - تبیین الحقائق (۳۱۵/۴-۳۱٦) مجمع الأنهر (۲۷۲/۲)

۵- -حایشة الدسوقي (۳۷۸/۴-۳۷۹) ، الحاوي الکبیر (۲۵۴/۱٦) ، المغني (۳۱۷/۱۰-۳۱۸)

٦- - بدائع الصنائع (۲۳۲/٦)

۷- -تبصرة الحکام (صـ۳۷۹) ، مغني المحتاج (۳۲۴/٦) ، المغني (۲۴۵/۱۰)

# غلا او مسائل يې

ليکنه: مولوي عبدالکريم «الکريمي»[1]

څلورمه برخه

**پنځم بحث: متفرقه مسائل:**

**د غلا د حد عقوبت:**

د غلا د حد عقوبت په قرآن، حديث او اجماع د سارق د لاس قطع ده؛ ځکه الله (جل جلاله) فرمايي: «وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا». [د المائدة سورت ۳۸]

ژباړه: د غله سړي او غلې ښځې لاسونه ور پرې کړئ! [2]

**د لاس د قطع محل:**

د فقهاء کرامو په اتفاق د لومړۍ غلا تر اثبات وروسته به د سارق راسته لاس (که سالم وي که معيوب) پرې کيږي؛ ځکه د نبي (صلی الله عليه وسلم) څخه د سارق د راسته لاس قطع منقوله ده او وروسته د امت عمل هم پر دې مستمر دی او د عبدالله بن مسعود (رضي الله تعالی عنه) څخه د مذکور آيت شريف يو قرائت داسې منقول دی: «فَاقْطَعُوا أَيْمَانَهُمَا» او ياد قرائت د قواعدو په اساس د خبر مشهور حيثيت لري چې مذکور آيت شريف مقيد کوي. [3]

**که سارق غلا تکرار کړي:**

که سارق دويم ځل غلا وکړي، نو دويم ځل به يې چپه پښه ور پرې کړي، که يې درېيم ځل بيا غلا وکړه، بيا حد نشته، بلکه تعزير دی، نو امام به يې تر هغه بندي کړي چې توبه وکاږي او دا هم کولای شي چې د سياست له مخې يې قتل کړي؛ ځکه مذکور ساعي بالفساد دی، په ځمکه کې فساد خپروي. [4]

---

۱- د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو رياست مدقق

۲ - الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٣٥): «٦٢ - اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى أَنَّ عُقُوبَةَ السَّارِقِ قَطْعُ يَدِهِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ}. وَهُوَ الْحَدُّ الَّذِي أَقَامَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَنْ سَرَقَ فِي عَهْدِهِ، كَمَا تَوَاتَرَتِ الأَخْبَارُ بِذَلِكَ. وَجَرَى عَلَيْهِ عَمَل الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ دُونَ اعْتِرَاضٍ عَلَيْهِمْ. وَأَجْمَعَتْ عَلَيْهِ الأُمَّةُ.»

۳ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٨٦): «والثاني: في بيان موضع إقامة الحكم منه أما الأول فأصل المحل عند أصحابنا طرفان فقط، وهما: اليد اليمنى، والرجل اليسرى فتقطع اليد اليمنى في السرقة الأولى، وتقطع الرجل اليسرى في السرقة الثانية، ولا يقطع بعد ذلك أصلا، ولكنه يضمن السرقة، ويعزر، ويحبس حتى يحدث توبة عندنا»

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٣٦): «٦٣ - مِنَ الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ - عِنْدَ الْفُقَهَاءِ - وُجُوبُ قَطْعِ الْيَدِ الْيُمْنَى، إِذَا ثَبَتَتِ السَّرِقَةُ الأُولَى. لِمَا رُوِيَ مِنْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ الْيَدَ الْيُمْنَى، وَكَذَلِكَ فَعَل الأَئِمَّةُ مِنْ بَعْدِهِ، وَلِقِرَاءَةِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ: « فَاقْطَعُوا أَيْمَانَهُمَا. وَهِيَ قِرَاءَةٌ مَشْهُورَةٌ عَنْهُ، وَلَمْ يُجْمِعْ عَلَى أَنَّهَا قُرْآنٌ لِمُخَالَفَتِهَا لِلْمُصْحَفِ الإِمَامِ، فَكَانَتْ خَبَرًا مَشْهُورًا، فَيُقَيِّدُ إِطْلاَقَ النَّصِّ. وَلَوْ كَانَ الإِطْلاَقُ مُرَادًا، وَالاِمْتِثَال لِلأَمْرِ فِي الآيَةِ يَحْصُل بِقَطْعِ الْيَمِينِ أَوِ الشِّمَال، لَمَا قَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلاَّ الْيَسَارَ عَلَى عَادَتِهِ مِنْ طَلَبِ الأَيْسَرِ لَهُمْ مَا أَمْكَنَ جَرْيًا عَلَى عَادَتِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي: أَنَّهُ مَا خُيِّرَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلاَّ أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا.»

الفتاوى الهندية (٢/ ١٨٢): «وَلَوْ كَانَتْ يَدُهُ الْيُمْنَى شَلَّاءَ أَوْ نَاقِصَةَ الْأَصَابِعِ يُقْطَعُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ، كَذَا فِي التَّبْيِينِ.»

٤ - الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٣٦): «فَالْحَنَفِيَّةُ يَرَوْنَ أَنَّ الْقَطْعَ يَتَعَلَّقُ أَوَّلاً بِالْيَدِ الْيُمْنَى، لِعُمُومِ آيَةِ السَّرِقَةِ فَإِنَّهَا لَمْ تُفَرِّقْ بَيْنَ الصَّحِيحَةِ وَغَيْرِهَا. لأَنَّهُ إِذَا تَعَلَّقَ الْحُكْمُ بِالسَّلِيمَةِ فَإِنَّهَا تُقْطَعُ، فَلأَنْ تُقْطَعَ الْمَعِيبَةُ مِنْ بَابِ أَوْلَى»

الفتاوى الهندية (٢/ ١٨٢): «تُقْطَعُ يَمِينُ السَّارِقِ مِنْ الزَّنْدِ، وَتُحْسَمُ، وَثَمَنُ الزَّيْتِ، وَكُلْفَةُ الْحَسْمِ عَلَى السَّارِقِ عِنْدَنَا، كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ فَإِنْ سَرَقَ ثَانِيًا قُطِعَتْ رِجْلُهُ الْيُسْرَى، وَإِنْ سَرَقَ ثَالِثًا لَمْ يُقْطَعْ، وَخُلِّدَ فِي السِّجْنِ حَتَّى يَتُوبَ هَذَا اسْتِحْسَانٌ، وَيُعَزَّرُ أَيْضًا ذَكَرَهُ الْمَشَايِخُ - رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى - كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَلِلْإِمَامِ أَنْ يَقْتُلَهُ سِيَاسَةً لِسَعْيِهِ فِي الْأَرْضِ بِالْفَسَادِ، كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ.»

**که د سارق راسته لاس پرې وي:**

که تر مخاصمې (قاضي ته تر مرافعې) مخکې د غله راسته لاس پرې وي بیا یې قطع چپه پښې ته انتقالېږي، چپه لاس یې نه پرې کېږي؛ ځکه بیا د یوه جنس بالکلیة منفعت له منځه ځي. البته که قاضي ته تر مرافعې وروسته مذکور لاس قطع شي، بیا حد ساقطېږي؛ ځکه قطع تر یاد لاس پورې تعلق نیولی وو، کله چې هغه له منځه ولاړ، نو حد هم ساقط شو.[1]

**د سارق د لاس د قطع ځای:**

د غلا په حد کې د سارق لاس په مړوند کې پرې کېږي؛ ځکه نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د سارق لاس په مړوند کې ور پرې کړ او شیخینو (ابو بکر او عمر) رضي الله تعالی عنهما هم فرمایلي: کله چې غل غلا وکړي، نو راسته لاس یې په مړوند کې ور پرې کړئ![2]

**د سارق د پښې د قطع ځای:**

که سارق دوهم ځل غلا وکړي، نو چپه پښه یې د بجلکي په بند کي پرې کیږي، یعني پونده یې هم ورسره پرې کیږي.(۳)

**د قطع آداب:**

د فقهاء کرامو تر منځ په دې اتفاق دی چې د حد د اقامې په وخت به محکمه له احسانه کار اخلي، ځکه نو لاندې امور به مراعتوي:

۱- که په یو موسم کې د حد اقامې سارق ته ضرر رسولو او د حد د اقامې له امله یې د مرگ وېره وه، نو پر نوموړي دې في الحال حد نه جاري کوي، د موسم تر سمېدلو دې یې بندي کړي، کله چې موسم مناسب شو، بیا د حد وربانديې جاري کړي.[4]

۲- د حد د اقامې ځای ته به یې په نرمۍ بیایي، سختي به نه ور سره کوي.

۳- پېغور به نه ورکوي.

۴- ښکنځل، پوچ او بد رد به نه ور ته وایي.

۵- د حد د اقامې په وخت کې به یې وتړي، ترڅو ځان خوږ نه کړي. ۵

---

۱ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۲٤/ ۳۳۷): «٦٥ - وَاخْتَلَفُوا كَذَلِكَ فِيمَا لَوْ تَعَلَّقَ الْقَطْعُ بِالْيَدِ الْيُمْنَى، وَكَانَتْ مَقْطُوعَةً: فَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى انْتِقَال الْقَطْعِ إِلَى الرِّجْل الْيُسْرَى إِذَا كَانَ ذَهَابُ الْيَدِ الْيُمْنَى قَدْ حَدَثَ قَبْل السَّرِقَةِ، أَوْ بَعْدَهَا وَقَبْل الْمُخَاصَمَةِ؛ لأَنَّ الْحَدَّ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِالْعُضْوِ الذَّاهِبِ، فَلاَ يَسْقُطُ بِذَهَابِهِ. بِخِلاَفِ مَا لَوْ ذَهَبَتِ الْيَدُ الْيُمْنَى بَعْدَ الْمُخَاصَمَةِ وَقَبْل الْقَضَاءِ، أَوْ بَعْدَ الْمُخَاصَمَةِ وَالْقَضَاءِ، فَلاَ يَنْتَقِل الْحَدُّ إِلَى الرِّجْل الْيُسْرَى، بَل يَسْقُطُ؛ لأَنَّ الْمُخَاصَمَةَ تُؤَدِّي إِلَى تَعَلُّقِ الْقَطْعِ بِالْيَدِ الْيُمْنَى، فَإِذَا ذَهَبَتْ سَقَطَ الْحَدُّ لِذَهَابِ مَحَلِّهِ.»

۲ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۲٤/ ۳۳۸): «٦٦ - ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةِ وَالشَّافِعِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ وَغَيْرِهِمْ إِلَى أَنَّ قَطْعَ الْيَدِ يَكُونُ مِنَ الْكُوعِ، وَهُوَ مَفْصِل الْكَفِّ، لأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ يَدَ السَّارِقِ مِنَ الْكُوعِ. وَلِقَوْل أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: إِذَا سَرَقَ السَّارِقُ فَاقْطَعُوا يَمِينَهُ مِنَ الْكُوعِ.»

الفتاوى الهندية (۲/ ۱۸۲): «تُقْطَعُ يَمِينُ السَّارِقِ مِنْ الزَّنْدِ وَتُحْسَمُ ...»

۳ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۲٤/ ۳۳۸): «وَمَوْضِعُ قَطْعِ الرِّجْل هُوَ مَفْصِل الْكَعْبِ مِنَ السَّاقِ، فَعَل ذَلِكَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، وَذَهَبَ إِلَيْهِ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَغَيْرُهُمْ، وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَحْمَدَ»

٤ - المبسوط للسرخسي كتاب السرقة (۱۸۵/۹): «و اذا ثبتت السرقة في البرد الشديد والحر الشديد الذي يتخوف عليه الموت ان قطعه حبسه حتى ينكشف الحر والبرد، لأن القطع بستوفى على وجه يكون القطع زاجرا لا متلفا، واذا كان لا يتخوف عليه الموت ان قطع لم يؤخر لقوله –صلى الله عليه وسلم- «لا ينبغي لوال ثبت عنده الحد أن لا يقيمه».

٥ - الفتاوى الهندية (۲/ ۱۸۳): «وَإِذَا ثَبَتَتْ السَّرِقَةُ فِي الْبَرْدِ الشَّدِيدِ، وَالْحَرِّ الشَّدِيدِ الَّذِي يُتَخَوَّفُ عَلَيْهِ الْمَوْتُ إنْ قُطِعَ حُبِسَ حَتَّى يَنْكَشِفَ الْحَرُّ، وَالْبَرْدُ، وَإِذَا كَانَ لَا يُتَخَوَّفُ عَلَيْهِ الْمَوْتُ إنْ قُطِعَ لَمْ يُؤَخَّرْ»

الموسوعة الفقهية الكويتية (۲٤/ ۳۳۹): «كَيْفِيَّةُ الْقَطْعِ. ٦٧ - مِنَ الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ مُرَاعَاةُ الإِحْسَانِ فِي إِقَامَةِ الْحَدِّ، لِقَوْلِهِ صَلَّى

**د قطع طريقه:**

د اسبابو د نه شتون په وخت يې طريقه دا وه چې د سارق لاس به په رسۍ وتړل شول او کش به يې کړ تر څو لاس به يې له بند وخوت، بيا به يې په تېره چاړه تر ممکنه حده په يو ځل پستې غوښې ور پرې کړ او يا به يې په يو ځل هم لاس کش کړ او هم به يې چړې ته فشار ورکړ، ترڅو لاس به يې قطع شو، څرنگه چې اوس طب زيات پر مختگ کړی، نو د وخت د اسبابو مطابق چې څومره آسانه کېدلای شي، له هغې طريقې څخه بايد استفاده وشي.

د لاس تر قطع وروسته دې په ممکنه طريقه د وينو جريان بند او لاس دې يې تداوي شي.[1]

**د لاس تعليق:**

د لاس تر قطع وروسته د سارق په غاړه د مقطوع لاس ور ځړول د امام رأيې ته پرېښودل شوی، که هغه په تعليق کې مصلحت ووينې ور ځړولای يې شي.[2]

**په حد کې تداخل:**

که غل د حد تر اجراء مخکې غلا تکرار کړي، د ټولو غلاگانو لپاره يې يو حد دی؛ ځکه د حد مقصود د سارق زجر او ردع ده او په يوه حد سره ياد مقصود تر لاسه کېږي.

البته که يو حد پرې جاري شي بيا غلا وکړي، دويم ځل يې چپه پښه پرې کېږي او که بيا درېيم ځل غلا وکړي، بيا تر هغه بندي کېږي چې توبه کاږي او امام يې سياستا قتل کولای هم شي، ځکه د علي (کرم الله وجهه) څخه منقول دی: «وَنُقِل هَذَا عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَالشَّعْبِيِّ وَالثَّوْرِيِّ وَالزُّهْرِيِّ وَالنَّخَعِيِّ وَالأَْوْزَاعِيِّ وَحَمَّادٍ لِمَا رُوِيَ مِنْ قَوْل عَلِيٍّ كَرَّمَ اللَّهُ وَجْهَهُ: إِذَا سَرَقَ الرَّجُل قُطِعَتْ يَدُهُ الْيُمْنَى، فَإِنْ عَادَ قُطِعَتْ رِجْلُهُ الْيُسْرَى، فَإِنْ عَادَ ضَمَّنْتُهُ السِّجْنَ حَتَّى يُحْدِثَ خَيْرًا. إِنِّي لأََسْتَحْيِي مِنَ اللَّهِ أَنْ أَدَعَهُ لَيْسَ لَهُ يَدٌ يَأْكُل بِهَا وَيَسْتَنْجِي بِهَا، وَرِجْلٌ يَمْشِي عَلَيْهَا»

ژباړه: علي (كرم الله وجهه) فرمايي: کله چې غل غلا وکړي، نو راسته لاس دې يې پرې شي، که بيا غلا وکړي، نو چپه پښه دې يې پرې شي، که بيا غلا وکړي، نو تر هغه يې په محبس کې اچوم چې خير ځنې ښکاره کېږي، يقينا زه د الله (جل جلاله) څخه شرمېږم چې مذکور په داسې حال کې پرېږدم چې د خوراک او استنجاء لپاره يو لاس او د تگ لپاره يوه پښه نه لري.[3]

---

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ تَكُونُوا عَوْنَ الشَّيْطَانِ عَلَى أَخِيكُمْ (١) وَعَلَى ذَلِكَ يَنْبَغِي أَنْ يَتَخَيَّرَ الْحَاكِمُ الْوَقْتَ الْمُلاَئِمَ لِلْقَطْعِ، بِحَيْثُ يَجْتَنِبُ الْحَرَّ وَالْبَرْدَ الشَّدِيدَيْنِ، إِنْ كَانَ ذَلِكَ يُؤَدِّي إِلَى الإِْضْرَارِ بِالسَّارِقِ، وَلاَ يُقِيمُ الْحَدَّ أَثْنَاءَ مَرَضٍ يُرْجَى زَوَالُهُ، وَلاَ يُقِيمُ الْحَدَّ عَلَى الْحَامِل أَوِ النُّفَسَاءِ، وَلاَ عَلَى الْعَائِدِ فِي السَّرِقَةِ قَبْل أَنْ يَنْدَمِل الْجُرْحُ السَّابِقُ. كَمَا يَنْبَغِي أَنْ يُسَاقَ السَّارِقُ إِلَى مَكَانِ الْقَطْعِ سُوقًا رَفِيقًا، فَلاَ يُعَنَّفُ بِهِ، وَلاَ يُعَيَّرُ، وَلاَ يُسَبُّ.

١ - الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٣٩): «كَيْفِيَّةُ الْقَطْعِ ... فَإِذَا وَصَل إِلَى مَكَانِ الْقَطْعِ (يَجْلِسُ، وَيُضْبَطُ لِئَلاَّ يَتَحَرَّكَ فَيَجْنِي عَلَى نَفْسِهِ، وَتُشَدُّ يَدُهُ بِحَبْلٍ وَيُجَرُّ حَتَّى يَبِينَ مَفْصِل الذِّرَاعِ، ثُمَّ تُوضَعُ بَيْنَهُمَا سِكِّينٌ حَادَّةٌ، وَيُدَقُّ فَوْقَهَا بِقُوَّةٍ لِيَقْطَعَ فِي مَرَّةٍ وَاحِدَةٍ، أَوْ تُوضَعُ عَلَى الْمَفْصِل وَتُمَدُّ مَدَّةً وَاحِدَةً، وَإِنْ عَلِمَ قَطْعٌ أَوْحَى مِنْ ذَلِكَ - أَيْ أَسْرَعَ - قَطَعَ بِهِ) .

وَلاَ خِلاَفَ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ عَلَى حَسْمِ مَوْضِعِ الْقَطْعِ، وَذَلِكَ بِاسْتِعْمَال مَا يَسُدُّ الْعُرُوقَ وَيُوقِفُ نَزْفَ الدَّمِ، لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَنْ ثَبَتَتْ عَلَيْهِ السَّرِقَةُ: [اذْهَبُوا بِهِ فَاقْطَعُوهُ، ثُمَّ احْسِمُوهُ]. وَلَكِنَّ الْخِلاَفَ بَيْنَهُمْ فِي حُكْمِ الْحَسْمِ: فَمَذْهَبُ الْحَنَفِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ أَنَّهُ وَاجِبٌ عَيْنِيٌّ عَلَى مَنْ قَامَ بِالْقَطْعِ؛ لأَِنَّ صِيغَةَ الأَْمْرِ فِي الْحَدِيثِ تُفِيدُ الْوُجُوبَ.»

٢ - الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٤٠): «وَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّ تَعْلِيقَ الْيَدِ لاَ يُسَنُّ، بَل يُتْرَكُ الأَْمْرُ لِلإِْمَامِ، إِنْ رَأَى فِيهِ مَصْلَحَةً فَعَلَهُ، وَإِلاَّ فَلاَ».

٣ - الفتاوى الهندية»(٢/ ١٨٥): «قَالَ مُحَمَّدٌ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - فِي رَجُلٍ سَرَقَ غَيْرَ مَرَّةٍ فَحُدَّ حَدًّا وَاحِدًا فَهُوَ لِذَلِكَ كُلِّهِ؛ لأَِنَّ الْحُدُودَ الْخَالِصَةَ لِلَّهِ تَعَالَى مَتَى اجْتَمَعَتْ تَدَاخَلَتْ إذَا كَانَ الْجِنْسُ وَاحِدًا؛ لأَِنَّ الْمَقْصُودَ مِنْ إقَامَةِ الْحَدِّ الزَّجْرُ عَنْ مُبَاشَرَةِ سَبَبِهِ بِخِلاَفِ مَا لَوْ أُقِيمَ الْحَدُّ مَرَّةً ثُمَّ سَرَقَ ثَانِيًا لِأَنَّا تَيَقَّنَّا أَنَّ الزَّجْرَ لَمْ يَحْصُلْ بِالْأَوَّلِ»

**د غلا د حد د سقوط ځایونه:**

په لاندې مواردو کې حد ساقطېږي:

چې مسروق منه د مقر سارق تکذیب وکړي او ووایي: له ما څخه دې مال نه دی غلا کړی. [1]

چې مسروق منه د شاهدانو تکذیب وکړي او ووایي: زما شاهدانو د دروغو شاهدي اداء کړه. [2]

چې مقر سارق د اقرار څخه رجوع وکړي، حد ځنې ساقطېږي، البته مال به ورکوي؛ ځکه د حقوق العباد په اړه د اقرار څخه رجوع نه صحیح کېږي. [3]

په یوه غلا د مقرانو سارقینو څخه یو رجوع وکړي او مسروق خپل مال وبولي، د هغه بل ملګري څخه یې هم حد ساقطېږي. [4]

چې سارق مسروق مال قبل المرافعه مسروق منه ته رد کړي. [5]

---

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٨٥): «(ومنها) أن يجري فيه التداخل، حتى إنه لو سرق سرقات فرفع فيها كلها فقطع، أو رفع في بعضها فقطع فيما رفع فالقطع للسرقات كلها، ولا يقطع في شيء منها بعد ذلك؛ لأن أسباب الحدود إذا اجتمعت - وأنها من جنس واحد - يكتفى فيها بحد واحد كما في الزنا، وهذا؛ لأن المقصود من إقامة الحد هو الزجر، والردع، وذلك يحصل بإقامة الحد الواحد، فكان في إقامة الثاني.»

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٤٠): «٦٩ - مِنَ الْقَوَاعِدِ الْعَامَّةِ الَّتِي اسْتَقَرَّتْ فِي الْفِقْهِ الإِسْلاَمِيِّ عَلَى اخْتِلاَفِ مَذَاهِبِهِ: أَنَّ مَبْنَى الْحُدُودِ عَلَى التَّدَاخُل، إِذَا اتَّحَدَ مُوجِبُهَا وَلَمْ يَتَعَلَّقْ بِالْحَدِّ حَقٌّ لآدَمِيٍّ. وَبِنَاءً عَلَى ذَلِكَ: إِذَا تَكَرَّرَتِ السَّرِقَةُ، قَبْل إِقَامَةِ الْحَدِّ، وَكَانَتْ فِي كُل مَرَّةٍ تُوجِبُ الْقَطْعَ، قُطِعَ السَّارِقُ لِجَمِيعِهَا قَطْعًا وَاحِدًا؛ لأَنَّ الْحُدُودَ تُدْرَأُ بِالشُّبْهَةِ فَيَتَدَاخَل بَعْضُهَا فِي بَعْضٍ؛ وَلأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الرَّدْعُ وَالزَّجْرُ، وَذَلِكَ يَحْصُل بِإِقَامَةِ الْحَدِّ الْوَاحِدِ.»

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٤١): «وَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ، وَالْحَنَابِلَةُ فِي إِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ وَهِيَ الْمَذْهَبُ إِلَى أَنَّ مَنْ سَرَقَ بَعْدَ أَنْ قُطِعَتْ يَدُهُ الْيُمْنَى، تُقْطَعُ رِجْلُهُ الْيُسْرَى. فَإِنْ عَادَ بَعْدَ ذَلِكَ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَطْعٌ، بَل يُحْبَسُ وَيُضْرَبُ حَتَّى تَظْهَرَ تَوْبَتُهُ أَوْ يَمُوتَ. وَنُقِل هَذَا عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَالشَّعْبِيِّ وَالثَّوْرِيِّ وَالزُّهْرِيِّ وَالنَّخَعِيِّ وَالأَوْزَاعِيِّ وَحَمَّادٍ لِمَا رُوِيَ مِنْ قَوْل عَلِيٍّ كَرَّمَ اللَّهُ وَجْهَهُ: إِذَا سَرَقَ الرَّجُل قُطِعَتْ يَدُهُ الْيُمْنَى، فَإِنْ عَادَ قُطِعَتْ رِجْلُهُ الْيُسْرَى، فَإِنْ عَادَ ضَمَّنْتُهُ السِّجْنَ حَتَّى يُحْدِثَ خَيْرًا. إِنِّي لأَسْتَحْيِي مِنَ اللَّهِ أَنْ أَدَعَهُ لَيْسَ لَهُ يَدٌ يَأْكُل بِهَا وَيَسْتَنْجِيَ بِهَا، وَرِجْلٌ يَمْشِي عَلَيْهَا»

١ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٨٨): «ما يسقطه بعد وجوبه أنواع: منها تكذيب المسروق منه السارق في إقراره بالسرقة بأن يقول له: لم تسرق مني.»

٢ - مخکنی پته: «ما يسقطه بعد وجوبه أنواع: ... ومنها تكذيبه البينة بأن يقول: شهد شهودي بزور؛ لأنه إذا كذب فقد بطل الإقرار والشهادة؛ فسقط القطع»

٣ - مخکنی پته: «ومنها رجوع السارق عن الإقرار بالسرقة فلا يقطع، ويضمن المال؛ لأن الرجوع يقبل في الحدود، ولا يقبل في المال؛ لأنه يورث شبهة في الإقرار، والحد يسقط بالشبهة، ولا يسقط المال».

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٤٣): «٧٤ - اتَّفَقَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ مِنَ الْحَنَفِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةِ وَالشَّافِعِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ عَلَى أَنَّ السَّارِقَ إِذَا رَجَعَ عَنْ إِقْرَارِهِ، قَبْل الْقَطْعِ، سَقَطَ عَنْهُ الْحَدُّ؛ لأَنَّ الرُّجُوعَ عَنِ الإِقْرَارِ يُورِثُ شُبْهَةً».

٤ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٨٨): «رجلان أقرا بسرقة ثوب يساوي مائة درهم، ثم قال أحدهما: الثوب ثوبنا لم نسرقه، أو قال: هذا لي درئ القطع عنهما؛ لأنهما لما أقرا بالسرقة فقد ثبتت الشركة بينهما في السرقة. ثم لما أنكر أحدهما فقد رجع عن إقراره فبطل الحد عنه برجوعه فيورث شبهة في حق الشريك؛ لاتحاد السرقة»

٥ - مخکنی پته: «(ومنها) رد السارق المسروق إلى المالك قبل المرافعة عندهما، وإحدى الروايتين عن أبي يوسف.»

د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په اند كه سارق به هبه، شراء او ... د حد تر تطبيق مخ ته د مسروق مالک شو، حد ځنې ساقطېږي؛ ځكه د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په اند په حدودو كې إمضاء (تطبيق) قضاء ده، تر څو چې تطبيق نه وي شوی، لكه قضاء چې نه وي شوې. البته د امام ابو يوسف او امام زفر (رحمهما الله) په اند تر قضاء وروسته تملک حد نه ساقطوي، نومړو د نورو عقلي دلائلو تر څنګ د صفوان (رضي الله عنه) د پېښو په واقعه هم دليل ويلی، چې په ياده واقعه كې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نومړي ته وفرمايل: «فَهَلاّ قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَنِي بِهِ» ژباړه: ولې دې د ده تر را وستلو مخكې نه ور ته صدقه كول. يعنې اوس تصدق ګټه نه لري.[1]

كه مسروق منه سارق ته د قاضي تر حكم مخكې مسروق مال ور وبخښي حد ساقطېږي، البته تر حكم وروسته عفوه حد نه ساقطوي، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) صفوان (رضي الله تعالى عنه) ته وفرمايل: «فَهَلاّ قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَنِي بِهِ» ژباړه: ولې دې د ده تر را وستلو مخكې نه ورته صدقه كولو.[2]

---

الفتاوى الهندية (٢/ ١٨٤): «مَنْ سَرَقَ سَرِقَةً، وَرَدَّهَا عَلَى الْمَالِكِ قَبْلَ الِارْتِفَاءِ إلَى الْحَاكِمِ لَمْ يُقْطَعْ فَإِنْ رَدَّهَا بَعْدَ سَمَاعِ الْبَيِّنَةِ وَالْقَضَاءِ يُقْطَعُ، وَقَبْلَ الْقَضَاءِ يُقْطَعُ اسْتِحْسَانًا»

١ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٨٨): «(ومنها) ملك السارق المسروق قبل القضاء نحو ما إذا وهب المسروق منه المسروق من السارق قبل القضاء، وجملة الكلام فيه أن الأمر لا يخلو إما أن وهبه منه قبل القضاء، وإما أن وهبه بعد القضاء قبل الإمضاء فإن وهبه قبل القضاء يسقط القطع بلا خلاف، وإن وهبه بعد القضاء قبل الإمضاء يسقط عندهما، وقال أبو يوسف: لا يسقط ... (وجه) قولهما: أن القبض شرط لثبوت الملك في الهبة، والملك في الهبة يثبت من، وقت القبض فيظهر الملك له من ذلك الوقت من كل وجه، أو من وجه، وكون المسروق ملكا للسارق على الحقيقة أو الشبهة يمنع من القطع؛ ولهذا لم يقطع قبل القضاء فكذلك بعده؛ لأن القضاء في باب الحدود إمضاؤها فما لم يمض فكأنه لم يقض، ولو كان لم يقض أليس أنه لا يقطع فكذا إذا لم يمض. ولأن الطارئ في باب الحدود ملحق بالمقارن؛ إذا كان في الإلحاق إسقاط الحد، وههنا فيه إسقاط الحد فيلحق به.»

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٤٤): «٥ - طُرُوءُ الْمِلْكِ قَبْل الْحُكْمِ:

٧٦ - إِذَا تَمَلَّكَ السَّارِقُ الْمَسْرُوقَ قَبْل الْقَضَاءِ بِأَنِ اشْتَرَاهُ أَوْ وُهِبَ لَهُ أَوْ نَحْوُ ذَلِكَ، فَإِنَّ الْقَطْعَ يَسْقُطُ عَنْهُ - عِنْدَ الْجُمْهُورِ - لأَنَّ الْمُطَالَبَةَ شَرْطٌ لِلْحُكْمِ بِالْقَطْعِ، فَإِذَا تَمَلَّكَهُ السَّارِقُ قَبْل الْقَضَاءِ امْتَنَعَتِ الْمُطَالَبَةُ، وَخَالَفَ الْمَالِكِيَّةُ فِي هَذَا الْحُكْمِ لِعَدَمِ اشْتِرَاطِهِمْ الْمُطَالَبَةَ، فَالْعِبْرَةُ بِوُجُوبِ الْحَدِّ أَوْ سُقُوطِهِ بِحَال السَّرِقَةِ، دُونَ انْتِقَال الْمِلْكِ بَعْدَهَا.

فَأَمَّا إِذَا حَدَثَ الْمِلْكُ بَعْدَ الْقَضَاءِ، وَقَبْل الْقَطْعِ، فَإِنَّ الْحَدَّ يَسْقُطُ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ - مَا عَدَا أَبَا يُوسُفَ وَزُفَرَ -: (لأَنَّ الْقَضَاءَ فِي بَابِ الْحُدُودِ إِمْضَاؤُهَا فَمَا لَمْ تَمْضِ فَكَأَنَّهُ لَمْ يَقْضِ) ، وَلأَنَّ (الْمُعْتَرِضَ بَعْدَ الْقَضَاءِ، قَبْل الاِسْتِيفَاءِ، كَالْمُقْتَرِنِ بِأَصْل السَّبَبِ) ؛ وَلأَنَّ (التَّمَلُّكَ وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ حَقًّا وَقْتَ السَّرِقَةِ، إِلاَّ أَنَّهُ أَوْجَدَ شُبْهَةً عِنْدَ التَّنْفِيذِ وَهَذِهِ الشُّبْهَةُ تَمْنَعُ مِنْ إِقَامَةِ الْحَدِّ) .

وَذَهَبَ أَبُو يُوسُفَ وَزُفَرُ، وَالْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ: إِلَى أَنَّهُ لاَ أَثَرَ لِتَمَلُّكِ الْمَسْرُوقِ بَعْدَ الْقَضَاءِ عَلَى وُجُوبِ الْقَطْعِ، (لأَنَّ وُجُوبَ الْقَطْعِ حُكْمٌ مُعَلَّقٌ بِوُجُودِ السَّرِقَةِ، وَقَدْ تَمَّتِ السَّرِقَةُ، وَوَقَعَتْ مُوجِبَةً لِلْقَطْعِ لاِسْتِجْمَاعِ شَرَائِطِ الْوُجُوبِ، فَطُرُوءُ الْمِلْكِ بَعْدَ ذَلِكَ لاَ يُوجِبُ خَلَلاً فِي السَّرِقَةِ الْمَوْجُودَةِ، فَبَقِيَ الْقَطْعُ وَاجِبًا) ، وَلأَنَّ مَا حَدَثَ - بَعْدَ وُجُوبِ الْحَدِّ - لَمْ يُوجِدْ شُبْهَةً فِي الْوُجُوبِ، (فَلَمْ يُؤَثِّرْ فِي الْحَدِّ) ، وَلَوْ كَانَ حُدُوثُ الْمِلْكِ - بَعْدَ الْقَضَاءِ - يُسْقِطُ الْحَدَّ، لَمَا قَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَارِقَ رِدَاءِ صَفْوَانَ، بَعْدَ أَنْ تَصَدَّقَ بِهِ عَلَيْهِ، بَل قَال لَهُ: فَهَلاَّ قَبْل أَنْ تَأْتِيَنِي بِهِ.»

الفتاوى الهندية (٢/ ١٨٤): «إذَا قُضِيَ عَلَى رَجُلٍ بِالْقَطْعِ فِي سَرِقَةٍ فَوَهَبَهَا لَهُ الْمَالِكُ، وَسَلَّمَهَا إلَيْهِ، أَوْ بَاعَهَا مِنْهُ لَا يُقْطَعُ، كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ»

٢ - الفتاوى الهندية» (٢/ ١٧٤): «وَلَوْ أَمَرَ الْإِمَامُ بِقَطْعِ سَارِقٍ، فَعَفَا الْمَسْرُوقُ مِنْهُ كَانَ عَفْوُهُ بَاطِلًا، كَذَا فِي الْإِيضَاحِ.»

د امام ابو حنيفه (رحمه الله) په اند که په غلا کې ډېر خلک سره شريکان شي او په هغو کې ځينې داسې وي چې حد نه پرې جاري کېږي، په ياد صورت کې له ټولو څخه حد ساقطېږي؛ ځکه غلا يو عمل دی او ټولو په مشترکه توګه ترسره کړی، دا داسې مثال لري لکه په قتل کې چې عامد او خاطئ سره يو ځای شي، چې په ياد صورت کې هم قصاص ساقطېږي.[1]

که په قطع حکم وشي خو د حد تر اجراء مخته مسروق منه يا شاهدان غائب شي، يا مسروق د دوو نفرو وي او يو يې غائب شي، په مذکورو دواړو صورتونو کې په سارق حد نه جاري کېږي.[2]

چې په حد سره د يوه جنس منافع بالکلية فوتېږي، لکه د سارق د راسته لاس قطع واجبه شي او چپه لاس يې شل يا پرې وي، يا يې د چپه لاس بټه ګوته شله يا پرې وي يا يې د بټې ګوتې پرته نورې دوې ګوتې شلې يا پرې وي، يا يې راسته پښه شله يا پرې وي په مذکورو ټولو صورتونو کې حد ساقطېږي؛ ځکه حد د سارق د زجر لپاره دی، نه د اهلاک لپاره، که په ياد صورت کې د ياد سارق راسته لاس پرې شي، نو بالکلية يې منفعة له منځه ځي، چې دا د اهلاک مترادف دی.[3]

---

١ - الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٤٣): «وَلَوْ كَانُوا جَمْعًا، وَالسَّارِقُ بَعْضَهُمْ قُطِعُوا إِنْ أَصَابَ كُلًّا مِنْهُمْ نِصَابٌ، وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ سَوَاءٌ خَرَجُوا مَعَهُ مِنْ الْحِرْزِ، أَوْ بَعْدَهُ فِي فَوْرِهِ، أَوْ خَرَجَ هُوَ بَعْدَهُمْ فِي فَوْرِهِمْ، وَلَوْ كَانَ فِيهِمْ صَغِيرٌ، أَوْ مَجْنُونٌ، أَوْ مَعْتُوهٌ، أَوْ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنَ الْمَسْرُوقِ مِنْهُ لَمْ يُقْطَعْ أَحَدٌ، كَذَا فِي النَّهْرِ الْفَائِقِ.»

«٧٥ - ذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ - إِلاَّ أَبَا يُوسُفَ - وَالْحَنَابِلَةُ فِي أَصَحِّ الْوَجْهَيْنِ إِلَى أَنَّهُ: إِذَا اشْتَرَكَ جَمَاعَةٌ فِي سَرِقَةٍ وَكَانَ بَيْنَهُمْ مَنْ لاَ يَتَعَلَّقُ الْقَطْعُ بِسَرِقَتِهِ، كَصَبِيٍّ أَوْ مَجْنُونٍ، فَإِنَّ الْحَدَّ يَسْقُطُ عَنِ الشُّرَكَاءِ كُلِّهِمْ؛ لأَنَّ السَّرِقَةَ وَاحِدَةٌ، وَقَدْ حَصَلَتْ مِمَّنْ يَجِبُ عَلَيْهِ الْقَطْعُ وَمِمَّنْ لاَ يَجِبُ عَلَيْهِ، فَيَسْقُطُ الْقَطْعُ عَنِ الْجَمِيعِ، قِيَاسًا عَلَى اشْتِرَاكِ الْعَامِدِ مَعَ الْمُخْطِئِ فِي الْقَتْل، فَإِنَّ الْقِصَاصَ يَسْقُطُ عَنْهُمَا.

وَذَهَبَ أَبُو يُوسُفَ إِلَى أَنَّ الْحَدَّ لاَ يَسْقُطُ إِلاَّ إِذَا كَانَ الصَّبِيُّ أَوِ الْمَجْنُونُ هُوَ الَّذِي وَلِيَ الأَخْذَ وَالإِخْرَاجَ؛ لأَنَّ الإِخْرَاجَ أَصْلٌ وَالإِعَانَةَ كَالتَّابِعِ، فَإِذَا سَقَطَ الْقَطْعُ عَنِ الأَصْل وَجَبَ سُقُوطُهُ عَنِ التَّابِعِ. أَمَّا إِذَا كَانَ الآخِذُ وَالْمُخْرِجُ مُكَلَّفًا فَإِنَّهُ يَكُونُ قَدْ قَامَ بِالأَصْل، فَلاَ يَسْقُطُ الْقَطْعُ عَنْهُ، وَإِنْ سَقَطَ عَنِ الصَّبِيِّ أَوِ الْمَجْنُونِ.»

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٦٧): «ولو سرق جماعة فيهم صبي، أو مجنون يدرأ عنهم القطع في قول أبي حنيفة وزفر - رحمهما الله - وقال أبو يوسف - رحمه الله -: « إن كان الصبي، والمجنون هو الذي تولى إخراج المتاع درئ عنهم جميعا، وإن كان وليه غيرهما؛ قطعوا جميعا إلا الصبي والمجنون «.»

«على هذا الخلاف إذا كان فيهم ذو رحم محرم؛ لأنه المسروق منه أنه لا قطع على أحد عند أبي حنيفة، وعند أبي يوسف « يدرأ عن ذي الرحم المحرم، ويجب على الأجنبي «، ولا خلاف في أنه إذا كان فيهم شريك المسروق منه أنه لا قطع على أحد».

٢ - الفتاوى الهندية»(٢/ ١٧٣): «فَإِنْ عُدِّلَتْ الشُّهُودُ بَعْدَمَا حُبِسَ الْمَشْهُودُ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ حَاضِرًا يَقْضِي الْقَاضِي بِالْقَطْعِ، وَإِنْ كَانَ غَائِبًا لَا يَقْضِي بِالْقَطْعِ، فَإِنْ كَانَ حَاضِرًا، فَقَضَى عَلَيْهِ بِالْقَطْعِ ثُمَّ غَابَ قَبْلَ اسْتِيفَاءِ الْقَطْعِ لَمْ يَذْكُرْ مُحَمَّدٌ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - هَذَا الْفَصْلَ فِي الْكِتَابِ، وَقَدْ اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ - رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى - فِيهِ بَعْضُهُمْ قَالُوا يَجِبُ أَنْ يَكُونَ لِأَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - فِيهِ قَوْلَانِ عَلَى قَوْلِهِ الْأَوَّلِ لَا يَسْتَوْفِي الْقَطْعَ، وَعَلَى قَوْلِهِ الْآخَرِ يَسْتَوْفِي، وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ غَيْبَةُ الْمَسْرُوقِ مِنْهُ تَمْنَعُ الِاسْتِيفَاءَ عَلَى قَوْلِهِ الْأَوَّلِ، وَالْآخَرِ جَمِيعًا.»

٣ - الفتاوى الهندية (٢/ ١٨٢): «وَإِنْ كَانَ السَّارِقُ أَشَلَّ الْيَدِ الْيُسْرَى، أَوْ أَقْطَعَ، أَوْ مَقْطُوعَ الرِّجْلِ الْيُمْنَى لَمْ يُقْطَعْ، وَكَذَا إِذَا كَانَتْ رِجْلُهُ الْيُمْنَى شَلَّاءَ، وَكَذَلِكَ إِنْ كَانَتْ إِبْهَامُهُ الْيُسْرَى مَقْطُوعَةً، أَوْ شَلَّاءَ، أَوْ الْإِصْبَعَانِ مِنْهَا سِوَى الْإِبْهَامِ، وَإِنْ كَانَتْ أُصْبُعٌ وَاحِدٌ سِوَى الْإِبْهَامِ مَقْطُوعَةً، أَوْ شَلَّاءَ قُطِعَ، كَذَا فِي الْهِدَايَةِ.»

بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٨٧): «ثم إنما تقطع يده اليمنى في الكرة الأولى إذا كانت اليد اليسرى صحيحة يمكنه أن ينتفع بها

که د حد په إمضاء (تطبيق/اجراء) کې وخت تېر شي هم حد ساقطېږي؛ ځکه په حدودو کې اصلا إمضاء (تطبيق) قضاء ده، ترڅو چې یې تطبيق پاتې وي، داسې دی لکه قضاء چې پاتې وي. [1]

که سارق دویم ځل خاص هماغه مسروق غلا کړي چې لومړی ځل یې غلا کړی و او له امله یې په یاد سارق حد جاري شوی و او بېرته مذکور مسروق پر مسروق منه باندې رد شوی و، نو حد په یاد سارق دویم ځل د یاد مسروق له امله نه جاري کېږي.

همداسې که له لومړي سارق څخه بل (دویم) سارق مذکور مسروق غلا کړي پر دویم سارق هم حد نه جاري کېږي. [2]

که مسروق منه د خپل مسروق مال مطالبه نه لري، نو حد نه جاري کېږي. [3]

که غل مجهول شي یعنې دوه غله کور سوری کړي، وروسته

---

بعد قطع اليد اليمنى.

والرجل اليمنى صحيحة يمكنه الانتفاع بها بعد قطع الرجل اليسرى، فإن كانت اليد اليسرى مقطوعة، أو شلاء، أو مقطوعة الإبهام، أو أصبعين سوى الإبهام لا تقطع اليد اليمنى؛ لأن القطع في السرقة شرع زاجرا لا مهلكا، فإذا لم تكن اليد اليسرى يمكن الانتفاع بها؛ فقطع اليد اليمنى يقع تفويتا لجنس المنفعة، وهي منفعة البطش أصلا فيقع إهلاكا للنفس من وجه فلا تقطع، ولا يقطع رجله اليسرى أيضا؛ لأنه يذهب أحد الشقين على الكمال فيهلك النفس من وجه ولو كانت اليد اليسرى مقطوعة أصبع واحدة سوى الإبهام تقطع يده اليمنى؛ لأن القطع لا يتضمن فوات جنس المنفعة.

وكذا إن كانت الرجل اليمنى مقطوعة، أو شلاء، أو بها عرج يمنع المشي عليها لا تقطع اليد اليمنى؛ لما فيه من فوات الشق، ولا رجله اليسرى، وإن كانت صحيحة؛ لأنه يبقى بلا رجلين فيفوت جنس المنفعة ولو كانت رجله اليمنى مقطوعة الأصابع كلها فإن كان يستطيع القيام، والمشي عليها تقطع يده اليمنى؛ لأن الجنس لا يفوت، وإن كان لا يستطيع لا يقطع لفوات الشق ولو كانت يداه صحيحتين، ولكن رجله اليسرى مقطوعة، أو شلاء أو مقطوعة الإبهام أو الأصابع تقطع يده اليمنى؛ لأن جنس المنفعة لا يفوت، ولا فيه فوات الشق أيضا.»

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٣٧): «٦٤ - وَاخْتَلَفَ الْفُقَهَاءُ فِيمَا لَوْ تَعَلَّقَ الْقَطْعُ بِالْيَدِ الْيُمْنَى، وَكَانَتِ الْيَدُ الْيُسْرَى قَدْ ذَهَبَتْ مَنْفَعَتُهَا، أَوْ كَانَتْ مَقْطُوعَةً فِي قِصَاصٍ أَوْ بِآفَةٍ سَمَاوِيَّةٍ، فَعِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ لاَ تُقْطَعُ الْيَدُ الْيُمْنَى؛ لأَنَّ قَطْعَهَا يُؤَدِّي إِلَى تَفْوِيتِ مَنْفَعَةِ الْجِنْسِ كُلِّيَّةً، وَالْحَدُّ إِنَّمَا شُرِعَ زَاجِرًا لاَ مُهْلِكًا. وَبِهَذَا قَال أَحْمَدُ فِي إِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْهُ. »

١ - الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٣٤٥): «وَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ - مَا عَدَا زُفَرَ - إِلَى أَنَّ تَقَادُمَ التَّنْفِيذِ بَعْدَ الْقَضَاءِ، يُسْقِطُ الْقَطْعَ، لأَنَّ الْقَضَاءَ فِي بَابِ الْحُدُودِ إِمْضَاؤُهَا، فَمَا لَمْ تمْضِ فَكَأَنَّهُ لَمْ يَقْضِ، وَلأَنَّ التَّقَادُمَ فِي التَّنْفِيذِ كَالتَّقَادُمِ فِي الإِثْبَاتِ بِالْبَيِّنَةِ، فَإِذَا حَكَمَ عَلَيْهِ بِالْقَطْعِ بِشُهُودٍ فِي السَّرِقَةِ، ثُمَّ انْفَلَتَ، فَأُخِذَ بَعْدَ زَمَانٍ، لَمْ يُقْطَعْ؛ لأَنَّ حَدَّ السَّرِقَةِ لاَ يُقَامُ بِحُجَّةِ الْبَيِّنَةِ بَعْدَ تَقَادُمِ الْعَهْدِ، وَالْعَارِضُ فِي الْحُدُودِ بَعْدَ الْقَضَاءِ قَبْل الاِسْتِيفَاءِ كَالْعَارِضِ قَبْل الْقَضَاءِ.»

الفتاوى الهندية (٢/ ١٨٣): «وَإِذَا حُكِمَ عَلَيْهِ بِالْقَطْعِ بِشُهُودٍ فِي السَّرِقَةِ ثُمَّ انْفَلَتَ، أَوْ لَمْ يَكُنْ حُكِمَ عَلَيْهِ حَتَّى انْفَلَتَ فَأُخِذَ بَعْدَ زَمَانٍ لَمْ يُقْطَعْ، وَإِنْ اتَّبَعَهُ الشُّرَطُ فَأَخَذُوهُ مِنْ سَاعَتِهِ قُطِعَتْ يَدُهُ، كَذَا فِي الْمَبْسُوطِ.»

٢ - الفتاوى الهندية (٢/ ١٧٨): «وَإِذَا قُطِعَتْ يَدُ السَّارِقِ، وَرَدَّ الْمَتَاعَ عَلَى صَاحِبِهِ ثُمَّ سَرَقَهُ مَرَّةً أُخْرَى لَمْ يُقْطَعْ عِنْدَنَا اسْتِحْسَانًا، كَذَا فِي الْمَبْسُوطِ. وَكَذَا لَوْ سَرَقَهُ مِنْهُ سَارِقٌ آخَرُ لَمْ يَكُنْ لَهُ، وَلَا لِرَبِّ الْمَالِ أَنْ يَقْطَعَ السَّارِقَ الثَّانِيَ، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ.

الْأَصْلُ أَنَّهُ إذَا لَمْ تَتَبَدَّلْ الْعَيْنُ، وَكَانَ بِحَالِهِ لَا يُقْطَعُ ثَانِيًا عِنْدَنَا، وَإِنْ تَبَدَّلَتْ عَيْنُهُ قُطِعَ كَمَا لَوْ كَانَ قُطْنًا فَصَارَ غَزْلًا، أَوْ كَانَ غَزْلًا فَصَارَ ثَوْبًا فَإِنَّهُ يُقْطَعُ بِالْإِجْمَاعِ، كَذَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ»

٣ - الفتاوى الهندية (٢/ ١٨٣): «وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ إلَّا أَنْ يَحْضُرَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ فَيُطَالِبَ بِالسَّرِقَةِ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - أَقْطَعُهُ، وَالصَّحِيحُ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ، كَذَا فِي زَادِ الْفُقَهَاءِ. وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الشَّهَادَةِ، وَالْإِقْرَارِ عِنْدَنَا، وَكَذَا إنْ غَابَ عِنْدَ الْقَطْعِ عِنْدَنَا، كَذَا فِي الْهِدَايَةِ.»

یو غل کور ته ننوځي او مال را وباسي، تر نیولو وروسته نه معلومېږي چې کوم یو داخل شوی، په یاد صورت کې حد ساقط دی، دواړو ته تعزیر ورکول کېږي.[۱]

**په حد کې شفاعت:**

که قضیه قاضي ته نه وي پورته شوې، مرافعه کونکي ته د سارق شفاعت جائز دی، ترڅو هغه قضیه قاضي ته پورته نه کړي، البته که قضیه قاضي ته پورته شي، بیا شفاعت جائز نه دی.[۲].

**په غلا کې شرکت:**

د سارق په داسې شریک چې حرز ته د سارق سره داخل شي حد جاري کېږي، وروسته که مادي کومک وکړي، لکه: سارق ته مسروق ور په شا کړي او که معنوي کومک وکړي، لکه: پیره او داسې نور یا د حرز څخه د مسروق د انتقال نظارت کوي، په دغو ټولو صورتونو کې یاد کس د سارق شریک بلل کېږي، نو که په غلا کې هر یوه ته نصاب ورسېږي حد پرې جاري کېږي او که و نه رسېږي، بیا تعزیر ورکول کېږي.

همداسې د شریکانو مسئله ده، که ځینې غله د نصاب په اندازه او ځینې تر نصاب کم مسروق را وباسي، نو که په اجتماعي توګه د ټول مال څخه هر یوه ته نصاب رسېدو، په ټولو حد جاري کېږي او که ټولو ته نصاب نه رسېدو، بیا چې کومو د نصاب په اندازه مسروق را ایستلی پر هغه حد جاري کېږي او د نورو لپاره تعزیر دی.

که دوه غله سره ملګري وي، یو غل محرز ځای ته داخل شي او د لاس په ذریعه مسروق د داخل څخه را وباسي او خارج سارق یې ترې واخلي، د امام ابو حنیفه (رحمه الله) په اند پر یوه هم حد نشته؛ ځکه په دواړو کې کامل اخذ نشته، البته صاحبین (رحمهما الله) فرمایي: د داخل سارق په حق کې اخذ کامل دی او حد وربانديې جاري کېږي.[۳]

**نور بیا...**

۱ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ٦٦): «ولو نقب رجلان، ودخل أحدهما فاستخرج المتاع فلما خرج به إلى السكة حملاه جميعا ينظر: إن عرف الداخل منهما بعينه قطع؛ لأنه هو السارق لوجود الأخذ والإخراج منه، ويعزر الخارج؛ لأنه أعانه على المعصية، وهذه معصية ليس فيها حد مقدر فيعزر، وإن لم يعرف الداخل منهما لم يقطع واحد منهما؛ لأن من عليه القطع مجهول، ويعزران: أما الخارج فلما ذكرنا. وأما الداخل فلارتكابه جناية لم يستوف فيها الحد لعذر فتعين التعزير»

۲ - الموسوعة الفقهية الكويتية (۲٤/ ۳٤۲): «۷۲ - أَجْمَعَ الْفُقَهَاءُ عَلَى إِجَازَةِ الشَّفَاعَةِ بَعْدَ السَّرِقَةِ وَقَبْل أَنْ يَصِل الأَمْرُ إِلَى الْحَاكِمِ، إِذَا كَانَ السَّارِقُ لَمْ يُعْرَفْ بِشَرٍّ، سِتْرًا لَهُ وَإِعَانَةً عَلَى التَّوْبَةِ. فَأَمَّا إِذَا وَصَل الأَمْرُ إِلَى الْحَاكِمِ، فَالشَّفَاعَةُ فِيهِ حَرَامٌ، لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأُسَامَةَ - حِينَمَا شَفَعَ فِي الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ -: أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ وَقَدْ رُوِيَ أَنَّ الزُّبَيْرَ بْنَ الْعَوَّامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَقِيَ رَجُلاً قَدْ أَخَذَ سَارِقًا، فَشَفَعَ فِيهِ، فَقَال: لاَ، حَتَّى أَبْلُغَ بِهِ الإِمَامُ، فَقَال الزُّبَيْرُ: إِذَا بَلَغَ الإِمَامَ فَلَعَنَ اللَّهُ الشَّافِعَ وَالْمُشَفِّعَ.»

۳ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ٦٦): «وأما التسبب فهو أن يدخل جماعة من اللصوص منزل رجل، ويأخذوا متاعا ويحملوه على ظهر واحد، ويخرجوه من المنزل: فالقياس أن لا يقطع إلا الحامل خاصة، وهو قول زفر، وفي الاستحسان يقطعون جميعا ... (وجه) الاستحسان: أن الإخراج حصل من الكل معنى؛ لأن الحامل لا يقدر على الإخراج إلا بإعانة الباقين وترصدهم للدفع، فكان الإخراج من الكل من حيث المعنى.»

الموسوعة الفقهية الكويتية (۲٤/ ۳۳۰): «٥۱ - يَرَى الْحَنَفِيَّةُ أَنَّ كُل مَنْ دَخَل الْحِرْزَ يُعْتَبَرُ شَرِيكًا فِي السَّرِقَةِ سَوَاءٌ قَامَ بِعَمَلٍ مَادِّيٍّ، كَأَنْ وَضَعَ الْمَسْرُوقَ عَلَى ظَهْرِ زَمِيلِهِ فَأَخْرَجَهُ مِنَ الْحِرْزِ، أَوْ قَامَ بِعَمَلٍ مَعْنَوِيٍّ، كَأَنْ وَقَفَ لِلْمُرَاقَبَةِ أَوْ لِلإِشْرَافِ عَلَى نَقْل الْمَسْرُوقِ مِنَ الْحِرْزِ، وَفِي هَذِهِ الْحَالَةِ يُقَامُ الْحَدُّ عَلَى الْجَمِيعِ إِذَا بَلَغَ نَصِيبُ كُلٍّ مِنْهُمْ نِصَابًا، أَمَّا إِذَا كَانَتْ قِيمَةُ الْمَسْرُوقِ لاَ تَكْفِي لِيُصِيبَ كُل وَاحِدٍ نِصَابًا، فَلاَ يُقَامُ الْحَدُّ، بَل يَنْتَقِل إِلَى التَّعْزِيرِ. وَيَنْطَبِقُ نَفْسُ الْحُكْمِ عَلَى الشُّرَكَاءِ إِذَا أَخْرَجَ بَعْضُهُمْ مَا قِيمَتُهُ نِصَابًا فَأَكْثَرَ، وَأَخْرَجَ الْبَعْضُ الآْخَرُ مَا قِيمَتُهُ دُونَ النِّصَابِ، فَإِذَا بَلَغَتْ قِيمَةُ الْمَسْرُوقِ مَا يَكْفِي لأَنْ يَخُصَّ كُل وَاحِدٍ مِنْهُمْ نِصَابٌ، قُطِعُوا جَمِيعًا، وَإِنْ لَمْ يَبْلُغْ حَظُّ كُل وَاحِدٍ نِصَابًا، قُطِعَ مَنْ



# د سترې محکمې د ۱۴۴۶ هـ ق

الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدنا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

امابعد:

فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

۱- فقد قال الله تبارک و تعالی : (إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُم أَنْ تُؤَدُّوا الأَمانَاتِ إِلى أَهْلِها وَ إِذا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ) الایة

۲- وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُمْ بِالْقِسطِ ج إِنّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ. الایة

۳- وَلَا يَجرِ مَنّكُم شَنَآنُ قَومٍ عَلَى أَلّا تَعدِلوا اعدِلُوا هُوَ أَقربُ لِلتّقوَى وَاتّقُوا اللهَ إِنّ اللهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعمَلُونَ . (۸ مائده)

امابعد: درنو لوستونکو او د افغانستان مسلمان ولس ته تر هر څه وړاندې!

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

په خورا درنښت، ویاړ او ژمنتیا سره د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې مشرتابه، قضائي او اداري مسؤولینو له لوري، د عدالت د تأمین، د ملت د حقوقو د خوندیتوب او د شرعي نظام د پیاوړتیا په موخه د تېر یوه کال د مهمو کړنو او لاسته راوړنو راپور درته وړاندې کوو.

**درنو لوستونکو!** عدالت د الهي نظام هغه بنسټ دی چې د ټولنې وجود پرې ولاړ دی. کله چې په یو ټولنیز نظام کې د عقل، مال، عزت او ناموس د ساتنې ضمانت نه وي، هلته د انسان کرامت تر پښو لاندې کېږي؛ خو د اسلامي شریعت د نافذو اصولو پر بنسټ رامنځته شوی عدالت، نه یوازې د انسان؛ بلکې د ټولې ټولنې د سلامتی، امن، او انسجام ضامن دی.

تاریخونه دا ښيي چې هر هغه نظام چې د الهي احکامو پر بنسټ نه وي ولاړ او د قضاء عادلانه بنسټونه په کې کمزوري وي، هغه نظام د ظلم، بېنظمی او حق ضایع کولو په لور درومي.

کله چې د قضاوت واک د هوا او هوس تابع شي، قانون یوازې پر کمزورو تطبیق شي او ځواکمن ترې ځان مستثنی وبولي؛ نو دا د ملت د بېباورۍ او د نظام د زوال پیل وي.

عدالت هغه الهي اصل دی چې د آسمانونو او ځمکې قیام ور پورې تړل شوی، هماغه اصل چې د ټول بشریت لپاره بېتفاوته، بېتعصبه او بېاستثنا ارزښت لري. دا اصل د انبیاوو (علیهم السلام) د رسالت یوه مهمه موخه او د اسلامي تمدن د بقاء بنسټ دی.

له همدې امله قضاوت د اسلامي نظام یوه سپېڅلې او مستقله ستنه ده، چې یوازې د اهلیت، امانت، تقوا او دیانت خاوندان باید پرې تکیه وکړي. د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې له مقدسې فتحې راهیسې په پوره تدبیر، شفافیت او ژمنتیا سره هڅه




# کــــــــــــــال لاسته راوړنې

کړي، چې قضائي نظام د فساد، تعصب او ناقانونه نفوذ څخه وساتي او د شریعت پر بنسټ د عدالت ډېوه روښانه او بله وساتي.

**درنو لوستونکو!** نن ورځ، دا افتخار لرو چې د دغه مجلې له لارې د سترې محکمې د کلنیو لاسته راوړنو په وسیله، تاسو ته دا څرگنده کړو چې زموږ هڅې، لاسته راوړنې، کړنې او د اصلاحاتو لړۍ څومره مهم دي او د الهي عدالت د تحقق په لار کې څومره ژمنتیا شوې ده سترې محکمې، د افغانستان په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې خپل قضائي فعالیتونه ترسره کړي او له قضائي عدالت څخه د برخمنېدو حق یې تر ټولو ولس پورې رسولی دی.

ټولو درنو د ملک اوسېدونکو ته دا ډاډ ورکوو چې کولای شي د خپل حق د ترلاسه کولو په موخه، په ډاډه زړه محاکمو ته مراجعه وکړي؛ ځکه دا محکمې د عدالت د تأمین، شرعي پرېکړو ادرسونه دي.

دغه راز، ستره محکمه ژمنه کوي چې د قضائي خدماتو اسانتیاوې نورې هم پراخې کړي، د خلکو لپاره اسانه، شفاف، د ډاډ وړ او پر شرعي اصولو ولاړ قضائي خدمات وړاندې کړي، ترڅو عدالت یوازې شعار نه؛ بلکې عمل وي.

## ۱ د سترې محکمې تشکیلاتي جوړښت او فعالیتونه:

د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه، د قضائي عدالت د تأمین تر ستر مسؤولیت لاندې، د ملک په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې په فعال او دوامدار ډول قضائي فعالیتونه ترسره کوي.

دغه اداره د قضائي خدماتو د پراخوالي او د خلکو د ستونزو د حل لپاره نه یوازې ژمنه ده؛ بلکې د موجوده امکاناتو او ظرفیتونو پر بنسټ، په مسلسل ډول د قضائي سیستم اصلاح او پیاوړتیا ته عملي گامونه پورته کوي.

په تشکیلاتي جوړښت کې، ستره محکمه څلور (۴) معاونیتونه لري: دوه (۲) یې قضائي (یوه په مرکز او بل په جنوب لوېدیځ زون کې)، یو (۱) نظامي معاونیت او یو (۱) اداري معاونیت. همداراز، دغه اداره دوه (۲) د تمیز عالي ریاستونه لري، چې هر یو یې پر پنځو (۵) دېوانونو مشتمل دی؛ یو د تمیز ریاست په مرکز او بل یې په جنوب لوېدیځ زون کې فعال دی.

په مجموع کې، ستره محکمه نولس (۱۹) ریاستونه لري، چې له ډلې یې دولس (۱۲) قضائي او اووه (۷) اداري ریاستونه دي. د یادولو وړ ده چې د تېرو کلونو په پرتله، د سترې محکمې مشرتابه د اصلاحاتو د راوستلو په موخه، د قضائي، اداري او د قضاتو د محافظتي قطعې په تشکیلاتو کې مهم بدلونونه راوستي دي.

په ۱۴۴٦ هجري قمري کال کې د سترې محکمې

مجموعي تشکيل ديارلس زره، پنځه سوه شپږدېرش (۱۳۵۳۶) بستونه دي، چې له دې جملې:

- دوه زره نه سوه درې نوي (۲۹۹۳) يې قضائي؛
- څلور زره، څلور سوه نه ويشت (۴۴۲۹) يې اداري؛
- او شپږ زره، يو سل او څلوارلس (۶۱۱۴) يې د قضاتو د محافظتي قطعې تشکيلات دي.

له دې سره همهاله، سترې محکمې د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو او ولسواليو کې د اړتيا پر اساس د محاکمو يو شمېر څانګې فعالې کړې دي، چې له مخې يې:

- ۳۴ ملکي مرافعه محاکم (هره يوه پر پنځو ديوانونو مشتمله)؛
- ۳۴ ښاري ملکي ابتدائيه محاکم (هم پر پنځو ديوانونو مشتمله)؛
- او ابتدائيه ملکي محاکم په ۴۲۲ ولسواليو کې فعاليت ترسره کوي.

په دې سربېره، په ټول ملک کې د ځمکو د غصب د مخنيوي څلور (۴) څانګړې محکمې موجودې دي او په کابل ولايت کې د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره يوه فعاله ابتدائيه محکمه شتون لري چې دوه رسمي ديوانونه لري. د نشه‌يي توکو اړوند قضيې په نورو ولايتونو او ولسواليو کې، د هغو اړوندو محاکمو له لوري څېړل کېږي.

## ۲ د نظامي محاکمو په برخه کې:

- د نظامي مرافعه محاکمو شمېر شپږ (۶) دي، چې د لومړۍ درجې په ولايتونو کې موقعيت لري؛
- د نظامي ابتدائيه محاکمو شمېر اته (۸) دي، چې په نولسو (۱۹) ولايتونو کې څانګې لري؛
- او د نظامي منسوبينو لپاره په تميز او مرافعه محکمو کې د نظامي منسوبينو ديوان هغه دوسيې څېړي.

د يادونې وړ ده چې د قضا د څانګرو اړتياوو په پام کې نيولو سره، د حکومتي کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د تطبيق او ځانګړې پاملرنې لپاره يوه اختصاصي محکمه هم رامنځته شوې چې پر درېو (۳) ديوانونو مشتمله ده او فعاليت يې پيل کړی دی.

همداراز، د تېرې اداري د ناتطبيق شويو فيصلو د ارزونې او څېړنې لپاره، په ټولو ۳۴ ولايتونو کې له وړاندې جوړې شوې اختصاصي محکمې لا هم په برياليتوب سره خپل فعاليتونه ترسره کوي، چې د خلکو ډېرې ستونزې يې حل کړې دي.

د قضائي خدماتو د لا ښه‌والي، په ټاکلي وخت د خلکو د قضيو حل او د شکايتونو د کمښت په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د ځانګړي حکم له مخې، د محاکمو د اجراآتو لپاره ځانګړې مودې ټاکل شوې دي: چې په لاندې ډول دي

1. **ابتدائيه محاکم** مکلف دي چې قضيې له يوې نيمې مياشتې ډېرې ونه ځنډوي او که قاضي معقول شرعي عذر ولري، بايد سترې محکمې ته يې وړاندې کړي.
2. **مرافعه محاکم** بايد خپلې قضيې د شلو ورځو څخه تر يوې مياشتې پورې حل کړي.
3. **د تميز رياستونه** هم مکلف دي چې خپلې دوسيې تر يوې مياشتې پورې حل او فصل کړي.

د دې حکم تطبيق، نه يوازې د خلکو د ستونزو د چټک حل سبب شوی؛ بلکې د رضايت کچه يې هم لوړه کړې او د اسلامي عدالت د ژمنتيا ښکارندويي کوي.

## ۳ د درې ګونو محاکمو د اجراآتو احصائيوي لاسته راوړنې:

د سترې محکمې د قضائي فعاليتونو د دوامدارې ارزونې او په قضائي چارو کې د شفافيت د تامين په موخه، د ملک د ټولو (۳۴) ولاياتو د محاکمو د اجراآتو احصائيوي معلومات په منظم، ربعوار او کلني ډول راټول شوي، د معلوماتو ډېټابېس ته داخل؛ تر توحيد، ترتيب او تحليل وروسته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی)

محترم مقام ته او نورو اړوندو مقاماتو سره د بعدي تدبير او تصميم نيونې لپاره شريک شوي دي.

د معلوماتو له مخې، د هېواد **ابتدائيه، مرافعه او تميز** درې ګونو ملکي او نظامي محاکمو ته **دوه لکه پنځه نوي زره، دوه سوه يو پنځوس (۲۹۵٬۲۵۱)** قضيې واردې شوې دي.

له دې جملې دوه لکه، نهه دېرش زره، اووه سوه ،پنځه څلوېښت (۲۳۹٬۷۴۵) په ابتدائيه محاکمو کې دي، چې يو لک او نهه اويا زره، اووه سوه، شپږ ويشت (۱۷۹٬۷۲۶) ته رسېدنه شوې او شپېته زره، نولس (۶۰٬۰۱۹) نورې تر کار لاندې دي.

دوه دېرش زره، يو سل او اووه ديرش (۳۲٬۱۳۷) مرافعه محاکمو کې دي، له دې ډلې درويشت زره، شپږ سوه، اووه شپېته (۲۳٬۶۶۷) قضيو ته رسېدنه شوې او اته زره، څلور سوه اويا (۸٬۴۷۰) نورې تر کار لاندي دي.

څوارلس زره، نه سوه اويا (۱۴٬۹۷۰) قضيې د تميز رياستونو ته راجع شوې، چې له دې ډلې يوولس زره، دوه سوه پنځه څلوېښت (۱۱٬۲۴۵) دوسيو ته رسېدنه شوې او پاتې درې زره، اووه سوه پنځه ويشت (۳٬۷۲۵) قضيې تر کار لاندې دي.

د يادونې وړ ده چې په پورته ذکر شوو قضيو کې د نشه‌يي توکو اړوند اته زره، درې سوه نه نوي (۸٬۳۹۹) قضيې هم شاملې دي، چې اته زره، يو سل او يوويشت (۸٬۱۲۱) ته رسېدنه شوې او دوه سوه، اته اويا (۲۷۸) نورې تر کار لاندې دي.

د ملک اختصاصي محاکمو ته درې زره دوه سوه نهه اتيا (۳۲۸۹) قضيې واردې شوې چې اتلس سوه، څلورشپيته (۱۸۶۴) ته رسېدنه شوې او څوارلس سوه، پنځه ويشت (۱۴۲۵) نورې تر کار لاندې دي.

د پورته احصائيې له مخې، ښرګنديږي چې د درې ګونو محاکمو له لورې قضاياوو ته د رسېدنې بهير له ټاکلي نظم، دقيق ثبت، قانوني تحليل، او مناسبې اجرا سره پرمخ تللی، چې نه يوازې د قضائي نظام د کارکردګۍ ښکارندويي کوي، بلکې د خلکو د اعتماد د لا پياوړتيا، د عدالت د تامين، او د ادارې د شفافيت ښکاره نښه هم ده.

د سترې محکمې د مشرتابه ژمنه دا ده چې دا بهير به نه يوازې په همدې قوت سره روان ساتل کېږي، بلکې د نوي ميتود، ټکنالوژۍ، او لا اغېزناکو تدابيرو په مټ، د قضائي عدالت د تحقق او تامين لپاره نور هم پياوړی شي.

## ۴ د احکامو، فرامينو او مصوباتو د تطبيق او معلوماتو غوښتلو په برخه کې:

- د سترې محکمې د عالي مقام د لارښوونو په رڼا کې، د احکامو، فرامينو، مصوباتو د تطبيق او معلوماتو د غوښتلو په برخه کې لاندې مهم اجراآت ترسره شوي دي:
- د ۱۴۴۶ هـ ق کال په اوږدو کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) فرمانونه، حکمونه او د اسلامي امارت د کابينې څلورسوه شل **۴۲۰ قطعې** مصوبات سترې محکمې ته رارسېدلي، چې د سترې محکمې د عالي مقام د هداياتو سره سم پرې اصولي او لازم اجراآت شوي دي. د رياست‌الوزراء، وزارتونو، امارتي او غير امارتي بنسټونو، شرکتونو، ادارو او بانکونو لخوا سترې محکمې ته ګڼ شمېر مکتوبونه راغلي، چې د عالي مقام د هدايت پر اساس اړوند ادارو ته لېږل شوي او اجراآت پرې شوي دي.
- د ملک د (۳۴) ولاياتو د محاکمو او د مرکزي رياستونو لخوا سترې محکمې ته د صلاحيت د سپارلو، استهداءګانو، تجديد نظر، د محکمې د تبديلۍ او د لارښوونو د غوښتلو په موخه ګڼې دوسيې سپارل شوې، چې د عالي مقام د هداياتو سره سم پرې اصولي اجراآت ترسره شوي دي.

د (۳۴) ولایاتو د مرافعه محاکمو، د ځمکو د غصب د مخنیوي محاکمو، د غصب د مخنیوي کمېسیون او نورو امارتي ادارو لخوا شپږسوه او څلورویشت( ۶۲۴) **قطعي مکتوبونه** د قبالو او نورو حقوقي اسنادو او وثایقو په اړه د معلوماتو غوښتلو په موخه سترې محکمې ته رالېږل شوي، چې د مقررو او اصولو له مخې پرې لازم اجراآت شوي دي.

## ۵ د سترې محکمې عالي شورا:

د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د عالي شورا (۴۶) غونډې شوې، چې د یوسل او شپږ نوي (۱۹۶) بېلابېلو موضوعاتو په تړاو په کې پرېکړې شوې دي.

**د زندانیانو د چارو په برخه کې:**

- د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د حکم په اساس د کوچني او لوی اختر په مناسبت څلور زره دوه ویشت(۴۰۲۲) زندانیان له بنده آزاد شوي او څلور زره ،یوسل او دوه (۴۱۰۲) نورو بندیانو ته د بند په موده کې تخفیف ورکړل شوی دی.

## ۶ د محاکمو د څارنې، اصلاح، او ولسي ستونزو ته د رسېدنې او همغږۍ بهیر:

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د ځانګړي حکم پر بنسټ، د محاکمو د چارو د څارنې، اصلاح، د قضائي خدماتو د ښه‌والي او شفافیت، د مسلکي کسانو د ګمارنې او دغه راز د محاکمو او نورو امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د ټینګښت، د همکاریو پیاوړتیا او د خلکو ستونزو ته د چټکې رسېدنې په موخه، د سترې محکمې د رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب (حفظه‌الله) په مشرۍ د مل پلاوي له لوري یو شمېر محاکمو ته رسمي سفرونه شوي دي.

**د میاشتې د لیدلو مرکزي کمېټې فعالیت:** د سترې محکمې تر مشرۍ لاندې د میاشتې لیدو کمېټه منظم فعالیت لري، پر خپل وخت غونډې ترسره کوي او ولس ته د میاشتې لیدلو دقیق معلومات ورکوي.

**د محکمې د تبدیلی، تجدیدنظر، عرایضو، شکایتونو او متفرقه موضوعاتو ته د رسیدنې په برخو کې:**

د ۱۴۴۶ هـ ق کال په ترځ کې، د سترې محکمې له لوري د جزائي، مدني، تجارتي، فامیلي او متفرقه قضائي موضوعاتو په ګډون، مجموعاً پنځه زره اته سوه دري نوي (۵۸۹۳) بېلا بېلو قضائي او اداري موضوعاتو ته اصولي رسېدنه شوې ده؛ چې په دې کې:

- دوه زره پنځه سوه او څلورشپېته (۲۵۶۴) د محکمې د تبدیلۍ غوښتنې موضوعات؛
- شپږ سوه او یو (۶۰۱) د تجدیدنظر او عرایضو د ارزونې موضوعات؛
- یوزر او څلور سوه او نوي (۱۴۹۰) استهداآت (د فتوا غوښتنې) موضوعات؛
- اته سوه دیارلس (۸۱۳) د شکایتونو اړوند موضوعات؛
- او یو زر او نه دیرش (۱۰۳۹) متفرقه موضوعات شامل دي.

په یادو برخو کې د اصولي اجراآتو ترځنګ، د اړتیا له مخې د ملک ټولو محاکمو ته متحدالمآلونه هم استول شوي دي، څو د قضائي اجراآتو د انسجام او یوشان والي تضمین وشي.

## ۷ د افتاء او استفتاآتو په برخه کې:

په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې، (۷۱) استفتاوو ته چې د بېلابېلو ادارو له خوا را استول شوي وې، د شریعت او حنفي فقهې په رڼا کې شرعي ځوابونه چمتو او لېږل شوي دي.

د یادونې وړ ده چې د فتواوو د چارو د لا ښه تنظیم ،تسریع او وظیفوي تداخل دمخنیوي په موخه، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د حکم له مخې، دارالافتاء ریاستونه په دوو برخو وېشل شوي دي:

**لومړی برخه د سترې محکمې دارالافتاء:** چې د سترې محکمې تر چتر لاندې فعالیت کوي او په ځانګړې توګه د محاکمو اړوند استفتاآتو ته رسېدنه کوي.

**دویمه برخه مرکزي دارالافتاء:** چې له محاکمو پرته د نورو ادارو، وزارتونو او ارګانونو استفتاآتو ته ځوابونه برابروي.

په دې سره له یوې خوا د فتواوو په برخه کې د کاري حجم متوازن وېش شوی او له بلې خوا یې د عامو خلکو او امارتي ادارو ستونزو ته په کم وخت کې شرعي او مسلکي ځوابونه برابرېږي.

## ۸ د فیصلو صلحې او تطبیق:

د ۱۴۴۶ هـ ق کال په اوږدو کې د محاکمو له خوا د زرګونو حقوقي قضیو، په ځانګړې ډول د قطعي او نهایي فیصله‌نامو، تطبیق او تنفیذ عملي شوی دی؛ د حقوقي پرېکړو د اجرا، د دعوو د اصلاح او د پایلو د تطبیق په برخه کې مؤثر او عملي اقدامات ترسره شوي دي، څو د عدالت تأمین تضمین شي.

همداراز، د قضیو د زیاتوالي د مخنیوي، د خلکو د رضایت د لوړولو او د قضائي چارو د چټکتیا په موخه، د صلحې له لارې (۵۷،۹۱۹) **اووه پنځوس زره، نه سوه نولس** قضیې حل او فصل شوې دي، چې دا د قناعت او تفاهم پر بنسټ د شخړو د حل یو مهم اقدام ګڼل کېږي.

په دې سربېره، په تېر یوه کال کې د هېواد د ټولو (۳۴) ولایتونو په کچه، مجموعاً (۲۳۹،۰۶۳) **دوه لکه، نه دیرش زره او درې شپېته** حقوقي عرایضو ته رسېدنه شوې ده.

## ۹ په قضائي او اداري برخو کې د اړوند کارکوونکو ظرفیت لوړونه:

په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د سترې محکمې له لوري د قضائي او اداري ظرفیت د لوړولو په هدف ګڼ شمېر روزنیز پروګرامونه او مسلکي سیمینارونه تنظیم او تطبیق شوي دي.

**الف: قضائي برخه کې ظرفیت لوړونه:** په دې لړ کې، د ملک د (۳۴) ولایتونو اړوند محاکمو لپاره نوي مقرر شوي (۳۶۴) قاضیانو، مفتیانو او محررینو ته ځانګړي علمي او مسلکي روزنیز پروګرامونه جوړ شوي.

**ب: په اداري برخه کې ظرفیت لوړونه:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د سترې محکمې (۲۵۲۹) اداري کارکوونکو ته د رهبرۍ او مدیریت، اداري او کمپیوټر اړوند مهارتونو تر عنوان لاندې تخصصي سیمینارونه جوړ شوي دي.

## ۱۰ د مقرراتو او قانوني اسنادو د تحلیل او ترتیب راپور:

په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د افغانستان اسلامي امارت د وزارتونو او امارتي خپلواکو ادارو له خوا ترتیب شوې (۳۵) مقررې او اصولي سندونه، د اصولي سندونو د نهایي کتنې خپلواک کمېسیون لخوا د تحلیل، ارزونې او حقوقي اصلاح په موخه وکتل شول او د توشېح لپاره د مشرتابه محترم عالي مقام ته واستول شول.

دغه راز، د سترې محکمې د لوړ رتبه مسلکي پلاوي لخوا ( ۱۷) ډوله مسودې، قوانین او کړنلارې ترتیب شوې، چې د قضائي نظام د لا پیاوړتیا، انسجام او حقوقي وضاحت لپاره مهم ګام ګڼل کېږي.

په دې سربېره، د بېلا بېلو اداري او قضائي موضوعاتو په تړاو، (۷۰) تدقیقي او مطالعاتي نظریات د اړوند ادارو غوښتنو ته په ځواب کې چمتو او وړاندې شوي دي، چې یاد نظریات د قضائي چارو د روښانه تفسیر، تطبیق او شفافې تصمیم نیونې لپاره ارزښتناک اسناد ګڼل کېږي.

## ۱۱ د قضائي تفتیش په برخه کې:

په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې، د سترې محکمې د قضائي تفتیش مسؤولینو له لوري د قضاء په چارو کې د

شفافیت، د خلکو د رضایت ترلاسه کولو او د نواقصو او خلاوو د رفع کولو په موخه د محاکمو عادي او اقتضائي تفتیش ترسره کړی دی چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**الف ـ عادي تفتیش:**

- د سترې محکمې د قضائي تفتیش مسؤولینو له لوري د ملک د (۳۴) ولایتونو د محاکمو تفتیش او حقوقي ارزونه ترسره شوې ده. د محاکمو د عادي تفتیش عمده موخه د قضائي چارو شفافیت، د سترې محکمې د عالي شورا د اصولو او مقرراتو تطبیق او د خلکو شکایتونو ته رسېدنه ده، چې د یادو تفتیشونو راپورونه د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شوي دي.
- دغه راز، د سترې محکمې د قضائي مفتشینو له لوري د ولایتونو له زندانونو او توقیفخونو څخه لیدنې او تفتیش ترسره شوی، چې له مخې یې د زرګونه زندانیانو ستونزې، شکایتونه او وړاندیزونه راټول او د سترې محکمې محترم عالي مقام سره شریک شوي دي، چې په اړه یې اصولي اقدامات ترسره شوي دي.

**ب ـ اقتضائي تفتیش:**

د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت له مخې، د مرکز او ولایتونو د محاکمو د اجراآتو (۱۰۰۰) اقتضائي موضوعات د ارزونې او تفتیش لپاره د قضائي تفتیش څانګې ته راجع شوي دي چې له یادو موضوعاتو څخه (۸۸۷) موضوعات د نافذه اصولو او مقرراتو مطابق څېړل شوي، تفتیش یې شوی او په اړه یې لازم اجراآت ترسره شوي دي. پاتې موضوعات تر کار لاندې دي.

## ۱۲ د وثایقو په برخه کې:

د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د ټولو ولایاتو محاکمو یو لک، دوه نوي زره، نه سوه اته (۱۹۲۹۰۸) قطعي وثایق اجرا کړي دي.

## ۱۳ د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو په برخه کې:

د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۶ هجري قمري کال په جریان کې یو لړ مهم، ګټور او اغېزناک فعالیتونه ترسره کړي دي، چې د قضائي نظام د لا ښه معرفت، د قضائي بنسټونو د شفافیت او د عامه پوهاوي د لوړولو په برخه کې ارزښتناک رول لري، چې مهم فعالیتونه یې لاندې ذکر شوي:

**د بهرنیو اړیکو پراختیا او همغږي:**

په بېلابېلو موضوعاتو کې له نړیوالو بنسټونو او په کابل کې مېشتو سفارتونو سره د همغږۍ ګڼ شمېر ناستې تنظیم شوې، چې له مخې یې د سترې محکمې د دریځ، اهدافو او فعالیتونو اړوند وضاحت ورکړل شوی؛ له داخلي او خارجي رسنیو سره دوامداري اړیکې ساتل شوې دي.

**چاپي خپرونې:**

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د قضاء مجلې څلور ګڼې (له شپږمې تر نهمې ګڼې) او د میزان جریدې ۳۲ ګڼې (له ۷۰ تر ۱۰۳مې ګڼې) چاپ او د هېواد اړوندو محاکمو، وزارتونو او بېلابېلو امارتي ادارو ته وېشل شوې دي.

**د محاکمو د فعالیتونو خپرول او ولسي پوهاوی:**

- ورځني خبرونه: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د هېواد په رسمي ژبو (پښتو او دري) سربېره په انګلسي او عربي ژبو شاوخوا (۱۵۰۰) خبرونه جوړ او نشر شوي دي.
- ستره محکمه په اونۍ کې: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې په څلورو ژبو (۱۴۴) خپرونې ثبت، اډیټ او نشر شوې دي.
- د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو پېژندنه: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو د پېژندنې (څلور) ځانګړې خپرونې ثبت، اډیټ او نشر شوې دي.

- ولس او قضاء: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د ولس او قضاء (۹) خپرونې ثبت، اډیټ او نشر شوې دي.
- انفوګرافیک: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د درې ګونو محاکمو د قضائي اجراآتو اړوند (۵۱۰) انفوګرافیک جوړ او په رسمي ادرسونو نشر شوي دي.
- د اجراآتو خلاصه: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د محاکمو د نشر شوو خبرونو خلاصه (۷۶۱) ډیزاینونه جوړ او نشر شوي دي.
- د رؤیت هلال کمېټې اعلامیې: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د رؤیت هلال مرکزي کمېټې د ۱۲ ناستو وروستي اعلان د اعلامیې په ډول ډیزاین او نشر شوي دي.
- خبري کلېپونه: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د رسنیو د تقاضا او اړتیا په صورت کې شاوخوا (۲۵) خبري کلېپونه ثبت او د نشر په موخه بېلا بېلو رسنیو ته لېږل شوي دي.
- د توزیع برخه کې: د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د میزان جریدې (۴۸۰۰۰) جلده او د قضاء مجلې (۶۰۰۰) جلده بېلا بېلو ادارو، د وزارتونو د نشراتو ریاستونو، خپلواکو ادارو، مرافعه، نظامي، ښاري ابتدائیه او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو، په ولایتونو کې د عدلیې، اطلاعات او کلتور ریاستونو او ولایت مقام ته توزیع شوې دي.

**د قضاء کتابتون عصري کول او علمي منابعو ته لاس‌رسی:**

د سترې محکمې قضاء کتابتون په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې په عصري ډول ډیزاین او ترتیب شو، چې په کې له شپږ زره زیات د تفسیر، حدیث، فقهې، حقوقو او نورو برخو اړوند کتابونه ثبت او ډیټابیس ته اندراج شول.

## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو په برخه کې:

**۱- د محاکمو امنیت ته ژمنتیا:**

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو قطعه، چې د سترې محکمې د قضائي او اداري پرسونل د امنیت مسؤولیت لري، د ملک د ۳۴ ولایتونو په محاکمو کې یې د امنیت د تأمین په برخه کې ارزښتناک رول ترسره کړی دی. د یادې قطعې د هڅو په پایله کې، د تېر یوه کال په موده کې نه په مرکزي او نه هم په ولایتي محاکمو کې امنیتي پېښه رامنځته شوې، چې دا د امنیتي قطعې د مجاهدینو د ښه فعالیت څرګند ثبوت دی.

**۲- په نظامي برخه کې د امنیتي قطعې د مجاهدینو د ظرفیت لوړونې په برخه کې:**

د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د خالد بن ولید (رضی‌الله‌عنه) معسکر له لارې، د سترې محکمې د امنیتي قطعاتو د مجاهدینو د روزنې او مسلکي ظرفیت لوړونې په موخه، یو لړ نظامي، مسلکي او تعلیمي پروګرامونه جوړ او شاوخوا ٦۳۰ مجاهدینترې فارغ شوي دي. په دې سربېره د نظامي قطعاتو اداري پرسونل ته هم د مسلکي مهارتونو د لوړونې په برخه کې یو شمېر سیمینارونه او روزنیز پروګرامونه جوړ شوي دي.

دغه راز د یاد ریاست اړوند امنیتي مجاهدینو ته په روغتیایي، تخنیکي، تعلیمي، ښوونیز او د نظامي زده کړو لپاره د میدان جوړولو او نورو برخو کې لازم خدمات ترسره شوي دي.

**۱. مالي، معاشاتي او عایداتي چارې:**

- د مرکز او ولایتونو د کارکوونکو میاشتني معاشونه منظم اجرا شوي.
- له فتحې څخه مخکې د عادي بودیجې (۵،۷۹۳،٦۷۴) پنځه میلیون، اووه سوه درې نوي زره، شپږ سوه څلور اویا افغانۍ او د انکشافي بودجې (۴۹،۰۰۵) نهه څلوېښت زره او پنځه افغانۍ پاتې مقروضیتونه اجرا شوي دي.
- د زاړه سامان آلاتو او داغمه موټرو د لیلام له لارې (۲،۹۷۳،۵۰۰) دوه میلیون، نهه سوه درې اویا زره، پنځه سوه افغانۍ عواید ترلاسه او د اسلامي امارت خزانې ته انتقال شوي دي.

- د ستري محكمې لپاره د ماليې وزارت لخوا د (۱،۰۰۰،۰۰۰) يو ميليون افغانۍ عوايدو پلان ټاکل شوی و؛ خو ستره محكمه توانبدلې چې (۵،۰۹۳،۳۰٦.۱۱) پنځه ميليون، درې نوي زره، درې سوه شپږ اعشاريه، يوولس افغانۍ عوايد راټول او د امارت خزانې ته انتقال کړي.

**۲. د اسنادو چاپ، وېش او سيستم سازي:**

- د ټول هېواد محاكمو ته (۲۱) ډوله شرعي اسناد، چې (۱۰۴،۴۰۰) يو سل څلور زره او څلور سوه نكاحخطونه، (٦،۱۱۱)شپږ زره، يو سل يوولس جلد مختلف شرعي وثايق او سل (۱۰۰) جلده شرعي قبالې په کې شامل دي، د امارتي صكوكو مطبعې له لارې چاپ او د مرکز په شمول د ملک ټولو محاكمو ته د اجرا په موخه وېشل شوي دي.
- د ستري محكمې اړوند ببلا ببلو برخو لپاره (۱۸) ډوله ډېټابېس سيستمونه جوړ شوي دي

**۳. تداركاتي، ساختماني او ترميماتي چارې:**

- د ستري محكمې مشرتابه د قضائي او اداري خدماتو د معياري کولو، بنسټيزو اسانتياوو د رامنځته کولو او پراخولو په موخه، د تېر کال په اوږدو کې پراخې ساختماني، ترميماتي او تجهيزاتي پروژې تطبيق کړې دي. په دې برخو کې د اړتيا له مخې د ستري محكمې اړوند ملكي او امنيتي برخو لپاره (۱۵) ډوله قراردادونه لاسليک شوي، له کابل ښاروالۍ سره په همغږۍ د ستري محكمې، ښار جوړولو وزارت، پوستې خانې او دربېم مكرويان بلاکونو اړوند د عمومي سړک قيرريزي او پياده رو (پلې لارې) يې جوړې شوې دي.

دغه راز په ستره محكمه، د کابل ښاري ابتدائيه محكمه، لوگر او زابل ولايتونو مرافعه محاكمو ته پنځه جوماتونه جوړ يا پراخ او ترميم شوي دي، د قضائي زده کړو رياست لپاره دوه پوره معياري جومات چې په يو وخت د (۵۰۰) لمونځ کوونکو ظرفيت لري، د کابل ښار د اوومې ناحيې اړوند وثايقو د ثبت امريت لپاره نوې ودانۍ، د سروبي، ده سبز، بگرامي، شكردرې، چهار آسياب او ميربچه کوټ ولسواليو د محاكمو لپاره ودانۍ جوړې يا ترميم شوې، سولري برېښنايي سيستمونه يې نصب او فعال شوي، د امنيتي قطعې نيمه کاره ودانۍ تكميل شوې، د برېښنا سيستمونه معياري شوي او د قضائي زده کړو رياست په انگړ کې لوی مجهز تالار جوړ شوی دی.

**۴. د نظارت، امنيت او ټکنالوژۍ برخه:**

- د امنيت د ټينگښت او د چارو د لانبهوالي په موخه د کابل ولايت د مرافعه محكمې د مخزن آمريت، د ستري محكمې د آرشيف، د څلورو زونونو د ابتدائيه محاكمو او قضائي زده کړو رياست لپاره نظارتي کامرې او امنيتي سيستمونه نصب او فعال شوي دي.
- د چارو د چټکتيا او لا همغږۍ په موخه د امنيتي چارو رياست لپاره د آي ايم ايس ( IMS) ټليفوني شبکې سيستم فعال شوی دی.

د پورته يادو شويو فعاليتونو له لارې، د ستري محكمې د مالي او اداري چارو عمومي رياست نه يوازې د قضائي او اداري خدماتو کيفيت لوړ کړی؛ بلكې د اسانتياوو پراخولو، عوايدو زياتولو، اسنادو تنظيم او بنسټيزو خدماتو په برخه کې يې گټور اقدامات هم ترسره کړي دي، چې د ستري محكمې د موخو د تحقق او عدالت د تأمين په لور يو مهم گام گڼل کېږي.




**د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې رئیس او قاضي القضات نوی علمي او جهادي اثر!**

د ستري محکمې رئیس او قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني (حفظه الله تعالی) نوی اثر، چې له وړاندې یې هم ګڼ شمېر ارزښتناک کتابونه په بېلا-بېلو دیني، علمي او فقهي موضوعاتو کې تصنیف او چاپ شوي، دا ځل د (کتاب الأربعین في الجهاد) تر عنوان لاندې د جهاد په اړه یو نوی علمي او مستند تصنیف د چاپ په ګاڼه سمبال شو.

په دې کتاب کې د جهاد اړوند مهم او ارزښتناک موضوعات ځای پر ځای شوي، لکه: د نیت اصلاح، د جهاد فضایل، د شهادت مقام، د غنیمت اهمیت، په غنیمت کې د دوکې خطرناک انجام او ګڼ شمېر نور موضوعات…

کتاب الاربعین في الجهاد د صحیحو احادیثو په رڼا کې لیکل شوی او په جهاد کې د فقهي، اخلاقي او عملي اړخونو یو مهم بیان وړاندې کوي.

یاد کتاب د ستري محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست په هڅو په ښکلي ډیزاین او اعلی صحافت کې چاپ او د لوستونکو تر لاسونو ورسېدی.

# Qaza

## Sharia - Judicial - legal

## Three monthly Journal




@supremeCourt_af
supremecourt.gov.af
publications.sc1443@gmail.com
د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه
Supreme Court of Afghanistan
2302263_2300361


د بهرنیو عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست